بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** صنعتي محاسبه

**څانګه:** محاسبه

**مولف:** محمدجان باوری

**ژباړن:** نورالله عماد

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- خادم احمد حقیقی
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.d[illegible]tvet.gov.af

**برېښنالیک:** [illegible]

**د ISBN:** [illegible]



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

ketabton.com - The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی ‌‌ ‌‌ ‌‌ دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې ‌‌ ‌‌ ‌‌ هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی ‌‌ ‌‌ ‌‌ د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو ‌‌ ‌‌ ‌‌ د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي ‌‌ ‌‌ ‌‌ پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي ‌‌ ‌‌ ‌‌ هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي ‌‌ ‌‌ ‌‌ لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به ‌‌ ‌‌ ‌‌ لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر ‌‌ ‌‌ ‌‌ وایو الله اکبر وایو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

## د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسیدو لارې چارې طی کوي او د یوه نیکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه سوکاله ژوند د اسبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپیریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هیڅ حالت کې نه نفی کېږي او نه هم منقطع کیږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپیځلي هدف ته د رسیدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپیڅلو احکامو څخه الهام اخیستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یوازې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربیون باید په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نیکمرغه افغانستان ارمان، یوازې او یوازې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کیدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کیدای شي په ډیرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، سموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیر کې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومي مننه کوم. له درنو او پیاوړو استادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نیکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

فاروق وردګ

د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک


| خپرکی | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | عمومیات | ۱ |
| دویم | دصنعتي محاسبې کتابونه او اسناد | ۷ |
| دریم | د حسابي چوکاټ پر بنسټ صنعتي محاسبه | ۱۹ |
| څلورم | د موجودۍ عمل، د بیلانس جوړونه او د حسابونو د ثبت قاعده | ۳۵ |
| پنځم | له افتتاحیه بیلانس نه د ختم تر بیلانس پورې | ۵۳ |
| شپږم | د یوه صنعتي فعالیتځي د لګښتونو او فعالیتونو سنجش | ۶۹ |
| اووم | د استهلاکونو سنجش | ۸۳ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۱۰۵ |

ketabton.com - The Digital Library

**سریزه**

حسابداري اوږد تاريخ لري. څرنګه چې بابليانو، هنديانو او روميانو له ميلاد څخه ۶۰۰ کاله مخکې له کرښو او بڼو څخه په استفادې سره، خپل مالياتي حسابونه ثبتول. د منځنيو پيړيو په وروستيو کې، په ځانګړي توګه د پنځلسمې ميلادي پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې ډېر لوی بدلونونه او پرمختګونه د صنعت په برخه کې منځته راغلل.

په دې پيړۍ کې په وينز فلورانس او د ايټاليا په نورو ښارونو کې د تجارت په امورو کې سهامي شرکتونه تأسيس شول چې د هغوی زياتره سهام په يو وګړي پورې اړوند ؤ او نورو سهم لرونکو يا شريکانو هم د اداري او محاسبوي امورو په اداره کې کار کاوه. دغو شرکتونو خپلو فعاليتونو ته د يو محصول له توليد، ورکړې او راکړې څخه يې د څو ډولو کاليو توليد او تجارت ته پراختيا ورکړه. هغوی د دې سازمانونو د ادارې لپاره د بايګاني (ساتندوی) له روش څخه د مدرکونو او د دوبل(بې حقيقته) د حسابدارۍ روش تجارتي سوابقو او د هغه په شان د نورو د ساتنې لپاره استفاده کوله. د صنعتي ځينو لاسته راوړنو او سازماني پرمختګونو سربيره چې د منځنيو پيړيو په وروستيو کې منځ ته راغلل يو هم د کښتۍ د بيلابيلو ټوټو(قطعاتو)لکه (په ټوټو شميره وهنه)، د پولي اوجنسي حسابونو ساتنه، د دوبل حسابدارۍ د روش ابداع او استقرار چې د پاسيولي (Pasioli)په مرسته په کال1340 ميلادي کې منځ ته راغی د انبار لرلو(ډيپو او تحويلخانه) لپاره له نويو روشونو څخه استفاده کول ؤ.

له همدې پلوه محاسبې نقش پيدا کړ او په پای کې په تجارتي ټولنه کې وپيژندل شوه چې حسابداري د تجارت ژبه ده. د دې ژبې پوره آشنايي او بشپړه پوهه د تجارت د پراختيا موجب او د مديرانو د ګټورو او اړينو تصميمونو د نيونې لامل کيږي.

حسابداري يو تخنيک دی. چې د هغې په مرسته د موسسو او دولتي ادارو اقتصادي تصديو اداره او منجمنت د خپلو ورځنيو ټولو معاملو په بهير کې يو تام کنترول لاسته راوړي.

د محاسبوي ارقامو تحليل، د يوې تصدۍ د منجمنت لپاره د تصدۍ د اقتصادي فعاليت طرزالعمل په اړه موثق معلومات ورکوي، د هغه په بنسټ کولای شي هغه عوامل چې د تصدۍ دبرياليتوب لامل او يا برعکس د غير اقتصادي فعاليت لامل شوی وپلټي. او د هغه په اساس خپل تصميمونه او اقتصادي پلانونه ونيسي.

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی

## عمومیات

**ټولیزه موخه:**

دحسابدارۍ بنسټیز مفاهیم

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دغه څپرکي تر زده کړې وروسته د صنعتي حسابدارۍ له بنسټیزو موضوع ګانو سره آشنا شي او همدا رنګه:

- حسابداري وپیژني.
- په صنعتي حسابدارۍ پوه شي.
- د مالي حسابدارۍ او صنعتي حسابدارۍ تر منځ توپیر وکړي.
- د صنعتي محاسبې پر ارزښت پوه شي.

**د صنعتي حسابدار تعریف:** صنعتي حسابدار هغه څوک دی، چې د تخصصي تحصیلي دورې په تیرولو سره د تولیدي ( صنعتي مؤسسو د حسابونو یا د مرکز او کارخانې په دفتر کې د تولید د پړاوونو د حسابونو ثبت تر سره کړای شي او همدا رنګه د تولیدي او خدماتي دوایرو لګښتونه او مخارج ثبت او د تولید پر هر واحد باندې د مخارجو او لګښتونو ویش ثبت او محاسبه کړي.

**د حسابدارۍ تعریف:** د یو اقتصادي واحد داړوندو مالي معلوماتو او اطلاعاتو راټولولوته، د هماغه اقتصادي واحد حسابداري وایي. یا په بل عبارت: د یو خدماتي او اقتصادي واحد د مالي معلوماتو او اطلاعاتو راټولونه ده چې په دقت سره د راکړې ورکړې میزان وښیي.

د حسابدارۍ لومړنۍ موخه په یو اقتصادي واحد پورې د اړوندو مالي اطلاعاتو راټولونه ده، چې د مالي اطلاعاتو دغه ثبت او ګزارش د ګټې اخیستونکو بیلابیلو ډلو ته وړاندې کیږي او ګټه اخیستونکي یې پر اساس خپل تصمیمونه نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

له مالي ګزارشونو او اطلاعاتو څخه ګټه اخیستونکي، لاندیني افراد او ګروپونه دي: مدیران، ونډه اخیستونکي، داینین، د مالیاتو مسئولین او ..... مدیران له مالي اطلاعاتو څخه په ګټه اخیستنې سره لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه طرح کوي، د خپل د مدیریت په حوزه کې پر مالي چارو باندې جدي کنټرول وضع کوي.
له مالي اطلاعاتو څخه نور ګټه اخیستونکي کسان (د ونډه اخیستونکو، داینینو او دمالیاتو مسئولینو په څیر)د مالي اطلاعاتو او ګزارشونو په بررسۍ او کتنې سره له یاد اقتصادي واحد سره د خپلې کړنې او د اړیکې د څرنګوالي په اړه پریکړه کوي.
په هره کچه چې له مالي اطلاعاتو څخه د ګټه اخیستونکو بیلابیلې ډلې زیاتې وي د حسابدارۍ ونډه به هم ور سره ډیر زیات او د پام وړ وي.

**د صنعتي حسابدارۍ تعریف:** صنعتي حسابداري د مدیریت د حسابدارۍ له یوې څانګې څخه ده، چې د تولیدي محصولاتو د مخارجو او لګښتونو او د تمام شوي قیمت په عواملو پورې د اړوندو اطلاعاتو د کزارش له را ټولو او ثبت سره سرو کار لري.
د حسابدارۍ د دغې څانګې ډیره مهمه دنده، په تولیدي موسسو کې د جوړو شوو محصولاتو د تمام شوي قیمت محاسبه ده په بله وینا د مدیریت حسابدارۍ د هغو معلوماتو را ټولولو ، طبقه بندۍ، تخلیص ، تحلیل او رپوټ په برکې نیسي، چې د تصمیم نیونې په برخه کې له مدیریت سره مرسته کوي.
د ځینو کار پوهانو په وینا، د حسابدارۍ د تمام شوي قیمت دغه څانګه، له مدیریت سره د عملیاتو د پایلو د ارزونې او د کنټرول د پلان د طرح کولو په برخه کې مرسته کوي او د مدیریت د مټ په توګه په برنامه جوړونه او د فعالیتونو په کنټرول کې څرګندیږي.
په هر حال، د صنعتي حسابدارۍ سیستم، د اړتیا وړ اطلاعات هم د مالي حسابدارۍ او هم د مدیریت حسابدارۍ لپاره راټولوي، کله چې د تمام شوي قیمت اړوند اطلاعات د سازمان په دننه کې او د مدیرانو په مرسته د استفادې وړ وګرځي، د تمام شوي قیمت اقلام د مدیریت د حسابدارۍ لپاره د استفادې وړ ګرځیدلي دي او که دغه اقلام د بهرنیو ګټه اخیستونکو په وسیله لکه ونډه اخیستونکو او داینینو له خوا په کار واچول شي، په دې حالت کې د تمام شوي قیمت په اړه اطلاعات د مالي حسابدارۍ لپاره د استفادې وړ ګرځیدلي دي.

په عمومي توګه صنعتي حسابداري د لاندېنیو دندو د ترسره کولو مسئولیت په غاړه لري:
**الف:** د برنامو او بودجو په جوړولو او اجرا کې مرسته او ګډون .
**ب:** د هغو میتودونو کارونه، چې د کنټرول کارونه آسانه کړي او د لګښتونو د کموالي لامل شي.
**ج:** د څو جودو حل لارو له منځ څخه د یوې حل لارې د غوراوي په نسبت د تصمیم نیونې په موخه د اطلاعاتو برابرول

ketabton.com - The Digital Library

**د:** د موجودیو د ارزښت ټاکل، د هغوی د قیمت ګذارۍ او لګښتونو د موندنې په منظور او د موجودیو د عیني مقادیرو کنترول.
**هـ:** د یوې حسابي دورې لپاره د مخارجو او سود (ګټې او زیان) ټاکل

**د صنعتي حسابدارۍ او مالي حسابدارۍ توپیر**

مالي حسابداري له سازمان څخه بهر ګټه اخیستونکو لکه: پانګه اچوونکو، د دولتي مؤسسو د رهیني بانکونو او نورو ذینفعو کسانو لپاره د مالي معلوماتو او صورتونو له برابرولو سره سروکار لري یا په داسې حال کې چې صنعتي حسابداري د هغو اجناسو او خدمتونو د تمام شوي قیمت په اړه د معلوماتو د تحلیل له راټولولو سره سرو کار لري، چې د پلان جوړونې او کنترول په چارو کې د مدیرانو له خوا ترې کار اخیستل کیږي.

زیاتره کسان د خپریدونکو مالي حسابونو له لارې د حسابدارۍ د اطلاعاتو له سیستم سره اړیکي نیسي او غالباً خپریدونکي مالي حسابونه د ونډه اخیستونکو د څښتنانو، د اجناسو خرڅوونکو، بانکونو او اعتباري او مالي مؤسسو، د نیسه خرڅلاو( د هغو څیزونو پیر او پلور چې په وعدې سره وي او پیسې یې وروسته ورکول کیږي) او یا د پورونو د ورکړې په برخه کې د تصمیم نیونې بنسټ جوړوي.

نو مالي حسابداري د شتمنیو او پورونو او د ونډه اخیستونکو د څښتنانو د حقوقو او د یو اقتصادي واحد د ګټې او تاوان د اطلاعاتو د ګزارش او طبقه بندۍ له ثبت سره سراوکار لري چې تر ځانګړو مقرراتو او نظم لاندې وي او د بهرنیو ګټه اخیستونکو د ګټو د ساتنې په منظور له مالي اطلاعاتو څخه جوړیږي، چې باید د حسابدارۍ د منل شوو اصولو پر بنسټ ترسره شي.

خو د شرکت د داخلي اطلاعاتو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره، چې د مدیرانو د تصمیم نیونې لپاره جوړیږي، د تمام شوي قیمت حسابداري، ګټوراطلاعات د مدیرانو په واک کې ورکوي، نو مدیران د تمام شوي قیمت په کار اچولو سره په داسې بڼه چې د هغوی ډول ډول اړتیاوې د شرکت د برنامه جوړونې او د فعالیتونو د کنترول په چارو کې تأمین کړي، خلاص لاس لري او له زیاتې سپما څخه برخمن دي او د ګزارشونو د برابرولو له پلوه هر وخت چې مدیریت ورته اړتیا پیدا کوي، د اجرأ وړ دي.

په تولیدي مؤسسو کې، د تخصصي کیدو فعالیتونو حجم ته په پام سره د لګښتونو موضوع او د لګښتونو توپیر او د تمام شوي قیمت محاسبه د مالي حسابي دایرې د موازاتو له مخې تر سره کیږي.
په لنډه توګه د مالي حسابداري دایره، د رپوټ په چوکاټ کې(د ګټې او تاوان، بیلانس د حساب لنډیز او د نغدو پیسو د دوران حساب) د موسسې مالي وضیعت منعکسوي او د دې ښکارندوی دی، چې د موسسې فعالیتونو د مالي دورې په اوږدو کې، څه ډول عمومي پایلې درلودلی دي.
خو د تمام شوي قیمت د حسابدارۍ دایره، د تولیدي دوایرو، د لګښتونو د مرکزونو او بیلابیلو برخو

ketabton.com - The Digital Library


د فعالیتونو پر جرئیاتو او د خپلو عملیاتو پایلې یې د موادو د لګښت د رپوټ، د ترسره شوو کاري ساعتونو، تلف شوو وختونو، د جوړو شوو اجناسو د ټمام شوی قیمت، ضایعاتو او د جوړولو بهیر په چوکاټ کې د مدیرانو په واک کې ورکوي.

**د خدماتي، تجارتي او تولیدي مؤسسو بنسټیز توپیرونه**

د ټمام شوي قیمت له حسابدارۍ او له تر لاسه شوو پایلو څخه یې ګټه اخیستنه په صنعتي تولیدي موسسو پورې تړلې(منحصرې) نه دي، بلکې غیرې تولیدي موسسې(تجارتي او خدماتي) هم کولای شي د ټمام شوي قیمت له حسابدارۍ څخه ګټه تر لاسه کړي.

د تجارتي، خدماتي او تولیدي موسسو ډولونه، د خپل فعالیت په بهیر کې یو شمیر وارده عناصر او عوامل لري، چې د شرکت د موخو د تر لاسه کیدو لپاره د خپلو پروسو او خاصو عملیاتو له سرته رسولو وروسته د ګټه اخیستونکو لپاره (out put) منځ ته راوړي.

لاندینی جدول په یو تولیدي شرکت کې د عملیاتو بهیر ښیي.




**په یوه تولیدي شرکت کې عملیاتي جریان**

خدماتي او تولیدي سوداګریزې موسسې له بیلابیلو اړخونو څخه له یو بل سره توپیر لري، یو سوداګریز شرکت د جوړو شوو محصولاتو د خرڅلاو لپاره له بازار موندنې سره، سراو کار لري.

همدارنګه په تولیدي شرکتونو کې له خامو موادو سره اوپر کار ټمامه موادو د هغوی له بدلولو (جوړشوو محصولاتو)سره، سراوکار لري.

په خدماتي موسسو او سازمانونو کې کوم شی د اجناسو د موجودۍ په عنوان شتون نه لري. خو د هغوی فعالیتونه پیرودونکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو پورې تړلي دي. که چیرې په تولیدي موسسو کې لومړی مستقیم مواد (اومه مواد یا لومړني مواد)پیرودل کیږي، نو دغه لړۍ د تولید په بهیر کې راځي، او ور پسې پر تولید شوو اجناسو بدلیږي.

**د صنعتی محاسبې اهمیت:** په هر اقتصادي او صنعتي فعالیت ځای کې هره ورځ زیاتې معاملې را منځ ته کیږي. مثلاً له کسې څخه پیسې اخیستل کیږي او یا بانک ته پیسې اچول کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

پیرودونکي جوړشوي او کارتمامه مالونه له فعالیت ځایونو څخه په نغده یا د پور په ډول اخلي او یا لیږونکي(داینینو)اومه مواد او د فعالیت ځایونو نورې اړتیاوې په پور سره فعالیت ځایونو ته لیږدوي. اجورې ورکول کیږي.

د بریښنا، ګاز او مالیاتو محصول له حسابي قواعدو سره سم ورکول کیږي. اومه مواد، مرستیال مواد او محرکه مواد له ګدام څخه د تولید لپاره کارخانو ته لیږدول کیږي.له دې پلوه باید د تولید د یو تمام شوی واحد قیمت معلوم وي او په یوه مالي دوره کې د فعالیت ځای ګټه او تاوان وټاکل شي. ځکه دا کار د امکان وړ نه دی، چې ټولې دا پیښې او معاملې دې په حافظه کې وساتل شي او دغه جریانات هر یو باید ثبت شي د داسې معاملو ثبت د صنعتي محاسبې په نامه یادیږي.

صنعتي محاسبه یوازې د ځان لپاره کار نه کوي، بلکې د صنعتي محاسبې اهمیت په دې کې دی، چې د لګښتونو د سنجش، د فعالیت ځایونو د راتلونکو پلانونو د طرحې ، د چارواکو او متعلقینو د تصمیم نیونې لپاره د دقیق ارقام، احصایې او معلومات وړاندې کوي.

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډیز**

صنعتي حسابدار هغه څوک دی، چې د تخصصي تحصیلي دورې په تیرولو سربیره، د تولیدي(صنعتي) موسسو د حسابونو یا د مرکز او کارخانې په دفتر کې د تولید د پړاونو د حسابونو ثبت تر سره کړای شي او همدارنګه د تولیدي او خدماتي دوایرو لګښتونه او مخارج ثبت او د تولید پر هر واحد باندې د مخارجو او لګښتونو ویش ثبت او محاسبه کړي.

دا موضوع باید په دقیقه توګه په نظر کې ولرو، چې د حسابدارۍ لومړنۍ موخه د یو اقتصادي واحد اړوند د مالي اطلاعاتو راټولونه ده، چې د مالي اطلاعاتو دغه ثبت او ګزارش د ګټه اخیستونکو بیلابیلو ډلو ته وړاندې کیږي. ګټه اخیستونکي یې پر بنسټ خپل تصمیمونه نیسي، باید ووایو چې صنعتي حسابداري د مدیریت د حسابدارۍ له یوې څانګې څخه ده، چې د تولیدي محصولاتو د تمام شوي قیمت د محاسبې او د لګښتونو د عواملو د اړوندو اطلاعاتو او ګزارشونو له ثبت او راټولونې سره، سراوکار لري.

په عمومي توګه صنعتي حسابداري د لاندې دندو د ترسره کولو مسئولیت پر غاړه لري.

**الف:** د بودجو او برنامو د را منځ ته کولو او ترسره کولو له بهیر سره مرسته.

**ب:** د هغو میتودونو کارونه چې د کنترول کارونه آسانه کړي او د لګښتونو د کموالي لامل شي.

**ج:** د څو موجودو حل لارو له منځ څخه د یوې حل لارې د غوراوي په نسبت د تصمیم نیونې په موخه، د اطلاعاتو برابرول.

**د:** د موجودیو د ارزښت ټاکل، د هغوی د قیمت ګذارۍ او لګښتونو د موندنې په منظور او د موجودیو د ښکاره شوو اندازو کنترول.

**هـ:** د یوې حسابي دورې لپاره د لګښت او ګټې ټاکل.

ketabton.com - The Digital Library

په توليدي موسسو کې، د تخصصي کيدو د فعاليتونو حجم ته په پام سره د لګښتونو موضوع او د لګښتونو توپير او د ټمام شوي قيمت محاسبه د مالي حسابي دايرې له موازاتو سره سم تر سره کيږي.
په لنډه توګه د مالي حسابداري دايره، د ګزارش په چوکاټ کې(د ګټې او تاوان، بيلانس د حساب لنډيز او د نغدو پيسو د دوران حساب) د موسسې مالي وضعيت منعکسوي او د دې ښکارندوی دی، چې د موسسې فعاليتونه د مالي دورې په اوږدو کې، څه ډول عمومي پايلې درلودلی دي.
خو د ټمام شوي قيمت د حسابدارۍ دايره، د توليدي دوايرو، د لګښتونو د مرکزونو او بيلابيلو برخو فعاليتونه بيانوي او د توکو د لګښت ، تر سره شوو کاري ساعتونو، تلف شوو وختونو، ضايعاتو ، د توليد شوو اجناسو ټمام شوی قيمت او د توليد جريان د رپوټ په چوکاټ کې د خپلو عملياتو پايلې د مديرانو په واک کې ورکوي.

### د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- حسابدار څوک دی او بايد کومې دندې ترسره کړي؟

۲- حسابداري تعريف کړئ؟

۳- د حسابدارۍ لومړنۍ موخه څه شی ده، موضوع په دقيقه توګه توضيح کړئ؟

۴- په موجهو دلايلو سره واضح کړئ، چې صنعتي حسابداري د مديريت د حسابدارۍ له څانګو څخه يوه څانګه ده؟

۵- په عمومي توګه صنعتي حسابداري د کومو دندو د ترسره کولو مسئوليت په غاړه لري؟

۶- توليدي او خدماتي سوداګريزې يا تجارتي موسسې له کومو اړخونو سره توپير لري، موضوع په دقيقه توګه تشريح کړئ؟

۷- په يو توليدي شرکت کې د عملياتو بهير ترسيم کړئ؟

۸- پر نورو متعلقينو د صنعتي محاسبې اهميت تشريح کړئ؟

## دويم څپرکی

ketabton.com - The Digital Library

# د صنعتي محاسبې کتابونه او اسناد

**ټولیزه موخه**

د صنعتي محاسبې د کتابونو او اسنادو معرفي

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې له محصلینو څخه تمه کیږي چې:

- په صنعتي محاسبه کې د اساس کتاب او اهمیت یې وپیژني.
- په صنعتي محاسبه کې دې د اصلي کتاب ونډه تشخیص کړای شي.
- په صنعتي محاسبه کې دې د فرعي کتاب ونډه تشخیص کړای شي.
- په صنعتي محاسبه کې دې معامله لرونکو کتابونه او ارزښت یې وپیژني.
- په حسابدارۍ کې د محاسبې پر اسنادو او ونډه پوه شي.
- په محاسبه کې د طبیعي او مصنوعي اسنادو اهمیت وپیژني.

**د اساس کتاب:** د اساس کتاب د صنعتي محاسبې له مهمو کتابونو څخه دی. باید هره معامله په اصلي کتاب او د اساس په کتاب کې په بیل ډول ولیکل شي. په لویو مؤسسو کې د معاملاتو د وضاحت لپاره د اساس کتاب او اصلي کتاب باید په بیله بڼه دایره شي. د اساس په کتاب کې هره معامله د زمان د ترتیب له مخې لیکل کیږي. په داسې حال کې چې په اصلي کتاب کې هره معامله د موضوع د ترتیب له پلوه لیکل کیږي.

ټولې معاملې(افتتاحیه ثبتونه، جاري ثبتونه او د ختم ثبتونه)د اسنادو په اساس او د نیټې په ترتیب سره د سند د نمبر د ثبت د قاعدې د نیټې او مبلغ (د پیسو اندازه) له ذکر سره د اساس په کتاب کې درجیږي.

د اساس کتاب کولای شي د مبلغ له یو ستون(اصلي ستون)سره دایر شي.

خو زیاتره وخت په عمل کې د اساس دوه ستونه کتاب یعنې د دبت او کریدت ستونونو لرونکي ته ترجیح ورکول کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

د اساس په دوه ستونه کتاب کې د دواړو ستونونو (د کريډت او دبت ستونونو) په مرسته دقيق او جدي کنټرول تر سره کيداى شي، يعني دا چې آيا د کريډت او دبت د اړخونو په ثبت کې مساوي مبالغ درج شوي دي او که نه؟

په ځانګړې توګه دا ډول کتاب د مجموعي ثبتونو په برخه کې ډېره مرسته کوي. يعني په يو بيل ستون کې د اسنادو نمبر کيداى شي درج شي، په بل ستون کې د معاملې د پېښېدو نيټه او په بل ستون کې د ثبت قاعده او په بل ستون کې يې کنټرول درجيږي او بل ستون يې د کريډت او دبت لپاره په نظر کې نيول شوي دي.

د اساس کتاب ټول ثبتونه اصلي کتاب او همدارنګه فرعي کتابونو ته ليږدول کيږي.

**ځکه نو د اساس کتاب د ټولې محاسبې بنسټ دی:**

کله چې نن د اساس کتاب، اصلي کتاب، فرعي کتاب او داسې نورو نوم کارول کيږي، دا په دې معنا نه ده، د هغې چې حتماً له مجلدوکتابونو څخه بحث کيږي.

نن ورځ د کتاب اصطلاح په عمومي توګه يو تاريخي اصطلاح ګرځيدلې او يوازې ځينې کوچنۍ مؤسسې محاسبوي کتابونه کاروي؛ يعنې د اساس کتاب او اصلي کتابونه په مجلده بڼه جوړيږي.

قاعدتاً په مخکنيو پيړيو کې موسسې د نن ورځې په تناسب کوچنۍ وې او پرېږ (ډبل) يا نري کتابونه د هغوی د يو کال د ټولو ثبتونو د درجېدو لپاره کفايت کاوه. خو نن ورځ په لويو مؤسسو کې د معاملو ثبت او ليکل په کتابونو کې نه ترسره کيږي، بلکې په لويو لستونو او کارتونو کې ترسره کيږي.

ژورنال قاعدتاً د يو لست په بڼه جوړيږي او په اصلي کتاب ثبت (د هر حساب لپاره يو بيل کارت) پر کارتونو ترسره کيږي.

د يو شمير زياتو حسابونو د لرلو په صورت کې، له کارتونو څخه ګټه اخيستنه د هغوی په ځانګړو صندقونو کې د يو کتاب د جوړولو په نسبت اسانوي. له ټولو څخه وړاندې هغه حسابونه، چې د لوی حجم لرونکي دي، کېداى شي په هر زمان کې په خپله خوښه د نوي کارت د يوځاى کيدو په مرسته لوېې شي.

په پاى کې بيا هم د(پرانېستو پاڼو په محاسبه کې) له محاسبوي کتابونو څخه بحث کيداى شي؛ ځکه د يو مالي کال تر پاى ته رسيدو وروسته ټولې پاڼې د کتابونو په بڼه راټلاى شي.

په بيلابيلو کتابونو کې يوازې د ثبت متن (دثبت قاعده) په الفاظو باندې نه ليکل کيږي بلکې د اړوندو حسابونو نمرې هم درجيږي. ځکه هر حساب د يوې ځانګړې نمرې لرونکي دي. د نمرې اېښودنې د سيستم او د حسابي چوکاټ د بنسټ او ټولګيو په اړه به په وروستيو څپرکو کې خبرې کيږي.

**له يو ستونه اساس کتاب څخه يو مخ يې د بيلګې په ډول وړاندې کيږي**

**د ۱۳۸۸ کال د وري مياشتې د اساس کتاب**

ketabton.com - The Digital Library

| ورځ | سند | د ثبت قاعده | دکنترول ستون | افغانۍ | افغانۍ |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | لومړنی موجود 1/I | 1- پرانیستل شوي ثبتونه | 998 | | |
| | | له افتتاحیه بیلانس څخه ۵ حسابونه | 03 | 1000 | |
| | | تجهیزات | 30 | 8500 | |
| | | موجود مواد | 14 | 244000 | |
| | | طلبات(طلبات) | 113 | 82000 | |
| | | دبانک کسه | 10 | 32300 | |
| 4 | لومړني موجودات 1/I سند I د وارداتو د حساب صورت 1/I د صادراتو د حساب صورت 1/I | له دوو حسابونو څخه افتتاحیه بیلانس حساب | 998 | 517000 | |
| | | شخصي پانګه | 07 | 141500 | |
| | | دیون یا پورونه | 16 | | |
| | | روان یا جاري ثبتونه | | | |
| | | له بانک څخه دیون یاپورونه | 16/113 | | |
| | | بانکي حواله اسد الله ته – هرات | 16. 9 | | 658500 |
| 6 | د وارداتو د حساب صورت I | له دیون څخه اومه مواد | 13/16 | 85000 | |
| | | د عبدالوکیل د حساب صورت – مزار شریف | 14/83/883 | 1200 | |
| 6 | د صادراتو د حساب صورت I | له دوو حسابونو څخه طلبات(طلبات) | | | |
| | | دامتعې له پلورلوڅخه | 85000 | 85000 | |
| | | له باربندۍ ترانسپورت څخه | 1200 | 1200 | |
| | | د محراب الدین د صادراتو د حساب صورت- کابل | 1438 | | 86200 |
| 7 | د صادراتو د حساب صورت I | دامتعې له خرڅلاو څخه شخصي حساب د بشیر شوي امتعې اخیستنه(برداشت) | 197/83 | | 1250 |
| 7 | سند چې 3/I | له طلباتو(طلبات)څخه کسې ته | 10. 14 | | |
| | | غلام ایشان ته د نغدو پیسو ورکړه - قندهار | 1498 | | 10500 |
| | | له کسې څخه د دفتر لګښتونه ددفتر د لوازمو نغده پېریدنه | 476/10 | | 2550 |
| | | | | | |
| 7 | سند چې 3/I | د استالف د خادم د صادراتو د حساب صورت | | | 21380 |

**د۱۳۸۸کال د وري د میاشتې لپاره د اساس دوه ستونه کتاب:**

ketabton.com - The Digital Library

| ورځ | سند | د ثبت قاعده | دکنترول ستون | دبت په افغانۍ | کریدت په افغانۍ |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | لومړنی<br>موجود 1/I | له افتتاحیه بیلانس څخه ۵ حسابونه<br>د اداري تجهیزات موجود مواد طلبات بانک کسه | 998<br>03<br>30<br>14<br>113<br>10 | 8600<br>8500<br>29000<br>82000<br>323000<br>713500 | |
| 2 | لومړنی<br>موجود 1/I | له دوو حسابونو څخه د افتتاحیه بیلانس حساب شخصي پانګه دیون | 998<br>07<br>16 | | 572000<br>141500 |
| | | د ختم ثبتونه | | | 713500 |
| 4 | سند 1/I | له بانک څخه دیون یا پورونه<br>اسدالله ته حواله- هرات | 16/113<br>1609 | 50000 | 50000 |
| 5 | د وارداتو<br>د حساب<br>صورت 1/I | له دیون یا پورونو څخه اومه مواد<br>له مزار شریف څخه د عبدالوکیل د وارداتو دحساب صورت | 30/16<br>1615 | 15000 | 15000 |
| 6 | د وارداتو<br>د حساب<br>صورت 1/I | د امتعې له خرڅلاو څخه له دوو حسابونوڅخه طلبات<br>له باربندۍ او ترانسپورت څخه | 14<br>83<br>883 | 86200 | 85000<br>1200 |
| 6 | د وارداتو<br>د حساب<br>صورت 2/I | شخصي حساب دامتعې له خرڅلاو څخه<br>دتولید شوو مالونواخیستنه | 197<br>83 | 1250 | 1250 |
| 7 | دکسه<br>سند2/I | له طلباتو څخه کسه<br>د قندهار غلام ایشان ته د نغدو پیسو ورکړه | 10/14<br>1493 | 10500 | 10500 |
| 7 | د کسه سند<br>3/I | له کسې څخه د دفتر لګښتونه<br>ددفتردلوازمو نغده پې‌رودنه | 476<br>10 | 2250 | 2250 |
| 7 | د وارداتو<br>د حساب<br>صورت 1/I | له امتعې څخه د خرڅلاو طلبات<br>د استالف دخادم دصادراتود حساب صورت | 14<br>83 | 21380 | 21380 |
| | | | | 186580 | 186580 |

**اصلي کتاب:** اصلي کتاب د محاسبې له مهمو کتابونو څخه دی، هغه معاملې چې تر سره کیږي، د اساس له کتاب څخه د څیزونو(اشیاو) د هریو له حسابونو څخه ثبتیږي او په لنډه توګه

ketabton.com - The Digital Library

د ځیزونو ټول حسابونه د شتمنۍ د وضعیت او د مؤسسو د پایلې په اړه یو دقیق انځور وړاندې کوي. دغه حسابونه د محاسبې مهمه برخه ده، نو ځکه هغه کتاب، چې د ځیزونو د حسابونو لرونکي دي، اصلي کتاب نومیږي.

**فرعي کتابونه:** په اصلي کتاب کې د مؤسسې شتمني او پورونه، همدارنګه د ارزښت له پلوه د هغوی بدلون ښودل کیږي؛ اندازه او انفرادي سنجش یې په پام کې نه نیول کیږي.
د بیلګې په توګه: د اومو موادو په حساب کې پرته له دې چې د موجودو اومو موادو د هر یو د کچې او ډول قیمت په نظر کې ونیول شي، ټولیز یا مجموعي قیمت یې په پام کې نیول کیدای شي، خو اړینه ده، چې په هر زمان کې جزئیات یې هم په دقیقه توګه تثبیت کړای شي، چې دا دنده د فرعي کتابونو په غاړه ده.


دا دی مهم فرعي کتابونه په لاندې توګه تشریح کیږي:
**الف- د معامله لرونکو کتابونه:** د معامله لرونکو کتاب کیدای شي معمولاً د پیرودونکو کتاب او لیږونکو (داینینو) پر کتاب وویشل شي.
**ب- دامتعې کتابونه:** په لویو موسسو کې د امتعې د بیلابیلو ډولونو همدارنګه د اومو موادو، محرکه او مرستیال موادو یا کارتمامه او نیم کاره تولیداتو لپاره د فرعي ډول ډول کتابونو جوړول اړین دي، چې دغه محاسبه د تحویلخانې د محاسبې په نوم هم یادیږي.
د امتعې د هر ډول لپاره یو کارت(د تحویلخانې کارت) جوړیږي، چې په هغه کې د شتمنۍ کچه په دقیقه توګه ځرګندیدای شي او دخول او خروج په بیلو ستونونو کې ثبتیږي.

**د تحویلخانې د کارت یوه بیلګه**

| **نیټه** | **معامله** | **دخول** | **خروج** | **موجود** | **د یوې دانې پیرېدل په افغانیو** | **کتنې** |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | د برېښنا ګروپ 60 واټه 200 | **د موجودې امتعې ډول** |
| ۳۳۱۳/۱/۲ | موجود | - | - | 200 | 20 | - |
| ۳۳۱۳/۱/۷ | د وارده حساب صورت | 500 | - | 700 | 20 | 380/162 |
| ۳۳۱۳/۱/۱۰ | ۳نمبرتولیدي کارخانې ته تسلیمي | - | 100 | 600 | 20 | 450/182 |

**ج- نور فرعي کتابونه:** د یو شرکت او لویې تصدۍ د اړتیا په پام کې نیولو سره کولای شي. چې نور کتابونه هم جوړ کړي

ketabton.com - The Digital Library




**د بيلګې په توګه:** د پوروړو د وکسل کتاب، د پور ورکوونکو د وکسل کتاب او د کسه کتاب. له فرعي کتابونو څخه د موجودو حسابونو په چوکاټ کې خبرې شوي او لازم دي چې له نتيجوي حسابونو څخه هريو د فرعي کتابونو په توګه داير شي. په دې معنا چې هر نتيجوي حساب بايد په يو بيل فرعي کتاب کې وليکل شي.

**د بيلګې په توګه:** د اجورو، معاشونو، بانک، کسې او داسې نورو... د حسابونو لپاره بيل کتاب په يوه لويه موسسه کې د معاش او اجورې يو زيات شمير زيات اخيستونکي موجود وي، نو د يو بيل فرعي کتاب او يا د اجورې او معاش لپاره د محاسبې د بيلې ځانګې جوړول اړين ګڼل کيږي. لاندې بڼه ښيي چې بيل کتابونه څرنګه سره اړيکې لري.

**۴ - اسناد:** يو محاسب د عملي کار په بهير کې معاملې په شفاهي بڼه او پرته له سند څخه نه ثبتوي، بلکې هره ثبت شوې معامله بايد ليکلی سند ولري، تر څو د سند د طلبات پر مهال محاسب وکړای شي، هغه سند چې پر بنسټ يې معامله د اساس په کتاب يا اصلي کتاب کې ثبت شوې، وړاندې کړي. حسابي معاملې(له نغدي او جنسي څخه) په يوه اداره کې ځانګړې او جدي ساتنې ته اړتيا لري.

د عملي محاسبې په بهير کې بايد د مضاعف د هر ثبت لپاره يو سند موجود وي نو په دې اساس يوه معمولې محاسبوي قاعده داسې ده.


ketabton.com - The Digital Library

## هیڅ ثبت له سند څخه پرته نشته

**الف- د سند ډولونه:** په محاسبه کې اسناد له مخې څخه لیکلو او تحریري اساساتو څخه عبارت دي چې د یوې معاملې او همدارنګه د ثبت د ډول او لامل په اړه، محاسب ته معلومات ورکوي،

سربیره پر دې یو سند چې کوچنۍ یوه قانوني پاڼه ولري، په محاکمو کې د اثبات لپاره کافي دی.

اسناد کولای شو په لاندې ډولو وویشو.




**طبیعي اسناد:** د اسنادو یوه زیاته برخه له نورو موسسو سره د معاملو د طبیعي پایلو په توګه را منځ ته کېږي.

**مثلاً:** د واردې او صادرې، رسیداتو، د بانکي آویزونو د بارنامې، وکسل چک، د مالونو د تسلیمۍ سند او د داسې نورو د حساب صورت

**مصنوعي اسناد:** د اسنادو یوه لږه برخه په اجباري یا طبیعي ډول نه ده رامنځ ته شوې، بلکې په مصنوعي توګه باید جوړه شي.

**مثلاً:**د پای یا ختم اسناد او یا د لزومي اسنادو جوړول.

**۱- د ختم اسناد:**په ځانګړې توګه په مقدماتي او د ختم په قطعي ثبتونو کې باید د هر ثبت لپاره، مناسب مصنوعي اسناد جوړ شي. ځکه ختم لپاره هم قاعده((هیڅ ثبت پرته له سند څخه نشته)) معتبره ده.

**۲- لزومي اسناد:** که چیرې یو بهرنی سند ورک شي او د ثبت د ترسره کولو لپاره د سند د نشتوالي ستونزه رامنځ ته شي له دې امله د جبران لپاره یې باید یو لازمي سند صادر شي.

**۳- داخلي اسناد:** مخکې یادونه وشوه، طبیعي اسناد په دوه کټګوریو ویشل شوي«داخلي اسناد او بهرني اسناد».

د معاملو په زیاتره ثبتونو کې هیڅ کوم سند د کوم خارجي سند په توګه نه دی رامنځ ته شوی،

ketabton.com - The Digital Library

بلکې په خپله په تصدۍ کې یو سند د داخلي سند په توګه صادریږي. د مصنوعي اسنادو پر خلاف، داخلي اسناد هم په اجباري توګه لکه(د مالونو د تسلیمۍ سند،د وارده حساب د صورت نقلونه او داسې نور) رامنځ ته کیږي او عملاً د یو ثبت لپاره نه جوړیږي.

**۴- بهرني اسناد:** هغه اسناد، چې له تصدۍ څخه بهر جوړیږي او د معاملو د ثبت لپاره د تصدۍ دننه راوړل کیږي او د منل شوي سند په توګه ترې کار اخیستل کیږي، د فعالیت ځایونو د بهرنیو اسنادو په نامه یادیږي؛ لکه د پیرودنې بېلونه، د بانک آویزونه او داسې نور ...

**د اسنادو د کار پړاوونه:** د اسنادو په ځانګړي ډول د محاسبوي اسنادو ترتیب او تنظیم یو منجمنت او د حساس کار ترتیب ته اړتیا لري. وایي((هغه سند چې د اړتیا پر وخت ستاسو په واک کې وي او هغه دې تر لاسه کړه، نو سند دی)).

د اسنادو د پاکوالي لپاره، په پرله پسې ډول یې سره نومرې وهي، په کوچنیو موسسو کې چې پکې زیات اسناد نه رامنځ ته کیږي، دغه نومرې وهنې له دې پرته چې د سند ډول په پام کې ونیول شي، تر سره کیږي او یادې نومرې وهنې د نیټو په لیکلو سره صورت مومي.

په لویو موسسو کې چې په کې هره ورځ یو زیات شمیر اسناد رامنځ ته کیږي، نو اسناد خپل ډول ته په پام سره ګروپ بندي کیږي. مثلاً د کسې، د بانک ، د واردې حساب صورت ، د صادرې حساب صورت او په داسې نورو اسنادو ډلبندي کیږي.

د سند د ډولونو د هر یوه لپاره تر ګنې یې مخکې د یو ځانګړی توری کښل کیږي. همدارنګه میاشتې کېدای شي د بیلو ګڼو په مرسته څرګندې شي.

بیلګه:

| | |
|---|---|
| ک = دکسه سند | I – د وري میاشت |
| ب = دبانک سند | II – د غویي میاشت |
| ص و = دوارده حساب صورت. | III – دغبرګولي میاشت |
| ص ص =دصادره حساب صورت او داسې نور | IV – دچنګاښ میاشت او داسې نور |

په عمومي توګه په خپله سند باندې د اجرا وړ ثبت د عملي کار په بهیر کې، په مخکینۍ بڼه ترتیبیږي. دغه تصمیم چې څرنګه یوه معامله باید ثبت شي، چې د ثبت پر مهال نه دی نیول شوی، بلکې دغه تصمیم د حسابونو د مخکیني ټاکنو په مرسته نیول کیږي.

زیاتره وخت یو تجربه لرونکی محاسب((دحسابونو ټاکونکی)) د ثبت قاعده د سند پر مخ لیکي. قاعدتاً د ثبت له یوې داسې ټاپې((د حسابونو ټاکونکې ټاپه))څخه استفاده کیږي، چې پکې د ثبت قاعده لیکل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

د ثبت د ټاپې په مرسته د حسابونو مخکینۍ ټاکنه:

د ښي خوا وروستنی ستون چې محاسب باید پکې خپل لاسلیک درج کړي د پام وړ وي، څکه د ثبت شوي کنټرول پر مهال کیدای شي، چې کوم شخص نوموړی ثبت اجرأ کړی وي، څکه که پاملرنه وشي په یوه لویه موسسه کې زیاتره محاسبین د زیاتو فرعي کتابونو د چارو د مخ بیولو په برخه کې مسئولیت لري، او امکان لري چې دبتي ثبت د یو محاسب له خوا او کریډټي ثبت د بل محاسب په وسیله تر سره شي.

د پورتني ثبت په ټاپه کې د دریم افقي ستون کولای شي د یوه ټولیز ثبت په قاعده کې د استفادې وړ وګرځي.

| ثبت شوي | مبلغ | | حساب |
|---|---|---|---|
| | کریډت | دبت | |
| عبدالله | | 26000 | 10 |
| عبدالله | 26000 | | 1409 |

د دې لپاره چې یو ثبت دوه ځله تر سره نه شي او وضاحت یې له منځه لاړ نه شي، نو په هره موسسه کې باید له وړاندې د یوې ټولیزې قاعدې په توګه تثبیت شي، تر څو د اسنادو دغه ثبت د بنسټ په توګه د استفادې وړ وګرځي. څکه زیاتره وخت په یوه معامله کې زیات شمیر اسناد رامنځ ته کېږي.

دغه مثال د پور په بڼه د امتعې د خرڅلاو په برخه کې یادونه کوو، په دې ځای کې د زیاتو اسنادو د شتون اړتیا رامنځ ته کېږي. بارنامه، د صادرې د حساب اصلي صورت او د حساب د صورت بیل بیل نقلونه.

د اسنادو تر ثبت وروسته اسناد د ډول او په کارتنونو کې د ترتیب شوي نمبر په پام کې نیولو سره قیدیږي او په آرشیف کې ساتل کیږي.

اسناد یوازې د ثبت د بنسټ په توګه د محاسبې لپاره نه دي، بلکې په دعوا کې هم د قاطع دلیل په توګه ثابتېدای شي. د افغانستان د تجارت په قانون کې لارښوونه کیږي. چې ټول محاسبوي کتابونه د وروستي ثبت له نیټې څخه تر (۱۵) کاله پورې حفظ شي، له دغه لړۍ داسې پایله اخېستل کیږي، چې باید اسناد د هماغې مودې لپاره وساتل شي.

ketabton.com - The Digital Library

**د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز**

د اساس کتاب د صنعتي محاسبې له مهمو کتابونو څخه دی. باید هره معامله په اصلي کتاب او د اساس په کتاب کې ولیکل شي. ټول معاملات((افتتاحیه ثبتونه، روان یا جاري ثبتونه او یا ختم ثبتونه))د اسنادو په اساس او د نیټې په ترتیب سره، د نیټې او مبلغ(د پیسو اندازه) له ذکر سره د اساس په کتاب کې لیکل کیږي. د اساس کتاب کولای شي د مبلغ له یو ستون(اصلي ستون) څخه جوړ شي.

خو زیاتره وخت په عمل کې د اساس کتاب دوه ستونونو یعنې دبت او کریدت ستونونو ته ترجیح ورکول کیږي.

د اساس کتاب ټول ثبتونه اصلي کتاب او همدارنګه فرعي کتابونو ته لیږدول کیږي.

تر اساس کتاب وروسته اصلي کتاب د محاسبې له مهمو کتابونو څخه شمیرل کیږي، هغه معاملې چې تر سره کیږي د اساس له کتاب څخه د شیزونو(اشیاوو) د هریو د حسابونو لپاره ثبتیږي او په لنډه توګه د شیزونو ټول حسابونه د شتمنۍ د وضعیت او د موسسو د پایلې په اړه یو دقیق انځور وړاندې کوي.

په اصلي کتاب کې د موسسې شتمني او پورونه، همدارنګه د ارزښت له پلوه بدلون یې ښودل شوي خو مقداري او انفرادي سنجش یې په پام کې نه نیول کیږي.

مثلاً د اومو موادو په حساب کې پرته له دې چې د موجوده اومو موادو د هر یو د کچې او ډول قیمت په نظر کې ونیسي، د هغه ټولیز یا مجموعي قیمت په پام کې نیول کېږي، خو ضروري دي، چې په هر زمان کې جزئیات یې هم په دقیقه توګه تثبیت کړای شي، چې دا دنده فرعي کتابونه په غاړه اخلي.

فرعي مهم کتابونه عبارت دي له: د معامله لرونکو کتاب، د امتعې کتاب او نور فرعي کتابونه یو محاسب د عملي کار په بهیر کې معاملې په شفاهي بڼه او له سند پرته نه ثبتوي، بلکې هره ثبت شوې معامله باید لیکلی سند ولري، تر څو د سند د غوښتلو پر مهال محاسب وکړای شي، سند په لنډه زماني موده کې برابر کړي.

په محاسبه کې، اسناد تحریري وي، چې د یوې معاملې په اړه او همدارنګه د ثبت د ډول او لامل په اړه، محاسب ته معلومات ورکوي.

د اسنادو یوه زیاته برخه د معاملو د طبیعي پایلې په توګه له نورو موسسو سره یو ځای رامنځ ته کېږي.

مثلاً: د واردې او صادرې، د بارنامې رسیداتو، بانکي آویزو ، د وکسل چک، د مالونو د تسلیمۍ سند او د داسې نورو د حساب صورت.

ketabton.com - The Digital Library

په پایله کې ویلای شو، چې اسناد پر دوو ډلو(مصنوعي اسنادو او طبیعي اسنادو) ویشل شوي دي، چې له هغې جملې څخه مصنوعي اسناد پر لزومي او د ثبت د ختم اسنادو ویشل شوي دي او طبیعي اسناد پر داخلي او بهرني اسنادو ویشل شوي، چې له پورتنیو اسنادو څخه هریو ځانته ځانګړي ارزښت او مهم ځای لري. باید زیاته کړو چې د اسنادو په ځانګړي توګه د محاسبوي جوړونه او سمبالښت په یو منجمنت او د حساس کار ترتیب ته اړتیا لري. د اسنادو د پاکوالي لپاره، په پرله پسې ډمرو باید ډمرې ووهل شي، په کوچنیو موسسو کې ، دا ډمرې وهنې له دې پرته چې د سند ډول په نظر کې ونیول شي تر سره کیږي او نوموړې ډمرې وهنې د نیټو په لیکلو سره ترسره کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

**د دویم څپرکي پوښتنې:**

۱- د اساس کتاب تعریف کړئ او د اساس دوه ستونه کتاب رسم کړئ؟

۲- اصلي کتاب د اساس له کتاب سره څه توپير لري، موضوع په دقيقه توګه توضيح کړئ؟

۳- فرعي کتابونه له کوم ډول کتابونو څخه دي، د کتابونو له جملې څخه امتعه څه ډول فرعي کتاب دی؟

۴- اسناد په ټوليزه توګه په څو ډوله ويشل شوي دي د هغوی له جملې څخه الزامي اسناد توضيح کړئ؟

۵- په کتابونو کې د ثبت لپاره د محاسبې اسناد کوم کاري پړاوونه تېروي؛ موضوع توضيح کړئ؟

۶- د ثبت ټاپه چې د کار د چټکوالي لپاره استعمالیږي، د کومو ستونونو لرونکې ده سکيج يې رسم کړئ؟

۷- طبيعي اسناد څه ډول اسناد دي، له بېلګې سره يې واضح کړئ؟

۸- د کتابتون د کارت يوه بېلګه د هغه له جزئياتو سره ولیکئ؟

۹- د يو ستونه اساس کتاب او دوه ستونه اساس کتاب تر منځ توپير تشريح کړئ؟

۱۰- د اصلي کتاب او فرعي کتاب تر منځ توپير څه دی، واضح يې کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



# د حسابي چوکاټ پر بنسټ صنعتي محاسبه

**ټولیزه موخه:**

د حسابي چوکاټ او صنعتي حسابدارۍ بنسټیز مفاهیم

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې محصلین باید لاندې موضوع ګانې تعریف او توضیح کړای شي:

- د صنعتي حسابدارۍ بنسټیز مفاهیم دې زده کړي.
- لګښتونه او د لګښتونو ډولونه(انفرادي او مشترک)دې زده کړي.
- د صنعتي فعالیت ځای د حسابي چوکاټ او حسابي پلان د کارونې پر مواردو پوه شي.
- د حسابي کلاسونو په توپیر دې پوه شي.

**الف- د صنعتي حسابدارۍ بنسټیز مفاهیم:**

**لګښتونه او مخارج:** د لګښتونو تر عنوان لاندې، د امتعې او خدماتي ارزښت ټول هغه کموالی شمیرل کیږي، چې د تولیدي فعالیت د رامنځ ته کېدو لپاره خدمت کوي.

لګښتونه له مخارجو سره توپیر لري او د ورکړې په معنا نه دي د بیلګې په ډول: ورکړه د محروقاتي تیلو د برابرولو لپاره تر اوسه هم د لګښتونو له جملې څخه نه دی شمیرل شوې، یوازې هغه وخت ذکر شوي تیل د لګښتونو په توګه شمیرل کیږي، چې هماغه تیل د تولید په بهیر او پروسه کې مصرف شي.

د مخارجو تر عنوان لاندې د یوې تصدۍ دارزښت ټول کمښت درک کیږي. ان هغه مخارج چې د موسسې د اصلي موخې لپاره ترې کار نه اخیستل کیږي.

**مثلاً:** له سرې میاشتې سره مرسته هم یو خرج دی په داسې حال کې چې دلته له لګښت څخه خبرې نه کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

لګښتونه په دوه لویو ګروپونو ویشل کیږي.
انفرادي لګښتونه«مستقیم لګښتونه» او ګډ یا مشترک لګښتونه«غیر مستقیم لګښتونه».

**انفرادي لګښتونه**

انفرادي لګښتونو ته مستقیم لګښتونه هم وایي او له هغه ټولو لګښتونو څخه عبارت دي، چې پر هر واحد باندې په مستقیمه توګه تصرف وکړي او په دقیق ډول څرګند کړای شي. دغه ډول لګښتونه په دریو لاندې ګروپونو ویشل کیږي.

**بشپړ یا تکمیلي مواد**

هغه خاص مواد دي، چې د تولید د یو ټاکلي واحد یا د یو ټاکلي سپارښت د بشپړیدو لپاره په مصرف رسیږي.

دغه لګښتونه د تولید له لومړني پړاو او وروستي کار څخه یې وروسته، د کارټامه تولیداتو یو مهمه برخه رانغاړي.

**مثلاً:** وړۍ او مالوچ د نساجۍ په صنایعو کې او لرګی د موبل جوړولو په صنایعو کې.

بشپړې یا تکمیلي اجورې: بشپړې یا تکمیلي اجورې هغه اجورې دي، چې د تولید د ټاکلي واحد یا ټاکلي سپارښت لپاره په مستقیمه توګه د محاسبې وړ وي. دلته بنسټونه یااساسات د اجورو، د تولید د هر واحد د تکمیلي توکو یا اجزاوو د لګښتونو مفصل لست او د سپارښتونو سنجشي لستونه وي.

**انفرادي ځانګړي لګښتونه:** له تکمیلي موادو او اجورو څخه پرته ټول لګښتونه یا د انفرادي ځانګړو لګښتونو تر عنوان لاندې چې د تولید پر یو ټاکلي واحد او یا یو ټاکلي سپارښت محاسبه کیدای شي، راځي، ځکه چې دوی هم وکړای شي په دقیقه توګه تثبیت شي.
د دغو لګښتونو ویشنه داسې ده.

**تکمیلي انفرادي ځانګړي لګښتونه: مثلاً:** هغه ځانګړي لګښتونه چې له یو ټاکلي تولید څخه مخکې د تشکیل د جوړولو او د کار د مقدماتو د برابرولو له پلوه د هغه لپاره تولید ترسره کیږي.
د بهرنیو کارکوونکو اجوره، د نصب یا منتاژ لګښتونه.

**د خرڅلاو ځانګړي انفرادي لګښتونه:** لکه د ترانسپورت ځانګړي لګښتونه، د خرڅلاو د استازي د حق العامل د بارجامې ځانګړي لګښتونه او پر خرڅلاو باندې مالیات.
**ګډ لګښتونه«غیر مستقیم لګښتونه»:** ټول هغه لګښتونه دي، چې په مستقیمه توګه پر هر واحد باندې نه شي محاسبه کیدای.

ketabton.com - The Digital Library

**مهم ګډ لګښتونه دا دي:**

- مرستيال يامعاونه اجوره
- معاشونه
- مرستيال مواد
- محرکه مواد

**مرستيالې يا معاونه اجورې**

مرستيالې اجورې(يا د اجورې ګډ لګښتونو) د کار هغه لګښتونه دي، چې د توليد په هر واحد يا سپارښت باندې په مستقيمه توګه محاسبه کيداى نه شي(لکه د ساتونکي اجوره، څوکي دار، اوربه(آتشکار)، د مرستندويه کارکوونکو بيلابيل ډولونه او د تحويلخانې کارکوونکي).

معاشونه: معاشونه د تخنيکي او اداري مستخدمينو لپاره ټولې مياشتينۍ ورکړې دي(لکه د څانګې آمر، انجنير، ميخانيک او باشي).

**مرستيال مواد:** مرستيال يا معاونه مواد هغه مواد دي، چې دبشپړو وروستيو او مخکنيو کارونو لپاره په کار اچول کيږي او د توليد مهمه برخه نه جوړوي. لکه ميخ، پيچ، رنګ، څلا او داسې نور.

**محرکه مواد:** محرکه مواد هغه مواد دي، چې د ماشينونو او کارخانې وسايل په حرکت راولي(لکه سکاره، برېښنا، د اوبو بخار او د پاک کارۍ د موادو بيلابيل ډولونه).

د يادو ګډو لګښتونو سر بيره ، نور ډولونه يې د يوې کارخانې د لويوالي او ډول په پام کې نيولو سره هم شتون لري.

**چې يو شمير يې دا دي:** ټولنيز لګښتونه، ماليات، فعاليت ځايونه، د خبرتياوو يا اشتهارونو لګښتونه، کرايې، استهلاکونه او حقوقي لګښتونه.

**د لګښت حامل**

هر صنعتي توليد د اومو موادو په ايستلو يا پيرودلو باندې پيليږي. دا ايستل شوي يا پيرودل شوي مواد په ټوليزه توګه له محرکه يا مرستيالو موادو سره نيمه بشپړ پړاو تيروي بالاخره په بشپړو موادو بدليږي.

په دې اساس «د لګښت حامل» هغه توليدات دي، چې خرڅ کړاى شي؛ څکه نو د نيم کاره او کارټامه توليداتو پر تعريف پيل کوو.

**نيم کاره توليدات:** نيم کاره توليدات د کار هغه واحد دی، چې تر اوسه يې ټول توليدي عمليات نه وي تير کړي.

په دې ځای کې که اومه مواد په نوې بڼه تر کار لاندې ونيول شي يا داچې د توليد وروستي پړاو ته نژدې وي، په دواړو صورتونو کې له نيم کاره توليداتو څخه نوم اخيستل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

**کار تمام تولیدات:** هغه تولیدات دي، چې په هیڅ وجې سره لومړني یا وروستي کار ته اړتیا ونه لري. کارتمامه تولیدات د خرڅلاو لپاره چمتو وي، د خرڅلاو لپاره دغه چمتووالی باید د استهلاک له چمتووالي سره یو شان ونه پیژندل شي.

د استهلاک لپاره چمتووالی په نژدې معنا سره یې، هغه تولیدات دي چې کېدای شي مستهلکینو ته ورکړل شي.

د یو فعالیت ځای زیاتره کارتمامه تولیدات د بل فعالیت ځای اومه مواد جوړوي، ځکه په دویمه فابریکه کې پر ې وروستی کار ترسره کېږي.

په دې اساس«د لګښت حامل» هغه تولیدات دي، چې وپیرودلای شي.

د موسسې داخلي تولیدي فعالیتونه لکه هغه دستګاوې، چې په خپله د موسسې له خوا تولید شوي، د کار آلات او انرژي، چې په خپله د موسسې له خوا ترلاسه شوي هم، د لګښت حامل دي.

**ب- د صنعتي فعالیت ځایونو حسابي پلان او حسابي چوکاټ:** زیاتره افغاني صنعتي موسسې د خپلو حسابونو د سمبالولو لپاره له حسابي چوکاټ څخه چې په لسو(۱۰) ټولګیو ویشل شوی، استفاده کوي. دغه حسابي چوکاټ د افغانستان د شرایطو په پام کې نیولو سره په لږ بدلون، له آلماني حسابي چوکاټ څخه په ګټه اخیستنې سره جوړ شوی دی.

په تیرو وختونو کې حسابونه به د معاملو د بهیر په پام کې نیولو سره جوړیدل او په پرله پسې توګه به نمرې ورکول کیدې او هرې تصدۍ خپلو حسابونوته د بیلو سیستمونو په نظر نمرې وهلې.

د خالصې او ناخالصې ګټې، د تمام شوي او تولیدي لګښتونو او یا د دویم ځل لګښتونو ډولونو، د لګښت ځای او د لګښت حامل په اړه یو څرګند او واضح معلومات موجود نه وو. نو په دې اساس، د یو واحد سیستم له مخې د ټولو حسابونو د یو بشپړ نظام موجودیت ته اړتیا لیدل کیده، چې دا ډول یو ترکیب « د حسابونو منظم سیستم » د حسابي چوکاټ په نوم یادیږی.

حسابي چوکاټ د اعشاري سیستم پر اساس بنأ شوی او په لسو حسابي ټولګیو ویشل کیږي. د حسابي ټولګیو ترکیب د تولید د پړاوونو د ویشنو د پرنسیب پر اساس تر سره کیږي.

هره موسسه په لومړي پړاو کې د خپلو تولیداتو د پیل لپاره ځمکې، ودانیو او ماشین ته اړتیا لري، چې د هغوی د هریو لپاره باید حسابي کارت جوړ شي. یاد حسابونه او داسې نور ورته حسابونه یې په یو ټولګي کې خلاصه کیږي.

یوه موسسه نغدو پیسو، په بانک کې شتمني او داسې نورو ته اړتیا لري، چې په اړه یې حسابونه په یو بېل حسابي ټولګي کې جمع کیږي.

وریسې محرکه او مرستیال اومه مواد پیرودل کیږي، چې حسابونه یې بیل ټولګی لري.

د تولیداتو په بهیر کې د لګښتونو ډولونه منځ ته راځي، چې د لګښتونو د حسابونو د منځ ته راتلو لامل هم په بیل ټولګي کې جمع کیږي. په پای کې نیم کاره او کارتمامه تولیدات را منځ کېږي، چې هغوی هم یو بیل ټولګي لري.

ketabton.com - The Digital Library

تر توليدي عملياتو څخه وروسته، کارټمامه توليدات پلورل کيږي، چې د خرڅلاو د عملياتو لپاره هم د اړتياوو په پام کې نيولو سره زيات حسابونه جوړيږي، چې په يو بيل ټولګي کې يوځاى کيږي. وروسته بايد ګټه ومونډل شي.

ټول حسابونه قيديږي او بيلانس جوړيږي، چې د دې ځاى لپاره د حسابونو ټول ډولونه په يو ځانګړي ټولګي کې ځاى پر ځاى کيږي.

په دې توګه د يو کال په منځ کې توليدي نورمال بهير پاى ته رسيږي، نور حسابي ټولګي هم په دغه بهير کې داخل دي. له حسابي ټولګيو څخه هر يو د لاندې نومونو او محتوياتو لرونکي دي.

**صفر ټولګى(آرام حسابونه يا د ثابتې شتمنۍ او د پانګې حسابونه):**

په دې ځاى کې له اوږد مهالو ثابتو شتمنيو څخه لکه ځمکه، ودانۍ، ماشينونه، ترانسپورتي وسايل، تجهيزات او داسې نورو څخه بحث کيږي.

همدارنګه اوږدمهال طلبات او اشتراکات، اوږدمهال ديون او تر ټولو څخه لومړى شخصي پانګه او نورې زيرمې په دغه ټولګي پورې اړونديږي.

**لومړى ټولګى - مالي حسابونه:** دغه ټولګى ټولې لنډمهالې پولي او کريدټي معاملې رانغاړي(قاعدتاً له يو کال څخه لږ«لکه کسه او بانک» د پيريدونکو طلبات، متفرقه طلبات، د مالونو د ليږدولو په اساس ديون او متفرقه ديون يا پورونه).

**دويم ټولګى - تحديدي حسابونه:** په دغه ټولګي کې هغه ټول مخارج او حاصلات ثبتيږي، چې د فعاليت ځاى له اصلي فعاليت سره سراوکار ونه لري، مثلاً له فعاليت ځاى څخه بهر فوق العاده مخارج، د ګټو، مالياتو، حاصلاتو مخارج، د کور او ځمکې حاصلات او مخارج، له فعاليت ځاى څخه بهر فوق العاده حاصلات، دګټو حاصلات، ستر ترميمات او تر تعمير يا جوړونې لاندې تاسيسات، د قيمت توپيرونه او تحديدي نور حسابونه.

**دريم ټولګى - د اومو محرکه او مرستيالو موادو حسابونه:** په دغه ټولګي پورې تر ټولو مخکې اومه مرستيال او محرکه مواد، چې په موسسه کې د توليد لپاره په کار اچول کيږي، اړونديږي.

**څلورم ټولګى - دلګښتونو د ډولونو حسابونه:** دغه ټولګى په محاسبه کې يوازې له نو ټولګيو څخه نه دى، بلکې له ستونزمنو ټولګيو څخه هم دى. د دغه ټولګي قيمتونه د احصايې او پلان د لګښتونو د محاسبې لپاره او د فعاليت ځايونو د پرتلې لپاره استعمال شوي او په دې اساس په احتياط سره د ټولو لګښتونو يو شننه او تثبيت ضروري دي.

**دځانګړو حسابي ګروپونو په توګه:** تکميلي اجورې، مرستيالې اجورې، معاشونه، ټولنيز مخارج، محرکه او مرستيال مواد، برېښنا، ګاز، اوبه، استهلاکونه، ترميمات، د محصول ماليات، د بيمې د ګډون حق، انفرادي ځانګړي لګښتونه دايريږي.

ketabton.com - The Digital Library

**پنځم ټولګی – سنجشي حسابونه:** د فعالیت ځای د محاسبې پاڼه، چې وروسته تشریح کیږي، د لګښتونو د ویش د کلۍ په مرسته، ګډ یا مشترک لګښتونه پر انفرادي لګښتونو ورزیاتوي، چې پر بنسټ یې سنجشي حسابونه، لکه انفرادي سنجشي لګښتونه، د تکمیلي اجورو سنجشي لګښتونه، د تکمیلي ګډ سنجشي لګښتونه، د موادو ګډ سنجشي لګښتونه، اداري ګډ سنجشي لګښتونه او د خرڅلاو ګډ سنجشي لګښتونه را منځ ته کیږي، که چیرې د فعالیت ځای د سنجش له پاڼې څخه استفاده ونه شي، پنځم ټولګی آزاد پاتې کیږي.

**شپږم ټولګی:** د موضع مصرف په محاسبوي سنجش کې د پنځم آزاد ټولګي په تړاو تخصیص ورکول کیږي. که چیرې د موضع مصرف سنجش په محاسبه کې داخل شي، نو ورته پنځم او شپږم ټولګي ټاکل شوی دی.

**اووم ټولګی – د نیم کاره او کار ټمامه تولیداتو حسابونه:** په دغه ټولګي کې په ځانګړې توګه د نیم کاره او کارټمامه تولیداتو حسابونه دایریږي. سربیره پر دې، په دې ځای کې دستګاوې او د کار هغه وسایل چې په خپله په موسسه کې تولید شوي په خپله د موسسې د تولیداتو او سټرو ترمیماتو په برخه کې، چې د ارزښت د لوړیدو لامل ګرځي، ثبتیږي.

**اتم ټولګی – د خرڅلاو حسابونه:** دغه ټولګی د پلورل شوو کار ټمامه تولیداتو ، د بیرته ګرځول شوو او بیکاره موادو خرڅلاو، د تجارتي امتعې پلور(هغه امتعه ده، چې موسسې هغه اخیستي او د دویم ځل لپاره یې پرته له کوم بدلون څخه پلوري) او د خرڅلاو د نیمګړتیاوو لپاره ټاکل شوی دی.

**نهم ټولګی – د ختم حسابونه:** دغه ټولګی د محاسبوي ختم ټول حسابونه رانغاړي.

**حسابي دوه دایرې:** څرنګه چې حسابي ټولګي یا یوازې موجود حسابونه(د صفر، ۱، ۳ او ۷ ټولګي) او یا ځانګړي نتیجوي حسابونه(د۲، ۴، ۵، ۶ ، ۸ ټولګي) رانغاړي،
نو له حسابونو څخه د هر یو پیل او پای نسبتاً آسانه دی.
د صفر ۳-۱ او ۷ ټولګي د حسابونو موجودات په لومړي سر او د کال په پیل کې د افتتاحیه بیلانس له حساب څخه سرچینه اخلي او د مالي کال په وروستیو کې دغه حسابونه د ختم پر بیلانس پای مومي.

**پاتې شونې(بقایا):** یا د ۲- ۴- ۵- ۶ او ۸ ټولګي موجودات د ګټې او تاوان حساب رامنځ ته کوي. د حسابي چوکاټ په اساس چې پورته تشریح شوه، هره موسسه کولای شي خپل پلان جوړ کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**بیلګه:** په کابل کې د محمداکبر د فابریکې حسابي پلان یوازې هغه کسان کولای شي په صحي توګه ثبت کړي، چې له ثبت څخه وړاندې ټول حسابي پلان یې په دقیقه توګه مطالعه کړی وي. محمداکبر کولای شي د افغاني صنایعو د حسابي چوکاټ په اساس د خپلې موسسې لپاره لاندې حسابي پلان جوړ کړي.

**د ارامو حسابونو د صفر کلاس:**

**000 - هغه ځمکه چې ودانه نه وي.**

۰۰۱ – ودانه یا جوړه شوې ځمکه.

۰۲۰ - ماشین او ماشیني تأسیسات.

۰۳۰ – بارداره موټر.

۰۳۱ – د کار وسایل.

۰۳۷ - د فابریکې او ادارې تجهیزات.

۰۷۰ - شخصي«لومړنۍ» پانګه.

**۱- ټولګی- مالي حسابونه:**

۱۰- کسه

۱۲ - بانکي چک

۱۴ – د مستریانو طلبات.

۱۶ - د لیږونکو دیون یا پورونه.

۱۷ - متفرقه دیون یا پورونه.

۱۹ - شخصي حسابونه.

۲ ټولګی – تحدیدي حسابونه

۲۴ – د سود مخارج او حاصلات

۲۶ – له فعالیت ځای څخه بهر مخارج او حاصلات.

**۳- ټولګی - د مرستیال او محرکه اومو موادو حسابونه**

۳۰ – اومه مواد.

۳۳ – مرستیال مواد.

۳۴ - محرکه مواد.

**۴- ټولګی - د لګښتونو د ډولونو حسابونه:**

۴۰ - د بشپړ یا تکمیلي موادو لګښتونه.

۴۱ - د مرستیال موادو لګښتونه.

ketabton.com - The Digital Library

۴۲ – د محرقه موادو، انرژۍ او اوبو لګښتونه.
۴۳۱ - بشپړې یا تکمیلي اجورې.
۴۳۲ - مرستیالې اجورې.
۴۳۳ – معاشونه.
۴۴ – ټولنیز مخارج.
۴۷ – کرایه.
۴۸ - استهلاکونه

**۷- ټولګی -دنیم کاره اوکار تمامو تولیداتو حسابونه :**
۷۸ - نیم کاره تولیدات.
۷۹ - کار تمامه تولیدات.

**۸- ټولګی – د خرڅلاو حسابونه:**
۸۳ – د خرڅلاو حاصل.
۸۵ - د تجارتي امتعې د خرڅلاو حاصل.
۸۱ – د موجودۍ بدلونونه.

**۹- ټولګی – د پای یا ختم حسابونه:**
۹۸۰ – د فعالیت ځای د پایلې حساب.
۹۸۹ – د ګټې او تاوان حساب.
۹۹۸ – د بیلانس حساب.
۹۹۹ - د بیلانس د ختم حساب.

د محمداکبر د نساجي فابریکه کوچنۍ ده او ذکر شوي حسابونه يې د محاسبې لپاره بسنه کوي لویې موسسې که چیرې اړتیا ولري، کولای شي اعشاري سیستم ته په پام سره حسابونه تر دې زیات تجزیه کړي.

**بیلګه:**
**د ۴ حساب نمبر:** ( دحسابونو د ډولونو حسابي ټولګی )
**د۴۳حساب نمبر:** حسابي ګروپ(د معاشونو او اجورو لګښتونه)
**د ۴۳۹حساب نمبر:** د حساب ډول(یوازې د معاشونو لګښتونه)د اړتیا پر وخت یاد حسابونه کیدای شي تر دې زیات تجزیه شي.

ketabton.com - The Digital Library

**د ۴۳۹۰حساب نمبر:** د اداري مستخدمینو معاشونه.
**د ۴۳۹۱حساب نمبر:** د تخنیکي او نورو مستخدمینو معاشونه.

اعشاري سیستم کولای شي تر نهایي حد پورې توسعه پیدا کړي، د لویو موسسو په محاسبه کې ۵ یا ۶ خانه يي حسابي نمرې د نادراتو له جملې څخه نه وي.

**بیلگه:** د احمد صنعتي موسسه د / / ۱۳ کال د غوایي د میاشتې له پیله او د موجودۍ تر چارې وروسته په لاندې ډول په کار پیل کوي.

**۱ - لومړني یا اولیه موجودات:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ودانۍ | 182000 – 001 | بانک | 215000 – 113 |
| ماشین | 223000 – 01 | طلبات | 45000-14 |
| تجهیزات | 94000 – 037 | کسه | 110000 – 10 |
| اومه مواد | 25000 – 30 | دیون | 325000 – 16 |
| مرستیال مواد | 66000 – 33 | پانگه | 07 |

**۲- معاملې :**

| | |
|---|---|
| ۱- اومه مواد د بانکي چک په مرسته پیرودل کیږي | ۱۱۲۰۰۰ افغانۍ |
| ۲- اومه مواد د مصرف لپاره ورکول کیږي | ۹۷۰۰۰ افغانۍ |
| ۳- د لیږد لگښتونه نغده ورکول کیږي | ۵۰۰۰ افغانۍ |
| ۴- مرستیال مواد په مصرف رسیږي. | ۳۶۰۰۰ افغانۍ |
| ۵- فابریکې ته مالیه په نغده ورکول کیږي | ۱۲۵۰۰ افغانۍ |
| ۶- د کار تمامه تولیداتو خرڅلاو د بانکي چک په مرسته | ۳۴۵۰۰۰ افغانۍ |
| ۷- پیرودونکی په نغده ورکوي | ۲۵۰۰۰ افغانۍ |
| ۸- د اجورې او معاش ورکړه د بانکي چک په مرسته | ۴۵۰۰۰ افغانۍ |
| ۹- د پور ورکړه د بانکي چک په مرسته | ۱۲۵۰۰۰ افغانۍ |
| ۱۰- د یو پایه مستعمل ماشین خرڅلاو په نغده | ۱۵۰۰۰ افغانۍ |
| ۱۱- د دفتر د لوازمو پیرودنه د بانکي چک په مرسته | ۸۵۰۰ افغانۍ |
| ۱۲- د یوې تصدۍ د پرمختگ لپاره د یوې نوې ودانۍ پیرودنه په نغده | ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ |

ketabton.com - The Digital Library

**۳- حسابي پلان:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ودانۍ | ۰۰۱ | طلبات | ۱۴ | معاش | ۴۳۱ |
| ماشین | ۰۱ | کسه | ۱۰ | مالیه | ۴۶ |
| تجهیزات | ۰۳۷ | دیون | ۱۶ | متفرقه لګښتونه | ۴۷ |
| اومه مواد | ۳۰ | پانګه | ۰۷ | خرځلاو | ۸۳ |
| مرستیال مواد | ۳۳ | د اومو موادو لګښت | ۴۰ | ګټه او تاوان | ۹۸۹ |
| بانک | ۱۱۳ | دمرستیالو موادو لګښت | ۴۱ | د افتتاحیه بیلانس | ۹۹۸ |
| دختم بیلانس | ۹۹۹ | | | | |

**۴- پوښتنې:**

۱- افتتاحیه بیلانس جوړ کړئ؟

۲- پانګه پیدا کړئ؟

۳- افتتاحیه بیلانس د T پر حسابونو تجزیه کړئ؟

۴- ژورنال ترتیب کړئ؟

۵- د پایلې بیلانس جوړ کړئ(ګټه او تاوان)؟

۶- د ختم بیلانس ترتیب کړئ؟

**د لومړئ پوښتنې ځواب: افتتاحیه بیلانس په لاندې ډول جوړیږي:**

۱- د T بڼه رسم کوو.

۲- د P «پسیفي» اقلام د T ښي لوري ته او د A « اکتیفي» اقلام دT په کیڼ لوري کې لیکو.

۳- د T تر بشپړیدو وروسته د A اقلام جمع کوو او ترې پور او دین، چې د تصدۍ پر غاړه دی، منفي کوو؛ په دې توګه د متصدي اصلي پانګه لاسته راځي.

**افتتاحیه بیلانس**

| 998 | P |
|---|---|
| | A |
| 001: 182000<br>01: 223000<br>037: 94000<br>30: 25000<br>33: 66000<br>113: 215000<br>14: 45000<br>10: 110000 | 635000: 07<br>325000: 16 |
| **960000** | **960000** |

ketabton.com - The Digital Library

**د دویمې پوښتنې ځواب:**

د T تر بشپړیدو وروسته د A اقلام جمع کوو، چې جمعاً( ۹۶۰۰۰۰) افغانۍ شوې او له هغه څخه دیون یا پورونه منفي کوو، چې دیون ۳۲۵۰۰۰ افغانۍ دي؛ هغه څه چې پاتې کیږي 07 شخصي پانګه ده، چې ۶۳۵۰۰۰ کیږي. په لاندې ډول په فورمول کې روښانه کیږي:

07 شخصي پانګه = دیون – د A مجموع

960000 - 325000 = 635000

**د درېیمې پوښتنې ځواب:**

افتتاحیه بیلانس د T پر حسابونو تجزیه کړئ؟

| D 001 | C |
|---|---|
| 998:182000<br>10:120000 | 999:302000 |
| 302000 | 302000 |

| D 01 | C |
|---|---|
| 998:223000 | 10: 15000<br>999:208000 |
| 322000 | 223000 |

| D 037 | C |
|---|---|
| 998:94000<br>113:8500 | 999:102500 |
| 1023000 | 102500 |

| D 30 | C |
|---|---|
| 998:25000<br>113:112000 | 40:97000<br>999:4000 |
| 137000 | 137000 |

| D 33 | C |
|---|---|
| 998:66000 | 41:36000<br>999:30000 |
| 66000 | 66000 |

| D 113 | C |
|---|---|
| 998:215000<br>83:345000 | 30:112000<br>431:45000<br>16:125000<br>37:8500<br>999:269500 |
| 560000 | 560000 |

| D 10 | C |
|---|---|
| 998:110000<br>14:25000<br>01:15000 | 47:5000<br>46:12500<br>001:120000<br>999:12500 |
| 150000 | 150000 |

| D 14 | C |
|---|---|
| 998:45000 | 10:25000<br>999:20000 |
| 45000 | 45000 |

| D 40 | C |
|---|---|
| 30:97000 | 989:97000 |
| 97000 | 97000 |

ketabton.com - The Digital Library

| D | 41 | C |
|---|---|---|
| 33:36000 | | 989:36000 |
| 36000 | | 36000 |

| D | 46 | C |
|---|---|---|
| 10:12500 | | 989:12500 |
| 12500 | | 12500 |

| D | 47 | C |
|---|---|---|
| 10:5000 | | 989:5000 |
| **5000** | | **5000** |

| D | 431 | C |
|---|---|---|
| 113:45000 | | 989:45000 |
| **45000** | | **45000** |

| D | 83 | C |
|---|---|---|
| 989:345000 | | 113:345000 |
| **345000** | | **345000** |

| D | 16 | C |
|---|---|---|
| 113:125000<br>999:200000 | | 998:325000 |
| **325000** | | **325000** |

| D | 07 | C |
|---|---|---|
| 999:784500 | | 998:635000<br>989:149500 |
| **784500** | | **784500** |

**د څلورمې پوښتنې ځواب:**

**د احمد د صنعتي موسسې ژورنال پر ۱۳۸۸ کال کې**

| شمېر | تشریحات | کریدیت | دبت | مبلغ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | اومو مواد د بانک ي چک په مرسته پیرودل کیږي. | بانک: ۱۱۳ | اومو مواد ۳۰ | ۱۱۲۰۰۰ |
| ۲ | داومو موادو د لګښت لپاره اومه مواد ورکول کیږي. | اومه مواد ۳۰ | د اومو موادو لګښت ۴۰ | ۹۷۰۰۰ |
| ۳ | د لیږد لګښتونه په نغده ورکول کیږي. | کسه ۱۰ | دلیږد لګښتونه ۴۷ | ۵۰۰۰ |
| ۴ | مرستیال مواد په مصرف رسیږي. | مرستیال مواد ۳۳ | د اومو موادو لګښت ۴۱ | ۳۶۰۰۰ |
| ۵ | مالیه فابریکې ته په نغده ورکول کیږي. | کسه ۱۰ | د مالیې لګښتونه ۴۶ | ۱۲۵۰۰ |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۶ | د کارخانه تولیداتو خرڅلاو د بانکي چک په مرسته | د محصولاتو خرڅلاو ۸۳ | بانک ۱۱۳ | ۳۴۵۰۰۰ |
| ۷ | پیرودونکي په نغده ورکوي | طلبات ۱۴ | کسه ۱۰ | ۲۵۰۰۰ |
| ۸ | د بانکي چک په مرسته د معاش د اجورې ورکړه | بانک ۱۱۳ | دمعاش اجوره ۴۳۱ | ۴۵۰۰۰ |
| ۹ | د بانکي چک په مرسته | بانک ۱۱۳ | پور ۱۶ | ۱۲۵۰۰۰ |
| ۱۰ | د یو پایه مستعمل ماشین پلورل په نغده | د ماشین پلورل ۰۱ | کسه ۱۰ | ۱۵۰۰۰ |
| ۱۱ | د دفتر د لوازمو پیرودنه دبانکي چک په مرسته | بانک ۱۱۳ | تجهیزات ۰۳۷ | ۸۵۰۰ |
| ۱۲ | د یوې تصدۍ د پرمختګ لپاره د یوې نوې ودانۍ پیرودنه په نغده | کسه ۱۰ | ودانول ۰۰۱ | ۱۲۰۰۰۰ |

**د شپږمې پوښتنې ځواب:**

| D | 999 | C |
|---|---|---|
| 001:302000 | | 07:784500 |
| 01:208000 | | 16:200000 |
| 037:102500 | | |
| 30:40000 | | |
| 33:30000 | | |
| 113:269500 | | |
| 14:20000 | | |
| 10:12500 | | |
| **984500** | | **984500** |

| D | 83 | C |
|---|---|---|
| 40:97000 | | 83:345000 |
| 41:36000 | | |
| 46:12500 | | |
| 47:5000 | | |
| 431:45000 | | |
| 07:149500 | | |
| **345000** | | **345000** |

**د دریم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په دریم څپرکي کې د صنعتي حسابدارۍ بنسټیز مفاهیم تشریح او توضیح شول د هغې له جملې څخه د لګښتونو او مخارجو د صنعتي حسابدارۍ بنسټیز مفاهیم، د تولید په بهیر کې د تکمیلي موادو یوازې انفرادي لګښتونه د انفرادي ځانګړو لګښتونو د تولید په بهیر کې تکمیلي اجورې، د تولید په بهیر کې، تکمیلي انفرادي ځانګړي لګښتونه او د خرڅلاو انفرادي ځانګړي

ketabton.com - The Digital Library

لګښتونه، د تولید په بهیر کې د معاونه اجورې ګډ لګښتونه(مستقیم لګښتونه)، د اداري، تخنیکي کارکوونکو او د پرسونل معاشونه، مرستیال مواد، محرکه مواد، د لګښت حامل، نیم کاره تولیدات او کار تمامه تولیدات، همدارنګه د دې څپرکي بل مهم بحث حسابي چوکاټ او حسابي پلان او صنعتي فعالیت ځایونه وو، څرنګه چې زیاتره صنعتي افغاني موسسې تل د خپلو حسابونو د تنظیم لپاره له حسابي چوکاټ څخه، چې په لسو ټولګیو ویشل شوی، استفاده کوي، نو په تیرو وختونو کې حسابونه د جوړو شوو معاملو د بهیر په پام کې نیولو سره په پرله پسې توګه نومرې وهل کیدې او هرې تصدۍ به خپلو حسابونو ته د بیلو سیستمونو له مخې نومرې وهلې. یو څرګند او واضح معلومات د خالصې او ناخالصې ګټې، تمام شوي او تولیدي لګښتونو په اړه او یا د لګښتونو د ډول، د لګښت ځای او د لګښت حامل په اړه موجود نه وو، په دې اساس د یو واحد سیستم پر بنسټ ، چې د ټولو حسابونو د یو بشپړ نظام د شتون اړتیا لیدل کیده، چې په دې توګه دغه ډول یو ترکیب چې (د حسابونو منظم سیستم) د حسابي چوکاټ په نوم یادیږي، رامنځ ته شو.

له حسابي ټولګیو څخه هر یو د لاندې نومونو او محتویاتو لرونکي دي، صفر ټولګی هغه ټولګی دی، چې پکې له آرامو حسابونو یا د پانګې او ثابتې شتمنۍ له حسابونو او اوږد مهاله ثابته شتمنیو څخه بحث کیږي. لومړی ټولګی په مالي حسابونو پورې اړوند دی؛ دغه ټولګی ټولې لنډ مهاله پولي او کریدتي معاملې رانغاړي. دویم ټولګی په تحدیدي حسابونو پورې اړوندیږي، په دې ټولګي کې هغه ټول مخارج او حاصلات ثبتیږي، چې د فعالیت ځای له اصلي فعالیت سره سراو کار و نه لري.

په درییم ټولګي کې د محرکه او مرستیالو اومو موادو له حسابونو څخه بحث کیږي، په څلورم ټولګي کې د لګښتونو د ډولونو حسابونه توضیح شوي دي.

په پنځم ټولګي کې سنجشي حسابونه او په شپږم ټولګي کې د لګښت موضوع تشریح شوې ده. په اووم ټولګي کې د نیم کاره او کارتمامه تولیداتو حسابونه تشریح شوي، اتم ټولګی د خرڅلاو حسابونه او نهم ټولګی د پای یا ختم حسابونه دی.

څرنګه چې حسابي ټولګي یا یوازې موجود حسابونه (د صفر۱-۳ او ۷ټولګی) رانغاړي او یا ځانګړي نتیجوي حسابونه (۲-۴-۵-۶ او ۸ ټولګی) رانغاړي، نو د هر یو حساب پیل او پای نسبتاً آسانه دی.

ketabton.com - The Digital Library

**د درېيم څپرکي پوښتنې**

۱- لګښتونه او مخارج څه توپير لري، تشريح يې کړئ؟

۲- لګښتونه په څو لويو ګروپونو ويشل شوي له هغې جملې څخه ګډ لګښتونه(غيرمستقيم لګښتونه) تشريح کړئ؟

۳- نيم کاره توليدات څه شی دي او کوم ډول توليداتو ته کارتمامه توليدات وايو، موضوع تشريح کړئ؟

۴- حسابي چوکاټ په څو ټولګيو ويشل شوی، هر يوې په لنډه توګه تشريح کړئ؟

۵- يوه صنعتي موسسه د ډيرې زياتې ګټې د تر لاسه کولو په منظور د۱۳۸۸ کال د غويي د مياشتې پر لومړۍ نېټه د موجودۍ تر کار وروسته په لاندې ډول په کار پيل کوي:

**I- لومړني يا اوليه موجودات:**

| | | |
|---|---|---|
| ۱- تعميرات | ۰۰۱ | ۴۴۵۰۰۰ |
| ۲- ماشين آلات | ۰۱ | ۳۶۸۰۰۰ |
| ۳-تجهيزات | ۰۳۷ | ۲۴۵۰۰۰ |
| ۴- اومه مواد | ۳۰ | ۱۹۶۰۰۰ |
| ۵- مرستيال مواد | ۳۳ | ۲۴۷۰۰۰ |
| ۶- بانک | ۱۱۳ | ۲۲۵۰۰۰ |
| ۷- طلبات | ۱۴ | ۱۸۵۰۰۰ |
| ۸- کسه | ۱۰ | ۱۴۵۰۰۰ |
| ۹- ديون | ۱۶ | ۳۲۵۰۰۰ |
| ۱۰- شخصي پانګه | ۰۷ | ؟ |

**II –لاندې معاملې دمالي کال په بهيرکې رامنځ ته شوېدي:**

۱- اومه مواد د لګښت لپاره ورکړل شوي ۶۶۰۰۰

۲- مرستيال مواد د لګښت لپاره ورکړل شوي ۳۵۰۰۰

۳- د يو پايه مستعمل ماشين خرڅلاو دبانکي چک په مرسته ۴۵۰۰۰

۴- د خبرتيا يااعلانونو لګښتونه په نغده ورکول کيږي ۲۸۰۰

۵- داجورې اومعاش ورکړه دبانکي چک په مرسته ۷۵۰۰۰

۶- د کار تمامه توليداتو خرڅلاو په نغده ۳۲۰۰۰۰

۷- د دفتر د لوازمو پيرودنه د بانکي چک په مرسته ۲۴۰۰۰

۸- پيرودونکی يا مشتری په نغده ورکوي . ۳۰۰۰۰

ketabton.com - The Digital Library

-III

۱- افتتاحیه بیلانس یې ولیکئ؟

۲- شخصي پانګه یې پیدا کړئ؟

۳- معاملې په ژورنال کې ثبت کړئ؟

۴- د پایلې بیلانس(ګټه او تاوان)ولیکئ؟

۵- د ختم بیلانس یې ولیکئ؟

ketabton.com - The Digital Library



## دموجودۍ عمل، د بیلانس ترتیب او دحسابونو د ثبت قاعده

**ټولیزه موخه:**

د موجودۍ د کار ترسره کول، د بیلانس ترتیب او د ثبت قاعده

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر پای ته رسیدو وروسته به محصلین وکولای شي چې:

- د تصدۍ منقوله او غیر منقوله شتمني لومړی لېست او ورپسې موجودي یې تر سره کړي.
- د موجودۍ له لېست څخه دې افتتاحیه بیلانس جوړ کړي.
- د پسیفي(Passive) او اکتیفي(Aetive)اقلامو تر منځ دې توپیر په دقیقه توګه پیدا کړي
- د تصدۍ بیلانس دې په اړوندو حسابونو تجزیه کړي.
- پر موجوده حسابونو دې دقیقاً پوه شي.
- له نتیجوي حسابونو سره دې آشنایي ترلاسه کړي.

**د موجودۍ عمل Inventory**

د افغانستان د سوداګریز قانون د مقرراتو په پام کې نیولو سره، هر سوداګر مجبور دی، د لومړي کال په پیل کې او د هر کال په پای کې د خپلې شتمنۍ او دیون یا پورونو له معاملې څخه موجودي تر سره کړي، د موجودۍ په اړه ضروري اجراات د موجودۍ د عمل(موجودي کول) په نامه یادیږي.

د (Inventory) اصطلاح د( Inveniere) له لاتیني لفظ څخه چې د پیداکولو او لټولو په معنا ده، اخیستل شوې. موجودي کول یوازې د مالونو په شمېرلو، اندازه کولو او وزن کولو بسنه نه کوي، بلکې د نغدو پیسو، وکسل چک، ټوله بانکي شتمني، د دیون یا پورونو او طلباتو د مجموع

ketabton.com - The Digital Library

تثبیتول هم اړین دي. د صحیح قیمت ګذارۍ مسأله د موجودۍ د عمل ځانګړې ستونزه رامنځ ته کوي. شتمنۍ باید ګرانه او دیون باید ارزانه قیمت ګذارۍ نه شي.

د موجودۍ د کار پایلې باید د محاسبې د حسابونو له پایلو سره سمون ولري او هم دې همغږي شي، څکه امکان لري، چې د موجودۍ په کار کې، د مالونو موجودي د یوې برخې د خرابیدو په پام کې نېولو سره یې، د موجودۍ د محاسبې د حسابونو نسبت لږ وښیي. د موجودۍ د چارو په ترسره کولو کې زیات احتیاط، ډېره پاملرنه او رښتینتوب له اړینو مخکینیو شرایطو څخه ګڼل کېږي.

## د موجودۍ لېست Inventar

د موجودۍ د کار پایلې، چې د شتمنۍ او دیون ټول اقلام په بر کې نیسي، په یو بیل لړلیک کې جمع کیږي، دا لړلیک د موجودۍ د لست په نوم یادیږي.

د موجودۍ د لست اصطلاح (Inventar) هم د لاتیني ژبې له (inventarum) څخه اخیستل شوې او معنا یې « د موندل شوو لړلیک» ده.

د موجودۍ لست د یو کتاب په بڼه جوړیږي «دافغانستان سوداګریز قانون» هغه اقلام، چې باید د موجودۍ په دفتر کې وښودل شي، په دقیقه توګه ټاکلي دي.

د موجودۍ لست له درېو ځانګړو برخو څخه جوړ شوی، چې معمول اقلام یې په لاندې توګه تشریح کیږي:

**۱ – شتمني: د شتمنۍ اقلام په لاندې ډول سره ویشل کیږي:**

**الف- ثابته شتمني:** د ثابتې شتمنۍ تر نوم لاندې د شتمنۍ هغه ټول اقلام شمېرل کېږي، چې وکولی شي زیاته موده، لږ تر لږه یو کال، استعمال شي. لکه: ځمکه، ودانۍ، ماشین او د ماشین تأسیسات، د کار وسایل او د لیږدولو وسایل، تجهیزات، د دفتر لوازم او داسې نور.

**ب – ګرځنده(سیاره) شتمني:** تر دې نامه لاندې د شتمنۍ ټول هغه اقلام شمېرل کېږي، چې په یوه لږه موده کې، (له یو کال څخه لږ) په کې بدلون راشي. لکه: اومه، مرستیال، او محروقه مواد، نیم کاره او کارتمامه تولیدات، طلبات، بانکي شتمني او د کسې موجود.

**۲ – پورونه « بهرنۍ پانګه او وجایب» :**

**دیون یا پورونه په لاندې ډولونو ویشل کیږي:**

**الف – اوږدمهاله پورونه(دیون):** تر دې نامه لاندې ټول هغه وجایب پیژندل کیږي، چې لږ تر لږه تر یو کال وروسته د ورکړې وړ وي. مثلاً اوږدمهاله کریدتونه، تضمین لرونکي پورونه او د اشخاصو اوږدمهاله پورونه.

**ب – لنډ مهاله پورونه(دیون):** له دې ډول دیون سره ټول هغه وجایب اړه نیسي، چې له یو کال څخه په لږه موده کې د ورکړې وړ وي، لکه د تبادلوي برات له درکه دیون یا پورونه ((برات

ketabton.com - The Digital Library

هغه لیکنه ده چې د هغې په سبب د پیسو ورکړه یا راکړه بل ته ترسره کړي)) د بانکونو او لیږونکو پر وړاندې وجایب.

**۳ - شخصي پانګه:**

په عادي حالت کې شتمني باید د پورونو په پرتله زیاته وي. همدارنګه د شخصي پانګې ارزښت چې د خالصې شتمنۍ په نوم هم یادیږي، له پورونو او دین څخه زیات وي. شخصي پانګه د ټولو پورونو یا دیون له تفریق، د شتمنۍ له مجموع څخه لاسته راځي.

**د موجودۍ یو لېست په ډېره ساده بڼه په لاندې ډول سره دی**

**د موجودۍ لست، د کب ۳۰ نیټه۱۳۸۸ کال**

| جنسونه | افغانی | افغانی |
|---|---|---|
| **۱ - شتمني** | | |
| **الف: ثابته شتمني** | | |
| ۱-ماشینونه | | ۱۳۰۰۰۰۰ |
| ۲-تجهیزات | | ۵۰۰۰۰۰ |
| **ب: گرځنده یاسیاره شتمني** | | |
| ۱- بشپړ مواد | | ۲۱۰۰۰۰۰ |
| **۲- د پیرودونکو طلبات** | | |
| الف «اسداله دچاریکارو» | ۸۰۰۰۰ | |
| ب « نصراله د استالف » | ۱۰۰۰۰۰ | ۱۸۰۰۰۰ |
| | | ۳۰۰۰۰۰ |
| **۳ - نغده پیسي** | | **۴۳۸۰۰۰۰** |
| د شتمنۍ مجموع | | |
| **۲ - پورونه یادیون** | | **۱۵۰۰۰۰۰** |
| اوړدمهاله پور- غلام نبي د کابل | | ۱۵۰۰۰۰۰ |
| د پورونو یا دیون مجموع | | |
| **۳ - د شخصي پانګې سنجش** | | ۴۳۸۰۰۰۰ |
| د شتمنۍ مجموع | | **۱۵۰۰۰۰۰** |
| د پورونو یا دیون مجموع | | **۲۸۸۰۰۰۰** |
| **شخصي پانګه** | | |

ketabton.com - The Digital Library

**د بیلانس جوړونه:**

د موجودۍ لست یو ډېر مفصل جدول او د شتمنۍ او دیون د ټولو اقلامو شرح ده. د هغه پر خلاف بیلانس((دغه اصطلاح له ایتالوي(Bilancia) لفظ څخه اخیستل شوې او د تلې یا ترازو معنا ورکوي)) د یو حساب په بڼه څرګند او لنډ معلومات وړاندې کوي، چې په هغه کې شتمني او دیون د یو بل پر وړاندې ایښودل کیږي.

بیلانس ټول ورته اقلام لنډوي او د موجودۍ د لست پرخلاف د اندازې له ښودلو ډډه کوي. د بیلانس کیڼ لورته د شتمنۍ ټول اقلام ښودل شوي، چې هغه د اکتیف په نامه، او د هغه ښي لورته شخصي پانګه او ټوله بهرنۍ شتمني((دیون))ثبتیږي. چې هغه د پسیف په نامه یادیږي.

د بیلانس د پسیف او اکتیف د لوري جمع سره مساوي ده، چې په دې ځای کې د بیلانس(balance) «تلې» اطلاح هم څرګندیږي.

یو بیلانس ښيي، که چیرې د تلې په دواړو خواوو کې مساوي وزنونه کیښودل شي، باید نوموړې تله برابره یا هم وزنه شي.

د پانګې په یو بیلانس کې، د یوې موسسې پانګه اچونه د دویم ځل لپاره څرګندیږي. د پسیف لوری ښيي، چې پانګه له کومې سرچینې څخه اخیستل شوې او د اکتیف لوری د نوموړې پانګې د استعمال بڼه څرګندوي.

| پسیف | بیلانس | اکتیف |
|---|---|---|
| د پانګې منابع | | د پانګې استعمال |

د موجودۍ هغه لست چې مخکې وکتل شو لاندینی بیلانس لاسته راځي.

| P بیلانس دکب ۲۹ A ۱۳۸۸ | |
|---|---|
| افغانۍ<br>1- شخصي پانګه 2880000<br>2 – (دیون)بهرنۍ پانګه<br>1500000 اوږد مهال پورونه | افغانۍ<br>I- ثابته شتمني<br>1- 1300000 ماشینونه<br>2- 500000دکارخانې تجهیزات<br>II– ګرځنده شتمني<br>1- 2100000 تکمیلي مواد<br>2- 180000 طلبات<br>3- 300000 کسه |
| **4380000** | **4380000** |

ketabton.com - The Digital Library

**په بیلانس کې د قیمت بدلون:** باید یادونه وکړو، چې هره معامله د بیلانس د تغییر لامل ګرځي. په دې معنا:

۱- باید معامله تر سره شوې وي، خو د بیلانس مجموع تغییر نه وي موندلی.

۲- باید معامله تر سره شوې وي خو د بیلانس مجموع یا زیاتوالی پیدا کړی وي او یا د بیلانس مجموع کموالی موندلی وي. نو د بیلانس د بنې بدلونونه په لاندې څلورو ډولونو سره شونې دي.

**۱ – اکتیفي تبادله « د دوه قلمه شتمنیو تر منځ تبادله »:** په دې صورت کې د بیلانس د دواړو خواوو مجموع پرته له کوم بدلون څخه باقي پاتې کیږي.

**مثال:** د تکمیلي موادو پیرودنه د نغدو(۱۰۰۰۰۰)افغانیو په ورکولو سره د تکمیلي موادو په ارزښت کې په هغه اندازه زیاتوالی رامنځ ته کېږي، چې په هماغه اندازه د کسه په موجود کې کموالی رامنځ ته کېږي.

**۲ – پسیفي تبادله « د پانګې د دوو اقلامو تر منځ تبادله»:** په دې تبادله کې هم د بیلانس د دواړو خواوو په سرجمع کې کوم بدلون نه راځي.

بیلګه: د اړوند لیږدوونکي په خوښه یو لنډ مهال پور، چې «۱۲۵۰۰۰» افغانۍ کیږي پر اوږد مهال پور بدلیږي. د هغه په اساس په اوږد مهال پورونو کې په هغه اندازه زیاتوالی راځي، چې پر لنډ مهال پورونو یا دیون کې کموالی رامنځ ته کېږي.

**۳ – په اکتیف او پسیف کې زیاتوالی:** په دې ځای کې د بیلانس د دواړو خواوو په اقلامو کې برابر یا مساوي مبلغونه زیاتیږي. همدارنګه د بیلانس د دواړو خواوو په مجموع کې په عین مبلغ سره زیاتوالی رامنځ ته کیږي.

**بیلګه:** د دفتر د فرنیچر او موبل پیرودنه د« ۲۰۰۰۰ » افغانیو په قیمت د پور په ډول. د دې معاملې په اساس د شتمنۍ په یوه برخه کې(د ادارې او کارخانې په تجهیزاتو کې) زیاتوالی راغلی، چې په عین وخت کې په دیون کې هم زیاتوالی رامنځ ته کېږي.

**۴ – د اکتیف او پسیف کموالی:** په دې صورت کې د بیلانس د دواړو خواوو په اقلامو کې په مساوي مبلغونو سره کموالی راځي، چې په دې توګه د بیلانس د دواړوو خواوو په مجموع کې هم په عین مبلغ سره کموالی رامنځ ته کېږي.

**بیلګه:** د لیږدوونکي د دیون نغدي ورکړه د کسه په اقلامو کې د ۲۵۰۰۰ افغانیو په اندازه کموالی رامنځ ته کړی او په عین وخت کې د دیون مبلغونه د بیلانس د پسیف په خواکې هم کمېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**په بیلانس کې د قیمت بدلونونه:** کوم بیلانس چې په لاندې برخه کې ترسترګو کیږي، یو افتتاحیه بیلانس دی، چې له څو معاملو وروسته یې بدلون موندلی او ورسره د بیلانس قیمت تغییر کوي.

| P | بیلانس | A |
|---|---|---|
| **افغانۍ** | | **افغانۍ** |
| 645000 شخصي پانګه | | 120000د کارګاه تجهیزات |
| 50000اوږدمهاله پورونه | | 300000 تکمیلي مواد |
| 425000 دیون | | 540000 طلبات |
| | | 160000 کسه |
| **1120000** | | **1120000** |

په بیلانس کې د قیمت د بدلونونو موضوع«اکتیفي بدلونونه، پسیفي بدلونونه، په اکتیف او پسیف کې زیاتوالی او کموالی » چې مخکې په مشرحه توګه توضیح شوه، کولی شو په لنډه توګه په یو جدول کې هم وښیو.

ketabton.com - The Digital Library

**په بیلانس کې د قیمت بدلونونه (اکتفي بدلونونه، پسیفي بدلونونه، په اکتیف او پیف کې زیاتوالی او کموالی)**

| دبدلونونو ډول | شخصي پانګه | اوړد مهال پور | ددیون لیږدونکی | د پسیف مجموع | د اکتیف مجموع | طلبات | کسه | تکمیلي مواد | تجهیزات | معاملې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اکتیفي بدلونونه اکتیفي زیاتوالی او اکتیفي کموالی | 645000<br>--- | 50000<br>--- | 425000<br>---- | 1120000<br>---- | 1120000<br>----- | 540000<br>---- | 160000<br>-100000 | 300000<br>+ 100000 | 120000<br>--- | دبیلانس لومړني موجودات په نغده دتکمیلي موادو پیرودنه |
| پسیفي بدلونونه دپسیفي زیاتوالی او د پسیف کموالی | 645000<br>--- | 50000<br>+ 125000 | 425000<br>- 125000 | 1120000<br>---- | 1120000<br>----- | 540000<br>---- | 60000<br>---- | 400000<br>----- | 120000<br>---- | د پور د بدلون مجموع |
| په اکتیف او پسیف کې زیاتوالی | 645000<br>--- | 175000<br>---- | 300000<br>+20000 | 1120000<br>---- | 1120000<br>----- | 540000<br>---- | 60000<br>---- | 400000<br>----- | 120000<br>---- | د موبل د پیرېدلو مجموع |
| د اکتیف او پسیف کموالی | 645000<br>--- | 175000<br>25000 | 320000<br>--- | 1140000<br>---- | 1140000<br>----- | 540000<br>---- | 60000<br>25000 | 400000<br>----- | 140000<br>---- | لیږونکي ته د ورکړې مجموع |
| | 645000 | 150000 | 320000 | 1115000 | 1115000 | 540000 | 35000 | 400000 | 140000 | **مجموع** |

ketabton.com - The Digital Library

په لانديې بیلانس کې په بیلانس کې د قیمت بدلونونه او تغییرات (د مخکیني بیلانس په پرتله) په وضاحت سره جوتیږي.

| A | | بیلانس | P |
|---|---|---|---|
| افغانۍ | | افغانۍ | |
| 1- تجهیزات | 140000 | 1- شخصي پانګه | 645000 |
| 2- تکمیلي مواد | 400000 | 2- اوږد مهال پورونه | 150000 |
| 3- کسه | 35000 | 3- ددیون لیږونکی | 320000 |
| 4- طلبات | 540000 | | |
| **1115000** | | **1115000** | |

**پر حسابونو د بیلانس تجزیه:**

که په عمل کې د دایمي متحرک بیلانس له شیما څخه استفاده وشي، زیاتې ستونزې به رامنځ ته شي.کوم بدلونونه چې د ورځنیو معاملو په مرسته رامنځ ته کیږي، ډیر زیات دي او د دې اړتیا رامنځ ته کوي، چې د بیلانس د هر یواقلام لپاره یو بیل حساب جوړ شي.

یا په بل عبارت ویلای شو چې بیلانس په خپلو توکو باندې تجزیه کیږي. یعنې دا چې د افتتاحیه بیلانس دننه په هر قلم باندې د T یو بیل حساب دایریږي.

هره معامله چې د مالي کال په بهیر کې تر سره کیږي، په لومړي قدم کې د T په حساب کې د دبل انتری« Double entry» په بڼه لیکل کیږي. دا دی له لاندې شرحې سره یو افتتاحیه بیلانس، چې د T په حسابونو باندې تجزیه شوی دی.

**مطالعه کوو:**

| A | افتتاحیه بیلانس | P | |
|---|---|---|---|
| افغانۍ | | افغانۍ | |
| 1- د کار ځای تجهیزات | 120000 | 1-شخصي پانګه | 645000 |
| 2- تکمیلي مواد | 300000 | 2-اوږد مهال پورونه | 50000 |
| 3- طلبات | 54000 | 3- دیون | 425000 |
| 4- کسه | 160000 | | |
| 1120000 | | 1120000 | |

ketabton.com - The Digital Library

| د دبت کارځي دتجهیزاتو حساب کریدت<br>D C | | D شخصي پانګه C | |
|---|---|---|---|
| 1 – B 120000 | | | 645. 000 B – 1 |
| D تکمیلي مواد C | | D اوږد مهال پورونه C | |
| 1 – B 300000 | | | 50. 000 B – 1 |

| D طلبات C | D دیون C |
|---|---|
| 1 – B 54000 | 425000 B – 1 |

لومړني موجودات د دبت کیڼ لوري ته په اکتیفي حسابونو کې ځای پر ځای کېږي؛ ځکه دغه موجودات د بیلانس په کیڼ لوري هم واقع شوي دي.

پسیفي حسابونه د هغه برخلاف، لومړني موجوداتو ته د کریدت په خوا کې(ښي لوري ته) ځای ورکول کېږي؛ ځکه هغوی هم د بیلانس په ښي لوري کې ځای لري.

**له دي پلوه باید تل لاندینیو ټکو ته جدي پام وشي:** د دبت په لوري کې اکتیفي حسابونه، لومړني موجودات او تزئیدات او په کریدت لوري کې یې کموالی ښکاره کېږي.

| D اکتیفي حسابونه C | |
|---|---|
| لومړني موجودات<br>+<br>تزئیدات | کموالی - |
| | |

پسیفي حسابونه د هغه پر خلاف وي. ځکه په دې ځای کې لومړني موجودات او تزئیدات د کریدیت په لوري کې او کموالی یې په دبت لوري کې لیکل کیږی.

| D پسیفي حسابونه C | |
|---|---|
| کموالی | لومړني موجودات<br>+<br>تزئیدات |
| | |

ketabton.com - The Digital Library

**د ثبت قاعده:**

هره معامله په معمول ډول د نوبت په ترتیب او د نېټې په لیکلو سره په یو ځانګړي کتاب کې لیکل کیږي.

دغه کتاب د اساس کتاب، یا ژورنال، روز نامچې او یا یادښت کتاب په نومونو یادیږي. تر دې وروسته یاد مبلغونه له دې ځای څخه خپلو اړوندو حسابونو ته لیږدول کیږي.

ټول دغه حسابونه په مجموعي ډول سره اصلي کتاب رامنځ ته کوي. د بیلابیلو کتابونو په اړه په تیر څپرکي کې په دقیقه توګه تفصیلات ورکړل شوي دي.

د اساس په کتاب کې د معاملو د لیکلې تشبیت لپاره، د یو ثابت ثبت بڼه رامنځ ته کېږي، چې د ثبت د قاعدې یا د ثبت عبارت په نوم یادیږي.هره معامله لږ تر لږه د دوو حسابونو د بدلون لامل«یو ځل د کریدت په لور او بیا د دبت په لور» کیږي، چې د ثبت په قاعده کې له دواړو حسابونو څخه نوم اخیستل کیږي. ( له دې کبله د ثبت دغه قاعده د حسابونو د تسویې په نوم هم یادیږي).

تل لومړی له دبتي حسابونو څخه او ورپسې له کریدتي حسابونو څخه نوم اخیستل کیږي، دغه دواړو نومونه د « له » د تورو په مرسته له یو بل سره اړیکې پیدا کوي، چې په پایله کې یې له تیروتنې څخه مخنیوی کیږي.

**بیلګه:** موږ پر خپل پیرودونکي محمدعلي چې د هرات ولایت اوسیدونکی دی د ۲۰۰۰۰ افغانیو په قیمت مالونه پلورو. د۱۳۸۸ کال د لیندۍ د ۵ نیټې د ۱۸۳ صادرې د صورت حساب له مخې، د پور موده « ۸۰» ورځې ده. دغه واقعیت لاندې مفکورې رامنځ ته کوي.

**الف:** د دغې معاملې په وسیله په کومو حسابونو کې تحویل رامنځ ته کېږي.

**ب:** آیا دغه حسابونه اکتیفي دي او که پسیفي ؟

**ج:** آیا په یادو حسابونو کې یو زیاتوالی یا کموالی رامنځ ته کېږي؟

**د:** د ثبت قاعده یې څه ډول ده؟

| D | امتعه C | D | د(محمد علی)طلبات C |
|---|---|---|---|
| افغانۍ<br>100000 لومړنی موجود | افغانۍ<br>20000د(محمدعلی) طلبات | افغانۍ<br>10000- لومړنی موجود<br>20000 - امتعه | |
| | | | |

ketabton.com - The Digital Library

**د هغه حسابي جمله په لاندې ډول ده:** له امتعې څخه طلبات. د دغې معاملې د ثبت قاعده په لاندې بڼې سره جوړېږي:

- په محمد علی پورې اړوند د طلبات حساب ،۲۰۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي « پور اخلي »
- ۲۰۰۰۰ افغانۍ د مالونو د امتعې حساب ورکوي.
- نو په لنډه توګه د طلباتو حساب د امتعې له حساب څخه۲۰۰۰۰ افغانۍ پور اخلي.

**له هغه څخه په لنډه توګه:** د طلبات په حساب د امتعې له حساب څخه ۲۰۰۰۰ افغانۍ.

**تر ټولو په لنډ ډول:** د طلباتو حساب ته د امتعې له حساب څخه ۲۰۰۰۰ افغانۍ.

**موجود حسابونه:** څرنګه چې د بیلانس حسابونه، موجودات محاسبه کوي، نو موجودو حسابونو په نوم هم یادیږي.

د موجودو حسابونو شکلي جوړښت کټ مټ د کسې د حسابونو په شان دی، چې یاد حساب په لاندې ډول سره توضیح کیږي:

**یو موجود حساب لاندینۍ بڼه لري**

**دبت** — **حساب** — **کریدت**

| | | | | افغانۍ | | | | افغانۍ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وری | | 1 | داحمد علی د ورکړې موجود | 9500 | وری | 5 | د اجورو ورکړه | 3400 |
| " | | 9 | له بانک څخه اخیستنه | 5800 | " | 11 | اسد ته ورکړه | 4300 |
| " | | 15 | | 2100 | " | 31 | پاتې | 11600 |
| " | | 29 | دامیر محمد ورکړه | 1900 | | | | |
| | | | | 19300 | | | | 19300 |

د یو حساب ناثبت شوې برخه، د یوې مایلې کرښې په مرسته بې قیمته کیږي« قیدیږي» تر څو د وروستیو ثبتونو په مرسته په یاد حساب کې جعل کاري ترسره نه شي.

د قید دغه نښه د محاسب د زاویې په نوم یادیږي.

د محاسب زاویه باید د مبلغ په ستون کې دننه نه شي. تر دې وروسته، چې د کسې موجود حساب تشریح او د هغه بڼه مو رسم کړه، اوس دوه نور حسابونه«اکتیفي او پسیفي» هم په مشرحه توګه توضیح او رسموو.

د مشتري عبدالستار حساب، چې دلته څرګند شوی، یو مهم اکتیفي حساب دی.

ketabton.com - The Digital Library

**د مشتري عبدالستار حساب – کابل**

**« هغه څوک دی چې له موسسې څخه پوروړی دی »**

**« د موسسې طلبات »**

| دبت | تفصیلات | افغانۍ | نیټه | تفصیلات | کریدت |
|---|---|---|---|---|---|
| د وري 3 | انتقال | 5000 | د وري 14 | بانکي حواله | 9000 |
| د وري 10 | د17نمبردحساب صورت | 6000 | د وري 31 | پاتې | 14000 |
| د وري 15 | د32نمبر د حساب صورت | 8000 | | | |
| د وري 22 | د54نمبر د حساب صورت | 4000 | | | |
| | | 23000 | | | 23000 |

**د لیږونکي غلام صدیق حساب – کابل**

**هغه څوک دی چې موسسې ته یې پیسې لیږلې دي« دیون »**

| دبت | تفصیلات | افغانۍ | نیټه | تفصیلات | کریدت |
|---|---|---|---|---|---|
| دچنګاښ 15 | بانکي حواله | 10000 | دچنګاښ 1 | د618 نمبر د حساب د لیږدوني صورت | 3000 |
| دچنګاښ 31 | پاتې | 6500 | دچنګاښ 10 | د1520 نمبر د ح صورت | 4000 |
| | | | دچنګاښ 23 | د1821نمبر د ح صورت | 8000 |
| | | | دچنګاښ 29 | | 1500 |
| | | 16500 | | | 16500 |

ketabton.com - The Digital Library

**نتيجوي حسابونه:**

هغه معاملې چې تر اوسه تر څېړنې لاندې نيول شوي ، تبادلوي معاملې دي، چې د پانګې په حساب پوري نه اړونديږي، په داسې حال کې چې داسې معاملې هم شتون لري، چې پانګې ته هم تغيير ورکوي. هره تصدۍ د خپلو دندو د ترسره کولو پر مهال ځينې ورکړې(پرداخت) لرلای شي.

مثلاً د موسسې د کرايې، د خونو تودولو او روښانولو لپاره لګښتونه د پرسونل معاشونه او اجورې، د ماليې بيلابيل ډولونه، د دفتر د کار وړ مواد« کاغذ، قلم او داسې نور» او د اعلانونو د خپرولو لپاره ورکړه او داسې نور... دا ورکړې د لګښتونو يا مخارجو په نوم يادېږي.

د تصدۍ اقتصاد له نظره له مخارجو څخه د لګښتونو د تشخيص په اړه، مخکې توضيحات او تشريحات ورکړل شوي دي. همدارنګه يوه تصدۍ لاسته راوړنې او ګټې لري. لکه د خرڅلاو حاصلات، د سود له درکه لاسته راوړنې، حق العمل، نغدي تخفيفونه او داسې نور.

دغه لاسته راوړنې يا ګټې د فعاليت يا حاصلاتو په نوم يادېږي، له حاصلاتو څخه د فعاليت تشخيص د تصدۍ د اقتصاد له پلوه، مخکې توضيح شوي دي. اوس د مخارجو او حاصلاتو مفاهيم استعمالیږي.

مخارج د شخصي پانګې له کموالي څخه عبارت دی او د حاصلاتو په وسيله په شخصي پانګه کې زياتوالی رامنځ ته کيږي.

که د مخارجو او حاصلاتو هر قلم په مستقيمه توګه د شخصي پانګې په حساب ثبت شي، نو د دغه حساب وضاحت له منځه ځي. دپانګې حساب بايد د مالي کال په بهير کې د امکان تر حده پرته له کوم بدلون څخه پاتې شي، ځکه دغه حساب په ساکنو حسابونو پورې اړونديږي.

سربيره پردې دغه موضوع د هرې تصدۍ لپاره د اهميت وړ ده، چې د مخارجو او حاصلاتو د هر يو حجم په هر زمان کې په چټکتيا سره او پرته له ستونزو پيدا کړای شي.

نو پر دې اساس، متصدي په خپله محاسبه کې د موجوده حسابونو تر څنګ، نور حسابونه جوړوي، تر څو د پانګې بدلونونه پرې ثبت شي.

د شخصي پانګې بدلونونه د تصدۍ د پايلې د تثبيت «د ګټې او تاوان» لپاره قاطع وي او په دې اساس دغه حسابونه د نتيجوي حسابونو په نوم هم يادېږي، نوځکه نتيجوي حسابونه«د مخارجو او حاصلاتو حسابونه» مخکينې حسابونه او يا فرعي حسابونه، د شخصي پانګې حسابونه دي. دغه حسابونه لکه شخصي پانګه د پانګې کموالی«مخارج» د دبت په لوري او د پانګې تزييدات«حاصلات» د کريدت په لوري ثبتوي.

د حاصلاتو مهم حسابونه د خرڅلاو حاصلات دي. چې د خپل کريدت په طرف کې د کارنامه توليداتو پلورنې ښيي.

ketabton.com - The Digital Library

هغه څه چې د مخارجو په مهمو حسابونو پورې اړونديږي، دا دي:

- د تکميلي موادو لپاره د مخارجو حساب.
- د محروقه موادو لپاره د مخارجو حساب.
- د ګاز، برېښنا او اوبو لپاره د مخارجو حساب.
- د اجورو لپاره د مخارجو حساب.
- د معاشونو لپاره د مخارجو حساب.
- د کرايې لپاره د مخارجو حساب.
- د استهلاکاتو لپاره د مخارجو حساب.

د تکميلي موادو لپاره د مخارجو حساب، د خپل دبت په لوري کې ټول هغه تکميلي مواد ثبتوي، چې له تحويلخانې څخه مواد توليدي کارځای ته ليږدول کيږي. د ثبت قاعده يې عبارت ده له:

د تکميلي موادو لپاره د مخارجو حساب د موجوداتو له موادو څخه ټول مخارج او حاصلات په لومړي پړاو کې د فعاليت ځای د پايلې په يو ځانګړي حساب کې جمع کيږي. ورپسې د دغه حساب پاتې د شخصي پانګې حساب ته ليږدول کيږي؛ له فعاليت ځای څخه بهر مخارج او حاصلات په راتلونکي کې تر څېړنې لاندې نيول کيږي.

دوی په يو بل ځانګړي حساب کې، د بې طرفه پايلې په حساب کې سرجمع کيږي، وروسته دواړه حسابونه د خپلې پاتې مجموعې د ګټې او تاوان حساب ته ورکوي، چې د ګټې او تاوان حساب د دويم ځل لپاره خپله بقايا شخصي پانګې ته ليږدوي. پورتنۍ موضوع په راتلونکو څپرکو کې په مشرحه توګه تر بحث لاندې نيول کېږي.

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډيز**

د افغانستان د سوداګريز قانون د مقرراتو په پام کې نيولو سره، هر سوداګر مجبور دی، د لومړي کال په پيل او د هر کال په پای کې د خپلې شتمنۍ او پورونو د معاملې موجودي تر سره کړي.

موجودي کول يوازې د مالونو په شمارلو، اندازه کولو او وزن کولو بسنه نه کوي، بلکې د نغدو پيسو، وکسل چک، ټوله بانکي شتمني، د ديونو او طلباتو د مجموع تثبيتول هم اړين دي.

د موجودۍ د کار پايلې بايد د محاسبې د حسابونو له پايلو سره سمون ولري او هم دې همغږي شي، ځکه امکان لري چې د موجودۍ په کار کې، د مالونو موجودي د هغوی د ځينې برخو د خرابيدو په پام کې نيولو سره، د موجودې محاسبې د حسابونو په نسبت لږ وښيي.

ketabton.com - The Digital Library

زيات احتياط، پاملرنه او رښتينتوب د هرې موجودۍ د چارې د اړينو او لومړنيو شرايطو له جملې څخه دي. د موجودۍ د کار پايلې، چې د شتمنۍ او ديون ټول اقلام رانغاړي، په يو بيل لړليک کې جمع کيږي، دا لړليک د موجودۍ د لست په نوم ياديږي.

د موجودۍ لست له دريو ځانګړو برخو څخه جوړ شوی:

۱- شتمني « ثابته شتمني، ګرځنده يا سياره شتمني».

۲- پورونه يا ديون « بهرنۍ پانګه او وجايب».

۳- شخصي پانګه.

بايد پردې پوه شو، چې د موجودۍ لست د شتمنۍ او پورونو يا ديون د ټولو اقلامو يو ډير مفصل او مشرح جدول دی. خو بيلانس ددې پر خلاف، د لنډو او ځرګندو معلوماتو د حساب يو بڼه وړاندې کوي، چې په کې شتمنۍ او پورونه د يوبل پر وړاندې ايښودل کيږي.

بيلانس ټول ورته اقلام لنډوي او د موجودۍ د لست پرخلاف د اندازې له ښودلو ډډه کوي. د بيلانس کيڼ لورته اکتيفي اقلام او د بيلانس ښي لورته پسيفي اقلام ثبتيږي، چې د بيلانس د اکتيفي اقلامو مجموع بايد د بيلانس د پسيفي اقلامو له مجموع سره مساوي وي.

هره معامله د بيلانس د بدلون لامل کيږي؛ په دې معنا:

۱ - بايد معامله تر سره شوې وي، خو د بيلانس مجموع بدلون نه وي موندلی.

۲ - بايد معامله تر سره شوې وي، خو د بيلانس مجموع يا زياتوالی پيدا کړی وي او يا د بيلانس مجموع کموالی موندلی وي. نو د بيلانس د بڼې بدلونونه په څلورو ډولونو سره ((اکتيفي بدلونونه، پسيفي بدلونونه، په اکتيف او پسيف کې زياتوالی او د اکتيف او پسيف کموالی) د امکان وړ دی.

که په عمل کې د دايمي متحرک بيلانس له شيما څخه استفاده وشي، زياتې ستونزې به را د منځه شي.کوم بدلونونه، چې د ورځنيو معاملو له امله پيدا کيږي، ډير زيات دي او دې ته چمتو دی، چې د بيلانس د اقلامو هر يو لپاره يو بيل حساب جوړ شي. لومړني موجودات د دبت په خوا کې (داکتيفي حسابونو په کيڼ لوري) ثبتيږي.

پسيفي حسابونه د دې پرخلاف، لومړني موجودات د کريدت په خوا کې(په ښي لوري)ثبتوي.

د ثبت په قاعده کې په معمول ډول ، هره معامله د نوبت په ترتيب او د نېټې په درجولو سره په يو ځانګړي کتاب کې ليکل کيږي.

دغه کتاب د اساس کتاب، يا ژورنال يا روز نامچې په نومونو ياديږي.

تل لومړی له دبتی او ورپسې له کريدتي حسابونو څخه نوم اخيستل کيږي، له دې کبله د ثبت

ketabton.com - The Digital Library

دغه قاعده دحسابونو د تسویې په نوم هم یادیږي.

موجوده حسابونه د تصدۍ او شرکت موجودات محاسبه کوي، د کسې د موجودو حسابونو شکلي جوړښت، طلبات او پورونه یا دیون یو شان دي.

نتیجوي حسابونه د یو بیلانس له اړینو حسابونو څخه دی، هغه معاملې چې تر اوسه تر څیړنې لاندې نیول شوي دي، تبادلوي معاملې دي، چې د پانګې په حساب پوري نه اړوندیږي؛ په داسې حال کې چې داسې معاملې هم شته، چې پانګې ته هم بدلون ورکوي. هره تصدۍ د خپلو دندو د ترسره کولو پر مهال ځینې ورکړې(پرداخت) لرلای شي.

که د مخارجو او حاصلاتو هر قلم په مستقیمه توګه د شخصي پانګې په حساب کې ثبت شي، د دې حساب وضاحت له منځه ځي. نو باید لاندینې حسابونه رامنځ ته شي، تر څو مخارج او حاصلات په بیل ډول په کې معامله شي او توپیر یې په شخصي پانګه کې معامله شي.

د یوې تصدۍ د حاصلاتو مهم حسابونه د خرڅلاو حاصلات دي او د مخارجو مهم حسابونه یې د تکمیلي حسابونو لپاره د مخارجو حسابونه، د محروقه موادو لپاره د مخارجو حسابونه، د ګاز، بریښنا، اوبو او داسې نورو لپاره د مخارجو حسابونه دي.

ketabton.com - The Digital Library

**د څلورم څپرکي پوښتنې**

۱- د افغانستان د سوداګریز قانون له مخې، یو سوداګر د موجودۍ د کار په برخه کې کوم مکلفیتونه لري ؟

۲- د موجودۍ لست له څو ځانګړو برخو څخه جوړ شوی، هره برخه یې په مفصله توګه تشریح کړئ؟

۳- د نعیم صدیق لمتد شرکت لاندیني جنسونه لري.

| | | |
|---|---|---|
| A ودانۍ | قیمت | ۳۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| B ماشین آلات | قیمت | ۴۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| c اداري تجهیزات | قیمت | ۵۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| d اومه مواد | قیمت | ۱۰۰.۰۰۰۰ افغانۍ |
| e تکمیلي مواد | قیمت | ۹۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| f طلبات | قیمت | ۱۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| G کسه | قیمت | ۱۲۰.۰۰۰ افغانۍ |
| h داحمد اوږد مهال پورونه | قیمت | ۵۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| i د محمود لنډ مهال پورونه | قیمت | ۹۰۰.۰۰۰ افغانۍ |
| j شخصي پانګه | قیمت | ؟ |

هیلهده، د موجودۍ لست یې د معیاري ځانګړتیاوو په ترتیب سره رسم کړئ:

الف: ثابته شتمني

ب: ګرځنده یا سیاره شتمني

ج: پورونه یا دیون

د: شخصي پانګه

ketabton.com - The Digital Library

۴- په بیلانس کې د قیمت بدلونونه تشریح کړئ؟

۵- تبادلوي معاملې له نتیجوي حسابونو سره څه توپیر لري؟

۶- په یو تولیدي شرکت کې د حاصلاتو مهم حسابونه تشریح کړئ او هم ولیکئ چې د بیلانس په کوم سمت کې T لیکل کیږي؟

۷- مخارج تعریف او په یو تولیدي شرکت کې ډېر مهم مخارج توضیح کړئ؟

۸- پر حسابونو د بیلانس تجزیه تشریح کړئ؟

۹- لومړني موجودات د T د حسابونو په کوم سمت کې لیکل کیږي، موضوع توضیح کړئ؟

۱۰- د بیلانس د اکتیف په برخه کې کوم ډول اقلام او د بیلانس د پسیف په برخه کې کوم ډول اقلام لیکل کیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم څپرکی

## له افتتاحیه بیلانس څخه د ختم تر بیلانسه

**ښوليزه موخه:**
دافتتاحيه بيلانس ترتيب، د استهلاک، شخصي حسابونو او پورونو
يا ديونو ثبت او د ختم بيلانس ترتيب

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکې په پای کې له محصلينو څخه هيله کيږي چې:

- افتتاحيه بيلانس، افتتاحيه ثبتونه او اختتاميه ثبتونه زده کړي.
- استهلاک او په ختم بيلانس کې يې د ثبت کړنلاره محاسبه کړي.
- شخصي حسابونه او په ختم بيلانس کې يې د ثبت کړنلاره زده کړي.
- د طلباتو حسابونه او په ختم بيلانس کې يې د ثبت کړنلاره زده کړي.
- د پورونو(ديون) حسابونه او په ختم بيلانس کې يې د ثبت کړنلاره زده کړي.
- پر دې وتوانيږي، چې بيلانس د جدول په بڼه، چې ټول پورتني مسايل په بر کې ونيسي، چمتو کړي.

**افتتاحيه ثبتونه:**

تر اوسه موږ د حسابونو د پرانستلو لپاره داسې اقدام کاوه، چې د افتتاحيه بيلانس ارقام او شميرې به مو په بيلو حسابونو کې درجول، او د حسابونو پرانستل هم د يوې حسابي جملې په وسيله د جاري معاملو د جملو په شان ترسره کيږي.

د اکتيف په حسابونو کې هغه زيرمې او شتمنۍ، چې د دبت په ستون کې ليکل کيږي، د يوې عمومي قاعدې په اساس بايد مقابله معامله يې په يو بل حساب کې درج شي، او دغه حساب

ketabton.com - The Digital Library

چې د حسابونو د انتقال په صورت کې باید مقابله معامله په کې ولیکل شي، تر اوسه پورې شتون نه لري.

**مثلاً:** د اکتیف حسابونو د پرانستلو په صورت کې، د افتتاحیه بیلانس د اکتیف د لوري شمیرې د اکتیف حسابونو د دبت په ستون کې لیکل کیږي، خو هغه حساب، چې د یو حساب د کریدت په مقابله معامله کې ترسره شي، شتون نه لري. نو په دې اساس موږ په شکلي بڼه یو حساب پرانیزو او افتتاحیه بیلانس یې نوموو.

او د افتتاحیه بیلانس دغه حساب د افتتاحیه بیلانس معکوسه بڼه ده. اوس که د بیلانس د اکتیف ستون شمیرې او ارقام خپلو حسابونو ته ولیږدوو، زموږ حسابي جمله هم داسې ده.

افتتاحیه بیلانس له حساب څخه اکتیف حسابونو ته: همدارنګه په پسیف حسابونو کې هم د افتتاحیه بیلانس حساب کټ مټ همدا دنده لرلای شي. یعنې د بیلانس د پسیف حسابونه یو مخالف حساب دی. د پسیف د حسابونو د لیږدولو په صورت کې حسابي جمله عبارت ده له:

د پسیف له حسابونو څخه د افتتاحیه بیلانس حساب ته: یعنې تکراراً دا خبره یادوو، چې د افتتاحیه بیلانس حساب د افتتاحیه بیلانس معکوسه بڼه لري.

**بیلګه:**

| C دافتتاحیه بیلانس حساب D | | C افتتاحیه بیلانس D | |
|---|---|---|---|
| افغانۍ<br>9000 طلبات | افغانۍ<br>8000- پورونه | افغانۍ<br>8000 پورونه | افغانۍ<br>9000 طلبات |
| | | | |

| C پورونه D | | C طلبات D | |
|---|---|---|---|
| افغانۍ<br>B - 8000 | | | افغانۍ<br>B - 9000 |
| | | | |

- د افتتاحیه بیلانس له حساب څخه ۹۰۰۰ افغانۍ د طلباتو حساب ته.

ketabton.com - The Digital Library

۲ – د پورونو یا دیون له حساب څخه ۸۰۰۰ افغانۍ د افتتاحیه بیلانس حساب ته.

په دې ډول د افتتاحیه بیلانس حساب، د موجوده حسابونو د پرانستلو لپاره یو مرستیال حساب وي. لکه څرنګه چې د دغه حساب دواړه خواوې د افتتاحیه بیلانس د خواوو برعکس ښودل کیږي، نو کولای شو د افتتاحیه بیلانس تصویر یې ونوموو.

**اختتامیه ثبتونه:**

**الف:** د موجوده حسابونو ختم: ټول موجوده حسابونه د مالي کال په پای کې د ختم بیلانس په حساب باندې پای ته رسیږي. د ختم بیلانس دغه حساب هم د یو اصلي کتاب برخه ده.

تر دې مخکې چې د حسابونو اصلي ختم ترسره شي، نوموړي حسابونه باید د پای ته رسیدلو لپاره چمتو شي. په دې اساس مخکې له مخکې په اصلي کتاب کې باید د پای ته رسیدلو مقدماتي ثبتونه یا لیږدونې ترسره شي.

د بېلګې په توګه خپلو اړوندو اصلي حسابونو ته د ټولو فرعي حسابونو د انتقال د کلنیو استهلاکاتو ثبت او ډیرې نورې معاملې په انتقالي اقلامو پورې اړوندیږي. نو په دې اساس د ثبت دغه بهیر تل په لاندیني ترتیب سره ترسره کیږي:

**لومړی – افتتاحیه ثبتونه:**

۱ – د موجودۍ د لست او افتتاحیه بیلانس ترتیب.

۲ – د ژورنال، اساس په کتاب او اصلي دفترونو کې افتتاحیه ثبتونه.

**دویم - معاملې:** د اساس په کتاب او اصلي کتاب کې د جاري معاملو ثبتونه.

**دریم: د ختم ثبتونه:**

۱ - دموجودۍ د لست او د ختم بیلانس ترتیب.

۲ – په اساسي او اصلی کتاب کې د ختم مقدماتي ثبتونه.

۳ – د اساس او اصلي کتاب کې اختتامیه ثبتونه.

**ب - د نتیجوي حسابونه ختم:** ټول نتیجوي حسابونه د مالي کال یا د اړوندې حسابې دورې په پای کې(د شپږو میاشتو، دریو میاشتو، یا هرې میاشتې او داسې نورو په پای کې)د فعالیت ځای د پایلې پر حساب پای ته رسیږي. د فعالیت ځای د نتیجې دغه حساب د شخصي پانګې د حساب یو فرعي حساب دی. مخارج د تنقیصاتو په توګه پر شخصي پانګه اغیزه کوي او د شخصي پانګې د زیاتوالي حاصلات ښیي. په دې اساس د فعالیت ځای د پایلې حساب، مخارج د دبت په سمت کې او حاصلات د خپل کریدت په سمت کې ثبتوي.

ورپسې د فعالیت ځای د پایلې حساب پاتې(بقیه) کولای شي، د شخصي پانګې حساب ته ولیږدول شي.

ketabton.com - The Digital Library

| C د خرڅلاو حاصلات D | | C د اجورې مخارج D | |
|---|---|---|---|
| افغانۍ<br>35000 کسه | افغانۍ<br>35000 دفعالیت ځای پایله | افغانۍ<br>20000<br>دفعالیت ځای پایله | افغانۍ<br>20000 کسه |
| **35000** | **35000** | **20000** | **20000** |

| C دفعالیت ځای دپایلې حساب D | |
|---|---|
| افغانۍ<br>35000 خرڅلاو | افغانۍ<br>20000 اجوره<br>15000شخصي پانګه |
| **35000** | **35000** |

| C **شخصي پانګه** D | |
|---|---|
| افغانۍ<br>B 10000<br>15000 دفعالیت ځای پایله | افغانۍ<br>25000 دپای یاختم<br>بیلانس ته لیږدول کیږي |
| **25000** | **25000** |

**داستهلاک ثبت:**

د موسسې د ثابتې شتمنۍ اړوند ټول شیزونه د فعالیت ځای لپاره خدمت کوي. ودانۍ، د کارخانې او ادارې تجهیزات، ماشینونه او د لیږدولو وسایل د ګټې اخیستنې له امله مستعمل ګرځي. ځینې شیزونه نسبت نورو مالونو ته لږ او ورو ورو زړیږي.

مثلا یو موټر چې په وسیله یې د مالونو لیږدول ترسره کیږي، د عمر د فابریکې د ودانۍ په نسبت لږ د استفادې وړ ګرځي. تخنیکي زړیدل د ارزښت هغه تنقیص دی، چې د لګښتونو د رامنځ ته کیدو لامل ګرځي او دغه لګښتونه باید د اړوندې مودې په موخه د حسابونو په پای کې تثبیت شی.

د مودې استهلاک د کلني مبلغ د محاسبې لپاره، د یادې اقتصادي امتې د استفادې احتمالي موده اعتبار لري. مثلاً که د یو رالیږل شوي بار وړونکي موټر د استفادې موده پنځه کاله فرض شوې وي، نو د یاد موټر د کلني ارزښت تنقیص ٪۲۰ ته رسیږي.

که داسې فرض شي، چې له یوې ودانۍ څخه۵۰ کاله ګټه اخیستل کیږي، نو د استهلاک مبلغ٪۲ کیږي. د ارزښت دغه تنقیصات د اړوندې ثابتې شتمنۍ د تهیې له برخې څخه منفي

ketabton.com - The Digital Library

کیږي. د ارزښت دغه لړوالی د مخارجو «لګښتونو» په توګه د ثابتې شتمنۍ د استهلاک په حساب یا په لنډ ډول د«استهلاک په حساب» کې ثبتیږي.

**د ثبت قاعده داسـې ده:** په دې بیلګه کې د لاندې شـتمنۍ استهلاک په بیلابیلو فیصدیو کې وضع کوو.

۱- ودانۍ، د جوړولو قیمت 2. 000. 000 افغانۍ، د استهلاک موده 50 کاله.

۲- ماشین، د جوړولو یا تیارولو قیمت 1. 800. 000 افغانۍ، د استهلاک موده 10 کاله.


۳- ترانسپورټي وسایل، د جوړولو یا تیارولو قیمت 200. 000 افغانۍ، د استهلاک موده 5 کاله.

دمحاسبې طریقه او دیوکال لپاره یې ثبت داسې دی:

۱- ودانۍ 2. 000. 000 ÷ 50 = 40000 افغانۍ

۲- ماشین 1. 800. 000 ÷ 10 = 180. 000 افغانۍ

۳- ترانسپورټي وسایل 20. 000 ÷ 5 =40000 افغانۍ



ketabton.com - The Digital Library

**شخصي حساب:**

هغه اخیستنه چې متصدي د خپلو شخصي چارو لپاره د موسسې له شتمنۍ څخه ترسره کوي، د موسسې مخارج یا لګښتونه نه دي او د دې اخیستنو پایله د موسسې د په کار اچول شوې شخصي پانګې تنقیص دی.

په دې اساس شخصي اخیستنې که هغه نغدي یا د امتعې اخیستنه وي، باید مخکې له مخکې د شخصي پانګې د حساب په دبت سمت کې ثبت شي. خو که د کال په بهیر کې یو شمیر زیات دغه ډول ثبتونه تر سره شي، د شخصي پانګې حساب خپل وضاحت له لاسه ورکوي؛ په دې اساس په لومړي پړاو کې شخصي اخیستنه د شخصي پانګې «شخصي حساب» د یو فرعي حساب په دبت خواکې ثبتیږي.

**د دغه حساب د ثبت قاعده په لاندې توګه ده:**

- د کسې له حساب څخه شخصي حساب ته.
-د امتعې د خرڅلاو له حساب څخه شخصي حساب ته.

| D کسه C | | D شخصي حساب C | |
|---|---|---|---|
| افغانۍ<br>B 50000 | افغانۍ<br>10000 شخصي | افغانۍ<br>1000 کسه<br>500دامتعې خرڅلاو | شخصي پانګه 15000 |
| | | | |

| D د امتعې خرڅلاو C | | D شخصي پانګه C | |
|---|---|---|---|
| افغانۍ<br>B 50000 | افغانۍ<br>5000 شخصي | 15000 شخصي حساب | 20000000B |
| | | | |

**د طلباتو او دیون ثبت:**

په هره محاسبه کې دوه حسابونه مهم رول لوبوي.
١ – د مالونو د لیږدولو او فعالیتونو په نسبت د طلباتو حساب.
٢ –د مالونو د لیږدولو او فعالیتونو په نسبت د پورونو حساب.

تر اوسه داسې فرض شوی و، که د دبت ټولې معاملې لاس په لاس یعنې د نغده پیسو یا بانکي حوالې او پستي چک د ورکړې په بدل کې تر سره کیږي؛ خو په عمل کې د لنډ مهال پور ورکړه یعنې لنډ مهال کریدتونه د ارزښت وړ دي. دغه عمل په پیرودلو کې هم د خرڅلاو په شان د اهمیت وړ ده.

ketabton.com - The Digital Library

په پیل کې یوازې له طلبانو او پورونو څخه؛ له دې پرته، چې یادونه وشي، چې تصدۍ پر کوم شخص طلبات لري او یا له کومو کسانو څخه پوروړی دی، بحث وشي.

په وروستي بحث «دمعامله لرونکو کتاب» کې به ددې تشریح وشي، چې څرنګه د پیرودونکو او لیږونکو حسابونه د طلبانو او پورونو له مجموع سره اړیکې لري.

**د امریکایي ژورنال د ثبت سیستم:**

تر اوسه پورې هر ثبت لومړی د اساس په کتاب او بیا په اصلي کتاب کې ترسره کېده؛ یا په بل عبارت د روزنامچې هر ثبت باید اصلي کتاب ته لیږدول شوی وای. د دې لپاره چې د انتقاد عملیه له منځه یووړل شي، په امریکایي ژورنال کې د روزنامچې کتاب او اصلي کتاب لنډ شوي دي.

د دغه ژورنال په کیڼ لوري کې (ورځ، د معاملې متن او مبلغ) او په ښي لوري کې (د حسابونو ستونونه)اصلي کتاب وي.

په امریکایي ژورنال کې ټول حسابونه د یوبل ترڅنګ جوړ شوي دي. د امریکایي محاسبې اجراأت تل په جاري بڼه ترسره کیږي، ځکه هره ورځ په یوه عملیه کې، هم د روزنامچې او هم په اصلي کتاب کې ثبتیږي.

**د مبلغ ستون د کنټرول د ستون په توګه دنده ترسره کوي:**

د مبلغ د ستون مجموع = د حسابونو د دبټي د ټولو ستونونو مجموع = د حسابونو د کریډټي د ټولو ستونونو مجموع په امریکایي ژورنال کې یوازې یو شمیر محدود حسابونه ځای پر ځای کیدای شي، چې اکثراً تر 16 حسابونو زیات نه دي.

له دې پرته، دغه دفتر ډېر پراخېږي او ستونزې رامنځ ته کوي. که له یادو حسابونو سربېره، څو نور حسابونه هم په کار شي، نو د مختلفو حسابونو تر نامه لاندې د حساب یو بل ستون دایر او د ثبت چارې پکې ترسره کیږي.

نو امریکایي ژورنال یوازې د تصدیو لپاره مناسب دی، چې په یو شمیر لږو حسابونو بسنه وکړای شي.

**وروستنی اصلي راپور:** تر اوسه د اصلي کتاب ټول حسابونه په مستقیمه توګه د فعالیت ځای د پایلې حساب (همدارنګه د ګټې او تاوان حساب) یا د ختم د بیلانس حساب ته لیږدول کیدل، څرنګه چې د حسابونو پای ته رسیدل(خاتمه) قطعي بڼه ځانته غوره کوي، نو په عمل کې دغه ډول اجراأت نه ترسره کیږي؛ ځکه امکان لري، چې محاسبه غلطۍ ولري، چې وروسته یادې غلطۍ د حسابونو د پای د غلطۍ لامل هم ګرځي.

تر دې مخکې چې متصدي د خپل د ختم بیلانس او د ګټې او تاوان حساب په اړه مالیې وزارت او یا ټولو خلکوته معلومات ورکړي، غواړي یو سلسله بدلونونه په کې رامنځ ته کړي.

په دې اساس په هره محاسبه کې د حسابونو د قطعي ختم د پاک نویس تر جوړیدو مخکې لومړی د یادو حسابونو یو آزمویښتي ختم ترسره کیږي. د ختم اصلي راپور چې شپږ ستونه لري، دنده دا ده، چې امتحاني حقیقي ختم، له ټولو ارزښتونو سره، چې د موجودۍ د پروسې په مرسته لاسته راغلې، د هغه له ثبت څخه مخکې په حسابونو کې وښیي. او د دې په مرسته ټولې ثبت شوې غلطۍ

ketabton.com - The Digital Library

او توپیرونه تعقیب او تصحیح کیدای شي. نوموړي غلطۍ، امکان لري د غلط سرجمع په مرسته(د حساب د دواړو خواوو غلط سنجش)، غلط ثبت(د مقابل لوري د ثبت له پامه غورځول) د غلط سنجش پاتې (د حسابونو د پاتې یا بقایاوو غلط سنجش) او داسې نورو رامنځ ته شي.

په پای کې د ختم اصلي راپور هغه وخت د خپل د کنترول هدف ته رسیدلای شي، چې د نتیجې په سنجش کې(د نتیجې بیلانس) او د خپل د موجوداتو سنجش(د موجوداتو بیلانس) نتیجه له مساوي شمیرو سره تصدیق کړي. د پای یا ختم یو اصلي راپور په لاندې ډول جوړیږي:

الف: مجموعي بیلانس: په حساب کې د معاملو د ثبت او د کال په پای کې یې د تړلو په بهیر کې، زیاتره د حسابونو د توپیر د ثبت په برخه کې د محاسبوي عددونو د جمعې کولو پر مهال د معاملو تېروتنې رامنځ ته کېږي، په دې اساس په عمل کې د حسابونو تر تړلو مخکې د ټولو حسابونو کنترول معمول او مروج دی. د دغو حسابونو کنترول د یوې تابلو د جوړولو په مرسته ترسره کیږي.

د تیر وتنو د رامنځ ته کیدو احتمال په لاندې ځایونو کې موجود وي.

- د جمعې کولو په چارو کې د تېروتنې شونتیا موجوده وي؛ د حسابونو ستونونه په صحیح توګه نه وي جمع شوي.
- له دې امله د حسابونو د تړلو پر وخت کنترول ضروري او لازمي دی. لومړی د حسابونو ټول اقلام په یوه تابلو کې لیکو او جمع کوو یې په دې توګه مجموع یې ترلاسه کیږي.

له پورتینو حسابونو څخه د مجموع بیلانس جوړوو؛ په داسې توګه چې کیڼ او ښی ستون سره جمع کوو او په پای کې د هر ستون مجموع تثبیتېږي.

| د حسابونو نوم | د مجموع بیلانس | |
|---|---|---|
| | دبت (D) | کریدت (C) |
| کالي او تجهیزات | 50000 | ---- |
| دامتعې پیرېدنه | 340000 | ----- |
| دامتعې پلورل | ----- | 310000 |
| طلبات | 200000 | 140000 |
| کسه | 320000 | 319000 |
| شخصي پانګه | ----- | 121000 |
| داینین | 160000 | 215000 |
| اخیستنه | 15000 | ---- |
| دکرایې مخارج | 20000 | 1000 |
| د دفتر مخارج | 15000 | ----- |
| د کمیشن حاصل | ---- | 14000 |
| | 1120000 | 1120000 |

ketabton.com - The Digital Library

د جمعې په بيلانس کې د دبت ستون مجموع د کريدت ستون له مجموع سره مساوي ده:

۱- د دبت هره معامله دکريدت له معاملې سره مساوي ده او د يوبل په مقابل کې ځای پر ځای کيږي.

۲- د حسابونو د جمعې کولو پر مهال تيروتنې نه رامنځ ته کيږي.

۳- په دې ډول موږ ډاډ ترلاسه کوو، چې پورتني حسابونه په صحيح ډول معامله شوي او د جمعې په عمل کې معاملاتي تيروتنې نه لري.

خو څه ډول ډاډ ترلاسه کولی شو چې پورتني حسابونه د توپير په تثبيت کې تيروتنې نه لري. د دې موخې د ترلاسه کېدو لپاره، د هغې تابلو تر څنګ چې تر اوسه يې يوازې د مجموع بيلانس درلود، يو بل ستون د لومړي توپير بيلانس په نامه زياتوو.

**الف- د لومړي توپير بيلانس:** د حسابونو د تړلو پر مهال څرنګه چې پوهيږو په ځانګړې توګه د حسابونو توپير د زيات اهميت لرونکي دي. موږ کولی شو، ياد توپير د مجموع له بيلانس څخه لاسته راوړو. د حسابونو توپير يو بل ځانګړي ستون ته چې د توپير د بيلانس د ستون په نامه ياديږي، ليږدوو.

خو کله چې حسابونه تړو توپير يې په کوچني ستون کې د يو حساب د دواړو ستونونو د برابرۍ يا توازن په منظور ليکو او دغه توپيرونه د توپير په بيلانس کې د حساب په لوی ستون کې ثبتوو.

**بېلګه:** د مجموع بيلانس له شميرو څخه چې پورته ترې يادونه وشوه، د توپير بيلانس راباسو.

| د حساب نوم | د مجموع بيلانس | | د لومړي توپير بيلانس | |
|---|---|---|---|---|
| | D | C | D | C |
| تجهيزات او کالي | 50000 | --- | 50000 | --- |
| دامتعې پيرېدنه | 340000 | --- | 340000 | --- |
| دامتعې پلورل | --- | 310000 | --- | 310000 |
| طلبات | 200000 | 140000 | 60000 | --- |
| کسه | 320000 | 319000 | 1000 | --- |
| شخصي پانګه | --- | 121000 | --- | 121000 |
| پوروړي | 160000 | 215000 | --- | 55000 |
| اخسيتنه | 15000 | --- | 15000 | --- |
| دکرايې مخارج | 20000 | 1000 | 19000 | --- |
| د دفتر مخارج | 15000 | ---- | 15000 | --- |
| د کميشن حاصل | --- | 14000 | --- | 14000 |
| | 1. 120000 | 1. 120000 | 500000 | 500000 |

ketabton.com - The Digital Library

که د توپیر بیلانس د دبت ستون وروستي مجموع د کریدت ستون له وروستني مجموع سره مساوي وي، نو دغه موضوع ثابتیږي، چې د حسابونو توپیر په سمه توګه تثبیت شوی دی.

**ب- د دویم توپیر بیلانس:** (د اختتامیه مقدماتي معاملو درجول) د لومړي توپیر د بیلانس ټول ارقام یا هغه ارقام، چې د انونتور(وروستي موجود) په مرسته امتعه تثبیتوي، سمون نه لري. د دې لپاره چې د تصدۍ سمه نتیجه تثبیت شي، باید د لومړي توپیر د بیلانس تر څنګ د اختتامیه مقدماتي معاملو لپاره یو ستون ترتیب شي په هغه کې لاندینۍ معاملې د اختتامیه معاملو په توګه ثبتوو.

۱- د محاسبې په کتابونو کې د اثاثیې او تجهیزاتو قیمت50000 افغانۍ دی، له یاد قیمت څخه 10000 افغانۍ یې استهلاکوو، ټوله حسابي.

- له اثاثیې او تجهیزاتو څخه په استهلاک 10000 افغانۍ.

۲- د امتعې وروستنی موجود88000 افغانۍ کیږي، په دبت ستون کې د امتعې د پیرودلو حساب 340000 افغانۍ ښيي.

د دبت د امتعې پیرودنه 340000

دانونتور په مرسته وروستی موجود 88000

پلورل شوې امتعه دپیرودنې په قیمت 252000

**حسابي جمله:** د امتعې پیریدنې ته د امتعې له خرڅلاو څخه.................. 252000 افغانۍ

۱- شخصي پانګې ته له شخصي اخیستنې څخه.................... 15000 افغانۍ

درې واړه پورتنۍ معاملې لومړی د اختتامیه مقدماتي حسابونو په ستون کې درجوو او ورپسې له دې توپیر څخه د هر حساب د توپیر ستون امتحانوو او په بل ستون کې یې ثبتوو، چې یاد ستون د دویم توپیر د بیلانس په نوم یادیږي. د دویم توپیر په بیلانس کې ټول حسابونه سره مخلوطیږي. یعنې دا ستون موجود خالص حسابونه او د خالصو پایلو حسابونه په بر کې نیسي.

د دې لپاره چې پورتنۍ موضوع مو د بیلګو په مرسته توضیح کړې وي، د خپل مخکیني تمرین له ارقامو څخه استفاده کوو.

| د حساب نوم | داختتامیه مقدماتي معاملې | | د لومړي توپیر بیلانس | |
|---|---|---|---|---|
| | D | C | D | C |
| تجهیزات او اثاثیې | --- | 10000 | 40000 | --- |
| دامتعې پیرودنه | 252000 | --- | 88000 | --- |
| دامتعې پلورل | --- | 252000 | --- | 88000 |
| طلبات | --- | --- | 60000 | --- |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کسه | --- | --- | 1000 | --- |
| شخصي پانګه | 15000 | --- | --- | 106000 |
| داینین | --- | --- | --- | 55000 |
| اخسیتنه | --- | 15000 | --- | --- |
| دکرایې مخارج | --- | --- | 19000 | --- |
| د دفتر مخارج | --- | --- | 15000 | --- |
| د کمیشن حاصل | --- | --- | --- | 14000 |
| د اثاثیې او تجهیزاتو استهلاک | 10000 | --- | 10000 | --- |
| | 277000 | 277000 | 233000 | 233000 |

**د موجودۍ بیلانس او د پایلو بیلانس:** د دویم توپیر له بیلانس سره په څنګ کې د موجود بیلانس ترتیبوو. د موجوده زیرمو دغه ستون A اکتیف او B پسیف د حسابونو شتمني تثبیتوي. د شتمنۍ د موجودو حسابونو توپیر د موجود بیلانس د دویم توپیر بیلانس شیي.

**د بیلګې شرحې ته دوام ورکوو:**

| د حساب‌ونو نوم | د موجودۍ بیلانس | |
|---|---|---|
| | D | C |
| تجهیزات او اثاثیه | 40000 | --- |
| دامتعې پیرېدنه | 88000 | --- |
| دامتعې پلورل | --- | --- |
| طلبات | 60000 | --- |
| کسه | 1000 | -- |
| شخصي پانګه | --- | 106000 |
| داینین | --- | 55000 |
| اخسیتنه | --- | --- |
| دکرایې مخارج | --- | --- |
| د دفتر مخارج | --- | --- |
| د کمیشن حاصل | --- | --- |
| د اثاثیې او تجهیزات‌و استهلاک | --- | 28000 ګټه |
| | 189000 | 189000 |

ketabton.com - The Digital Library

سربیره پردې د نتایجو د حسابونو توپیر، د دویم توپیر له بیلانس څخه اخیستل شوی، چې د نتایجو د بیلانس ستون ته لیږدول کیږي. هغه توپیر چې له دغه ستون څخه لاسته راځي(ګټه او تاوان) په لومړنۍ پانګه کې زیاتوالی یا کموالی رامنځ ته کوي. د شخصي اخیستني تر ایستلو وروسته، وروستۍ پانګه لاسته راځي او بیاهم خپلې بېلګې ته انکشاف ورکوو.

| د حساب‌ونو نوم | د موجودۍ بیلانس | |
|---|---|---|
| | D | C |
| تجهیزات او اثاثیه | 40000 | --- |
| دامتعې پیرودل | 88000 | --- |
| دامتعې پلورل | --- | 58000 |
| طلبات | --- | --- |
| کسه | --- | -- |
| شخصي پانګه | --- | --- |
| داینین | --- | --- |
| اخسیتنه | --- | --- |
| دکرایې مخارج | 19000 | --- |
| د دفتر مخارج | 15000 | --- |
| د اثاثیې او تجهیزاتو استهلاک | 10000 | --- |
| د کمیشن حاصل | --- | 14000 |
| جمله | 44000 | |
| ګټه | 28000 | |
| | 72000 | 72000 |

موږ د بیلو جدولونو په مرسته، په تصدۍ کې یو معلوماتي لید وموندہ. د دې لپاره چې په یو جدول کې د تصدۍ د حساب یوه عمومي کتنه تر سره کړای شو، ټولې هغې تابلوګانې، چې تر اوسه پورې مو مطالعه کړې، په یوه تابلو کې راټولوو او رسموو.

ketabton.com - The Digital Library

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډیز**

تر اوسه موږ د حسابونو د پرانستلو لپاره داسې اقدام کاوه، چې د افتتاحیه بیلانس ارقام او شمیرې به مو په بیلو حسابونو کې دننه کولې او د حسابونو پرانستل هم د یوې حسابې جملې په مرسته لکه د جاري معاملو د جملو په شان ترسره کیږي.

د اکتیف په حسابونو کې هغه زیرمې او شتمنۍ، چې د دبت په ستون کې درجیږي او باید د یوې عمومي قاعدې په اساس مقابله معامله په یو بل حساب کې ترسره شي، او هغه حساب چې مقابله معامله یې باید د حسابونو د لیږدولو په صورت کې ثبت شي، تر اوسه پورې شتون نه لري.

په همدې موخه د موجودو حسابونو د پرانیستلو لپاره یو مرستیال حساب رامنځ ته کېږي، تر څو موجودې ستونزې له منځه ولاړې شي. څرنګه چې دواړه خواوې « P. A » د دغه حساب د افتتاحیه بیلانس د سمتونو برعکس ښودل کیږي، نو موږ کولی شو، چې د افتتاحیه یو تصویر یې بولو.

همدارنګه موجود ټول حسابونه د مالي کال په پای کې د ختم بیلانس په حساب پای ته رسیږي. د ختم دغه بیلانس هم د یو اصلي کتاب برخه ده.

تر دې مخکې چې د اصلي حسابونو پای ته رسیدل ترسره شي، باید یاد حسابونه د پای ته رسیدو لپاره چمتو شي.

په دې اساس په اصلي کتاب کې باید مخکې له مخکې د ختم مقدماتي ثبتونه له انتقالاتو سره یو ځای ترسره شي. په دې اساس د ثبت بهیر تل په لاندې ترتیب سره ترسره کیږي:

**لومړی- افتتاحیه ثبتونه:**

۱- د موجودۍ د لست او افتتاحیه بیلانس ترتیب.

۲ - د ژورنال او اساس په کتاب او اصلي دفترونو کې افتتاحیه ثبتونه.

**دویم - معاملې:**

۱- د اساس او اصلي په کتابونو کې د روان یا جاریه معاملو ثبتونه.

**دریم- د ختم ثبتونه:**

۱ - دموجودۍ د لست او د ختم بیلانس ترتیب.

۲ – په اساسي او اصلی کتاب کې د پای یا ختم مقدماتي ثبتونه.

۳ – په اساس او اصلي کتاب کې اختتامیه ثبتونه.

نتیجوي حسابونه د مالي کال په آخر کې یا د اړوندې حسابې دورې په پای کې(د شپږو میاشتو، دریو میاشتو ، یا هرې میاشتې او داسې نورو په پای کې)د فعالیت ځای د نتیجې په حساب پای

ketabton.com - The Digital Library

ته رسيږي.

د فعاليت ځای د پايلې دغه حساب د شخصي پانګې د حساب يو فرعي حساب دی، سربيره پر دې د موسسې د ثابتې شتمنۍ اړوند ټول ځيزونه د فعاليت ځای لپاره خدمت کوي، ودانۍ، د کارخانې تجهيزات، ماشينونه او دا سې نور مستعمل ګرځي او زړيږي. د استهلاک د کلني مبلغ د سنجولو لپاره د ياد اقتصادي امتعې د استفادې احتمالي موده اعتبار لري.

د ارزښت دغه کموالی د اړوندې ثابتې شتمنۍ د تهيې له برخې څخه منفي کيږي. د ارزښت دغه تنقيصات د مخارجو «لګښتونو» په توګه د ثابتې شتمنۍ د استهلاک په حساب ثبتيږي.

معمولاً متصدي د خپلو شخصي چارو لپاره د موسسې له شتمنۍ څخه هم اخيستنه ترسره کوي، دغه اخيستنه د موسسې مخارج يا لګښتونه نه دي او د دې اخيستنو نتيجه د موسسې د په کار اچول شوې شخصي پانګې تنقيصات دی، چې د دې حسابونو د ثبت قاعده داسې ده.

- د کسې له حساب څخه شخصي حساب ته۱۰۰۰۰ افغانۍ.
- يادامتعې د خرڅلاو له حساب څخه شخصي حساب ته ۲۰۰۰۰ افغانۍ.

**په هره محاسبه کې دوه حسابونه مهم رول لوبوي:**

۱ –د مالونو د ليږدولو او فعاليتونو په نسبت د طلباتو حساب.

۲ –د مالونو د ليږدولو او فعاليتونو په نسبت د پورونو حساب.

تر اوسه داسې اټکل شوی و چې معاملې لاس په لاس په نغده توګه د بانکي حوالې او پستي چک په ورکړې سره تر سره کيږي، خو په عمل کې معاملې د طلباتو او پورونو په بڼه هم ترسره کيږي، چې پايله يې په بيلانس کې څرګنديږي.

تر اوسه پورې د اصلي کتاب ټول حسابونه په مستقيمه توګه د فعاليت ځای د پايلې حساب ته يا د ختم بيلانس ته ليږدول کېدل، خو په عمل کې دغه ډول اجراأت نه ترسره کيږي. د دې لپاره چې د بيلانس په جوړونه کې له تير وتنو څخه مخنيوی شوی وي، د ختم اصلي راپور چې شپږ ستونه لري، طرح کيږي. د ختم اصلي راپور هغه وخت د خپل د کنترول هدف ته رسيدلای شي، چې وکولی شي د نتيجې او د موجوداتو په سنجش کې، نتيجه له مساوي شميرو سره تصديق کړي.

د ختم يو اصلي راپور په لاندې ډول جوړيږي.

- د مجموعي بيلانس ترتيب.
- د لومړي توپير د بيلانس ترتيب.
- د دويم توپير د بيلانس ترتيب.
- د موجودۍ د بيلانس ترتيب.
- د پايلو د بيلانس ترتيب.

ketabton.com - The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتنې:**

۱- کله چې افتتاحیه بیلانس د حسابونو په پرانستلو باندې تجزیه کوو، ولې یو مرستیال حساب د حسابونو د پرانستلو لپاره رامنځ ته کېږي؟

۲- د ثبت بهیر په کوم ترتیب ترسره کیږي، مراتب یې په بشپړه توګه ولیکئ؟

۳- استهلاک څه شی دی، په کال کې د ودانیو استهلاک څو فیصده، د ماشین څو فیصده او د ترانسپورتي وسایلو څو فیصده محاسبه کیږي؟

۴- شخصي حساب څه شی دی او آیا ترې اخیستنه د تصدۍ په مخارجو یا لګښتونو کې شمیرل کیږي؟

۵- د لاندې معلوماتو په مرسته د ورکړل شوې مجموع د بیلانس ستون حسابونه د پای ته رسیدلي یا اختتامیه حسابونو په ستونونو کې، ثبت او وروسته د لومړي توپیر بیلانس، د دویم توپیر بیلانس، د موجودۍ بیلانس او د پایلو بیلانس جوړ کړئ، وروستی موجود د انونتور په مرسته ۸۲۰۰۰ اثاثیه او تجهیزات د۵۰۰۰ افغانیو په قیمت استهلاک کیږي. پورتني حسابونه ترتیب کړئ او د اختتامیه حسابونو تابلو، چې د مجموع بیلانس، د بیلانس د اختتامیې د مقدماتي معاملو په ستون کې لومړی توپیر، د بیلانس دویم توپیر او د پایلو موجودي او بیلانس په بر کې نیسي، حل کړئ؟

| د حسابونو نوم | د مجموع بیلانس | |
|---|---|---|
| اثاثیه او تجهیزات | 30000 | - |
| شخصي پانګه | - | 146000 |
| طلبات | 250000 | 160000 |
| بانک | 210000 | 205000 |
| کسه | 220000 | 215000 |
| اخیستنه | 16000 | - |
| داینین | 135000 | 175000 |
| نور پورونه(دیون) | 40000 | 5000 |
| دامتعې پیرېدنه | 190000 | - |
| اجورې | 20000 | - |
| کرایه | 13000 | - |
| د کمیشن مخارج | 3000 | - |
| د دفتر مخارج | - | - |
| استهلاکونه | 16000 | - |
| دامتعې پلورل | - | 180000 |
| د کمیشن حاصل | - | 120000 |
| | **1143000** | **1143000** |

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



## د یوه صنعتي فعالیت ځای د لګښتونو او فعالیتونو سنجش

**ښوليزه موخه:**
د لګښتونو د ډولونو توضیح، د لګښتونو د جدول ترتیب او د هغو پاڼو سنجش چې د لګښتونو حاصل دی.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلین باید پر دې وتوانېږي چې:

- د یوه فعالیت ځای د لګښتونو ډولونه دې په خاص دقت سره درک کړي.
- د لګښت د ځای سنجش او د لګښت حامل سنجش تر منځ دې توپیر وپیژني.
- تقسیمي کلکولیشن اوتزئیدي کلکولیشن دې محاسبه کړي.
- د فعالیت ځای د لګښتونو د سنجش جدول دې ترتیب کړي.
- د حقیقي تزئیداتو په مرسته دې له تزئیدي کلکولیشن سره آشنایي ترلاسه کړي.
- د لګښت حامل پاڼه دې محاسبه کړای شي.

ketabton.com - The Digital Library

**د یوه صنعتي فعالیت ځای د لګښتونو او فعالیتونو سنجش:**

هر صنعتي فعالیت ځای د لګښتونو او د فعالیت باید یو مرتب او منظم سنجش ولري. ټول لګښتونه او فعالیتونه باید تثبیت شوي سنجش شي او د ګټې اخیستلو په مقصد جمع کړل شي.

د دې مقصد لپاره باید د لګښتونو محاسبه او سنجش په کلي توګه سره سمون وخوري.

**د لګښت سنجش**

د لګښتونو د ډولونو سنجش« د لګښتونو دقیق تثبیت»: د لګښت د ځای سنجش «د فعالیت ځای په بیلو ځانګو کې د لګښتونو موندنه» او د لګښت د حامل سنجش « د هر تولید په واحد باندې د لګښتونو سنجش » جوړوي.

د قیمت کلکولیشن لپاره د لګښتونو سنجش«د قیمت سنجش » حتمي او ضروري وي که په یوه صنعتي فعالیت ځای کې محض یو تولید استحصالیږي، نو د ټولو لګښتونو تثبیت، چې په څلورم کلاس کې تر سره شوی، د لګښتونو د سنجش لپاره هم کفایت کوي. د دې لپاره چې د تولید د هر واحد تمام شوی قیمت پیدا شي، یوازې هغه لګښتونه، چې د تولید په یوه ټاکلې دوره کې ترسره شوې دي، باید د دې دورې د لاسته راغلو تولیداتو په شمیر باندې وویشل شي.

له دې امله د لګښتونو دغه ډول مصارف د تقسیمي لګښتونو د سنجش« تقسیمي کلکولیشن » په نامه یادیږي. دغه ډول سنجش یوازې د هغو موسسو لپاره، چې توده یې تولیدات لري، د استفادې وړ ګرځي لکه د سمنټو، د خښتو فابریکې، استخراجې موسسې او کیمیاوي فابریکې، چې یوازې یو ډول امتعه تولیدوي.

یو شمیر هغه موسسې، چې په پورته برخه کې مو ترې یادونه وکړه، په افغانستان کې شتون لري، چې په تقسیمیي ساده سنجش باندې د خپل سنجش له عهدې څخه وتلی شي.

خو یو شمیر زیاتې تصدۍ یوازې واحدې امتعې نه تولیدوي، بلکې زیاتره د تولیداتو بیلابیل ډولونه لري. په دې برخه کې، تقسیمي کلکولیشن د چارو د پرمخ بیولو له عهدې څخه نه شي وتلی نو په دې برخه کې باید له تزئیدي کلکولیشن څخه ګټه واخیستل شي. هغه مواد چې د تولید د یو ټاکلی واحد یا ټاکلی سپارښت د بشپړولو لپاره ضروري دي « تکمیلي مواد » د موادو د خرج سند په مرسته په دقیقه توګه حسابېدای شي.

همدارنګه د تولید د ټاکلي واحد یا ټاکلي سپارښت په موخه تکمیلي اجوره، د اجورو د لست په اساس په دقیقه توګه تثبیتېږي. سربیره پر دې انفرادي ځانګړي لګښتونه هم په صحیح او دقیقه بڼه تثبیتېږي، خو ګډ لګښتونه د ټولو تولیداتو لپاره په مجموعي توګه ترسره کېږي او په آسانۍ نه شي تثبیتېدای، چې د دې لګښتونو کومه برخه د تولید په هر واحد یا واحد سپارښت باندې ترسره شوې ده. په دې اساس باید ګډ لګښتونه په انفرادي لګښتونو باندې په فیصدي ډول زیات شي او د لګښتونو دغه ډول سنجش د تزئیدي کلکولیشن په نوم یادېږي. که ګډ لګښتونه په انفرادي لګښتونو باندې یوازې د یوې فیصدۍ په تزئید سره زیات شي، نو د تزئید کلکولیشن په ډېر ساده

ketabton.com - The Digital Library

ډول ترسره کیږي. خو دا د ګډو لګښتونو مجموعي تزیید یوازې د کوچنیو صنعتي موسسو او کارخانو لپاره مساعدې دي

**بیلګه:** په یوه افغاني صنعتي موسسه کې د یو سپارښت د تکمیلي موادو لګښت ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. د تکمیلي اجوري لګښتونه یې ۲۲۵۰۰۰ افغانۍ دي او ګډ لګښتونه یې ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ کیږي، د تزیید د اساس د غوراوي له مخې درې ډوله سنجش رامنځ ته کیږي.

| | A | B | C |
|---|---|---|---|
| | افغانی | افغانی | افغانی |
| تکمیلی مواد | 150000 | 150000 | 150000 |
| 120 % + | 180000 | - | - |
| تکمیلی اجوره | 225000 | 225000 | 225000 |
| + 80 % تزئید | _ | 180000 | - |
| | | | 375000 |
| د ګډو لګښتونو تزیید | | | |
| 48 % | | | 180000 |
| | **555000** | **555000** | **555000** |

د مجموعي لګښتونو د سنجولو لپاره د سنجش په درې واړه طریقو کې، عین نتیجه ترلاسه کېږي. خو په هغه صورت کې، چې د تولید د یو واحد د تکمیلي موادو او تکمیلي اجورو انډول(تناسب)د تولیداتو له مجموع سره توپیر ولري، نو د یو تولید د واحد په سنجش کې هم بله نتیجه لاسته راځي.

په عمومي ډول د ګډو لګښتونو په یو مجموعي تزئید کې له تکمیلي اجورې څخه د زیاتوالي تزئید چارې د اساس په توګه کار اخیستل کیږي.

**د فعالیتځي د لګښتونو د سنجش جدول:**

لکه څرنګه چې وړاندې څرګنده شوه، د ګډو لګښتونو مجموعي تزئید د لویو او منځنیو فعالیت ځایونو لپاره مساعد نه وي، دغه مؤسسې باید د لګښتونو د سنجولو له دقیقو لارو چارو څخه استفاده وکړي.

په دې ځای کې ټول فعالیت ځایونه پر ځانګو ویشل شوي او ګډ لګښتونه د یوې ټاکلې کلۍ(چابۍ) په اساس پر هغه موضع یا ځای باندې ویشل کېږي، چې پکې رامنځ ته شوی وي، چې دغه پړاو د لګښت د موضع(ځای)د سنجولو په نامه یادیږي.

د فعالیت ځای د لګښتونو سنجش په عمومي ډول له محاسبې څخه بهر د جدول په بڼه ترسره

ketabton.com - The Digital Library

کیږي، په داسې حال کې چې د لګښتونو د ډولونو سنجش د محاسبې یوه برخه جوړوي.

دغه جدولونه د ګډو لګښتونو د سنجش جدول په نوم ، ۴۱-۲۴-۴۳۲ او ۴۸ حسابونه له محاسبې څخه اخلي. د هغه د کینې خوا په عمودي ستون کې د ګډو لګښتونو ډولونه درجېږي او افقي کرښه یې د لګښت د ځای یا موضع په اساس ویشل کیږي.

د داسې تقسیماتي بڼې موندنه، چې په دقیق ډول د لګښتونو له منځ ته کیدو سره سمون وخوري، په آسانه توګه لاسته نه راځي. په دې برخه کې د اجورو له لست، د مالونو د ایستلو له سند، په ودانۍ کې د ځمکې له سطحې، اندازې، د ساعت او میتر په اساس لګښتونو او داسې نورو څخه هم باید استفاده وشي. یو کوچنی صنعتي فعالیت ځای د لګښتونو پر څلور ګونو مواضعو یا ځایونو اکتفا کولای شي.

I. د موادو د لګښت ځای

II. د تولید د لګښت ځای

III. د ادارې د لګښت ځای

IV. د خرڅلاو د لګښت ځای

لوی صنعتي لوی فعالیت ځایونه باید د زیاتو اړتیاوود په پام کې نیولو سره د خپل د لګښت مواضع تقسیم بندي کړي. په ځانګړې توګه د تولید موضع باید پر بیلابیلو فرعي کارځایونو وویشل شي.
د اصلي لګښت له څلورو مواضعو سره سم ګډ لګښتونه هم ویشل کیږي:

I. د موادو ګډ لګښتونه

II. د تولید ګډ لګښتونه

III. د ادارې ګډ لګښتونه

IV. د پلورلو ګډ لګښتونه

I – **د موادو ګډ لګښتونه:** هغه ټول ګډ لګښتونه دي، چې د موادو د تهیې په برخه کې رامنځ ته کېږي. مثلاً د موادو د تحویلخانې لګښتونه، د موادو د دخول او کارځای خروج، د موادو د بیمې لګښتونه او داسې نور...

II - **د تولید ګډ لګښتونه:** هغه ټول ګډ لګښتونه دي، چې د تولید په کارځای کې ترسره کېږي مثلاً د برېښنا، ګاز، اوبو او تودولو لګښتونه، تر هغه ځایه چې په کارځای کې رامنځ ته شوي وي، د ماشین کارانو لپاره مرستیالې اجورې ، مرستندویه کارکوونکو، د باشي او تخنیکي

ketabton.com - The Digital Library

مامورينو معاشونو، د مرستيال او محركه موادو لګښتونو، د ماشين او د ماشيني تأسيساتو د استهلاكونو لګښتونه.

**III– د اداري ګڼ لګښتونه:** د ټول فعاليت ځای د آمريت او اداري ټول لګښتونه دي. مثلاً د اداري مديرانو او مستخدمينو معاشونه، ماليات، ترميمات او د اداري ودانۍ ساتنه . . . .

**IV – د پلور ګڼ لګښتونه:** ټول هغه لګښتونه دي، چې د توليداتو د پلورلو په مرسته رامنځ ته کېږي مثلاً د تحويلخانې لګښتونه، د کارتمامه توليداتو پلورل، د خرڅلاو د ځانګې لګښتونه او احتمالاً د بارجامې او ترانسپورت او داسې نورو لګښتونه. . . .

## د فعاليت ځای د لګښتي سنجش جدول په اړه توضيحات او د لګښتونو د سنجش لپاره د تزئيد اساسات

هغه انفرادي لګښتونه، چې د فعاليت ځای د لګښتونو د سنجش جدول په لاندې برخه کې، چې د ګډو لګښتونو نسبت ورته ورکړل شوی، د«۴۰» تکميلي موادو له حساب څخه ۱۳۶۰۰۰ افغانۍ او د «۴۳۱» تکميلي اجورې له حساب څخه۱۸۳۰۰۰ افغانۍ تر لاسه شوي دي. دغه حسابونه د موادو او توليدي ګډو لګښتونو د تزئيد اساسات جوړوي.

نن ورځ په عمومي بڼه، توليدي لګښتونه، بشپړ شوي توليدات نه، بلکې د اداري او خرڅلاو د ګډو لګښتونو د تزئيد د اساس په توګه، د پلورل شويو توليداتو توليدي لګښتونه ټاکي. يعنې د بشپړ شوو توليداتو اندازه مهمه نه ده، بلکې د پلورل شوو توليداتو رښتينې اندازه د بحث موضوع ده.

په دې اساس بايد د نيم کاره او کار تمامو توليداتو د موجودۍ تزئيد او همدارنګه تنقيص په پام کې ونيول شي.

د موجودۍ زياتيدنه بايد منفي شي او د موجوداتو تنقيص زيات شي.

**د حقيقي تزئيداتو په وسيله تزئيدي کلکويشن:** هغه ګڼ لګښتونه، چې د فعاليت ځای د لګښتونو د سنجش جدول په مثال کې د لګښت مواضع په بيلو ستونو کې ليکل شوي دي، هغه لګښتونه دي، چې په رښتينې توګه منځ ته راغلي دغه لګښتونه د رښتيني يا حقيقي لګښتونو په نوم ياديږي؛ هغه تزئيدي فيصدۍ چې پر بنسټ يې موندل کيږي، د رښتيني يا حقيقي فيصديو « رښتيني نسبتونو » په نوم ياديږي.

د موجود فعاليت ځای د لګښتونو د سنجش او د حقيقي تزئيداتو د سنجش د۴۰ او ۴۳۱ حسابونو د محاسبوي اقلامو د جدول پر بنسټ، لاندې شيما ترلاسه کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د تکمیلي موادو لګښتونه | | ۱۳۶۰۰۰ افغانۍ |
| | ٪ ۲.۱۰ | |
| دموادو ګډ لګښتونه | | ۱۳۹۰۰ |
| | | ۱۸۳۰۰۰ |
| تکمیلي اجوري | ٪ ۵.۸۵ | |
| تکمیلي ګډ لګښتونه | | ۱۵۶۴۰۰ |
| د بشپړ شوو تولیداتو تولیدي لګښتونه | | ۴۸۹۳۰۰ |
| دنیم کاره تولیداتو د موجودۍ زیاتیدنه منفی | | ۸۰۰۰ |
| د کار تمامه تولیداتو د موجودۍ زیاتیدنه منفی | | ۱۲۰۰۰ |
| د پلورل شوو تولیداتو تولیدي لګښتونه | ٪ ۹.۱۴ | ۴۶۹۳۰۰ |
| اداري ګډ لګښتونه | ٪ ۶.۵ | ۶۹۸۵۰ |
| د خرڅلاو ګډ لګښتونه | | ۲۶۲۵۰ |

د حقیقي تزئید د فیصدیو تر موندنې وروسته د تولید د هر واحد او همدارنګه د هرې سپارښتنې د لګښتونو ٪ ۲.۱۰، ٪ ۵.۸۵، ٪ ۹.۱۴ او ٪ ۶.۵ اجرا کیدای شي.
د دغه بحث تمرین باید د اقتصادي سنجشونو مضمون او د لګښت سنجش مضمون په چوکاټ کې ترسره شي.

**د نورمالو تزئیداتو په مرسته د تزئیدي لګښتونو سنجش:**

څرنګه چې رښتینې فیصدۍ د یوې حسابي دورې « سنجشی » په پای کې تر لاسه کېږي، نو په عمل کې امکان نه لري، چې ذکر شوې فیصدۍ په مخکني سنجش کې د تزئید د اساس په توګه وټاکو. په دې اساس باید له نورمالو تزئیدي فیصدیو څخه چې د مخکینیو دورو د لګښتونو له سنجش څخه ترلاسه شوي، استفاده وشي.

په لویو صنعتي فعالیت ځایونو کې په هره میاشت کې د لګښتونو د سنجش یو جدول جوړیږي. په دې اساس د نورمالو تزییدي فیصدیو د تثبیت لپاره، باید تېرې تجربې په پام کې ونیول شي. نورماله تزئیدی فیصدۍ چې زیاتره د خطراتو په پرتله د لوړو حقیقي تزئیدي له فیصدیو ټاکل کیږي، ښه والی لري، چې د قیمت سنجش په دایمي ډول بدلون ته اړتیا نه پیدا کوي. دغه موضوع ډیره اړینه ده، ځکه د بازار لپاره د عرضې قیمتونه په یوه اوږد مهاله موده کې باید په ثابت حال وساتل شي.

که څه هم د نورمال تزئیدي نسبتونه لوړ ټاکل کیږي، خو بیا هم د امتعې د قیمتونو او د اجورو د لوړیدو پر مهال امکان لري، چې د حقیقي تزئیداتو په اندول ټیټ نسبت وښیي.

په دې ډول د لګښتونو د کمښت له جبران څخه بحث کیږي. له بله پلوه په هغه صورت کې چې د نورمالو لګښتونو تزئیدات له حقیقي تزئیداتو څخه لوړ ټاکل شوې وي، کیدای شي، چې د

ketabton.com - The Digital Library

لګښتونو اضافي جبران رامنځ ته شي.

> دلګښتونو اضافي جبران د تزئیداتو لامل او د لګښتونو د کمښت جبران
> د فعالیت ځای د
> ګټې د تنقیص لامل کیږي.

که په دایمي بڼه نورمال لګښتونه او حقیقي لګښتونه سره زیات توپیر وښیي، نو له حقیقي لګښتونو سره سم په یادو نورمالو لګښتونو کې دې هم بدلونونه رامنځ ته شي

**بیلګه:** د حقیقي لګښتونو نسبتونه د لګښتونو د سنجش جدول د بیلګې په اساس، چې په همدې څپرکي کې د تزئیدي کلکولیشن په موضوع کې د حقیقي تزئید په مرسته توضح شوي، په لاندې ډول زیاتیږي.

د موادو ګډ لګښتونه ٪ ۲. ۱۰
تکمیلي ګډ لګښتونه ٪ ۵. ۸۵
اداري ګډ لګښتونه ٪ ۹. ۱۴
د خرڅلاو ګډ لګښتونه ٪ ۶. ۵

نورمالې تزئیدات باید داسې وي.

د موادو ګډ لګښتونه ٪ ۱۰
تکمیلي ګډ لګښتونه ٪ ۸۰
اداري ګډ لګښتونه ٪ ۱۵
د خرڅلاو ګډ لګښتونه ٪ ۵

په مجموعي ډول د لګښتونو د کمبودۍ یو جبران رامنځ ته شوی دی.

| متن | مجموع | مواد | تولید | اداري | پلورل |
|---|---|---|---|---|---|
| حقیقي ګډ لګښتونه په افغانۍ | 266400 | 13900 | 156400 | 6950 | 26250 |
| فیصدۍ | . | 2 .10% | 5 .85% | 9 .14% | 6 .5% |
| نورمال لګښتونه په افغانۍ | 251800 | 13600 | 146400 | 68850 | 22950 |
| فیصدۍ | . | 10% | 80% | 10% | 5% |
| د کمښت جبران په افغانۍ | 14600 | 300 | 10000 | 1000 | 3300 |

د تولیدي لګښتونو، پلورل شوو تولیداتو سنجش د نورمالو تزییداتو د فیصدیو په مرسته په لاندې

ketabton.com - The Digital Library

ډول ترسره کيږي:

| | | |
|---|---|---|
| | | افغانۍ |
| د تکميلي موادو لګښتونه | | ۱۳۶۰۰۰ |
| د موادو ګډ لګښتونه | ۱۰٪ | ۱۳۶۰۰ |
| د تکميلي اجورو لګښتونه | | ۱۸۳۰۰۰ |
| تکميلي ګډ لګښتونه | ۸۰ ٪ | ۱۴۶۴۰۰ |
| د بشپړ شوو توليداتو توليدي لګښتونه | | ۴۷۹۰۰۰ |
| د نيم کاره توليداتو د موجودۍ تزئيد منفي | | ۸۰۰۰ |
| د کارتمامه توليداتو د موجودۍ تزئيد منفي | | ۱۲۰۰۰ |
| د پلورل شوو توليداتو توليدي لګښتونه | | ۴۵۹۰۰۰ |
| اداري ګډ لګښتونه | ۱۵٪ | ۶۸۸۵۰۰ |
| د خرڅلاو ګډ لګښتونه | ۵۵٪ | ۲۲۹۵۰ |

**د لګښتي حامل پاڼې په مرسته د لګښت د حاصل سنجش:**

د لګښت د حامل په سنجش کې د لګښتونو هغه مجموع چې « انفرادي لګښتونه، ګډ لګښتونه» په يو فعاليت ځای کې رامنځ ته شوي دي، په ياد فعاليت کې سنجش کيږي. په ياد سنجش کې بايد د لګښت د حامل د دوو ډولو سنجش ترمنځ توپير وشي.

**الف- د لګښت د حامل مهالنی سنجش:** دغه سنجش د ټولو توليداتو مجموعي سنجش(يامجموعي وروستی کلکوليشن)دی، چې په يوه سنجشي دوره کې پلورل شوي دي.

**ب- د حامل د هر واحد سنجش:** دغه سنجش د توليد د هر واحد له سنجش څخه دی او له ټولو څخه لومړی بايد د پيرودونکو د سپارښتونو د سنجش په برخه کې ترې کار واخيستل شي. دا کلکوليشنونه بايد د اقتصادي سنجشونو او د لګښت سنجش په مضمون کې تمرين شي.

ketabton.com - The Digital Library

**د فعالیت ځای د لګښتونو د سنجش دجدول بیلګه**

| د حساب نمبر | دلګښتونو ډولونه | د محاسبې شمیرې | د ویش اساس | A<br>د موادوځای | B<br>تکمیلي موضع | C<br>اداري موضوع | D<br>دځرڅلاو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | افغانۍ | | افغانۍ | افغانۍ | افغانۍ | افغانۍ |
| 41 | مرستیال اومحرکه مواد | 30800 | د موادو دتسلیمۍ سند | 1400 | 26800 | - | 2600 |
| 425 | بریښنا، ګاز، اوبه | 10900 | کیلواټ، متر مکعب | 500 | 8100 | 1500 | 800 |
| 432 | مرستیالې اجورې | 22350 | د اجورو لست | 2000 | 15000 | 4350 | 1000 |
| 439 | معاشونه | 79700 | د معاشونو لست | 5600 | 29800 | 31600 | 12700 |
| 44 | ټولنیز لګښتونه | 25200 | د اجورو او معاشونولست | 900 | 19600 | 3300 | 1400 |
| 46 | مالیات | 42100 | د مالیې اسناد | - | 27100 | 12900 | 2100 |
| 47 | بیلابیل لګښتونه | 33850 | بیلابیل سناد | 350 | 15200 | 11500 | 3650 |
| 48 | استهلاک | 21500 | دثابتې شتمنۍ محاسبه | - | 14800 | 4700 | 200 |
| | د ګډو لګښتونو مجموعه | 266400 | | 13900 | 156400 | 69850 | 26250 |
| | | | | د موادو ګډ لګښتونه | تکمیلي ګډ لګښتونه | اداري ګډ لګښتونه | دخرڅلاو ګډ لګښتونه |
| | | | د تزئید اساسات | 136000 | 183300 | 469300 | 469300 |
| | | | | تکمیلي مواد | تکمیلي اجورې | تولیدات | پلورل شوي تولیدي لګښتونه |
| | | | د تزئید فیصدۍ | 2 .10 % | 5 .85 % | 9 .14 % | 6 .5 % |

ketabton.com - The Digital Library

زیاتره صنعتي فعالیت ځایونه د تولید زیات ډولونه یا لږ تر لږه څو ډوله یې لري، چې لګښتونه یې بیلابیل وي.

د لګښت د حامل پانې په مرسته هغه سنجش ترسره کیږي، چې ترسره شوي لګښتونه د کوم فعالیت ځای د فعالیت لپاره دي او د هر تولید اړوند لګښتونه کوم مبلغ ته رسیږي. همدارنګه د لګښت د حامل په پاڼه کې، سنجشي لګښتونه او د خرڅلاو حاصلات د یو بل په وړاندې ایښودل کیږي او پرتله کیږي، په دې توګه د حاصل اندازه او د اندازې د منفي په صورت کې د هر تولید ضرر تثبیتېدای شي.

په هغه صورت کې، چې د بازار سیاست ایجاب وکړي، چې د یوې تصدۍ آمریت کولی شي د تولیداتي لګښت د حامل سنجش په اساس، چې لږه ګټه لري. « یا حتی په تاوان کې وي» له هغو تولیداتو سره برابر کړي چې زیات حاصل لري.

**د لګښتي حامل پاڼې یوه بیلګه:** یو صنعتي فعالیت ځای په یوه سنجشي دوره کې درې ډوله بیلابیل تولیدات تولیدوي، انفرادي لګښتونه او د خرڅلاو حاصلات په دقیقه توګه تثبیت شوي دي.

| | A تولید | B تولید | C تولید |
|---|---|---|---|
| | افغانۍ | افغانۍ | افغانۍ |
| تکمیلي مواد | ۴۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |
| تکمیلي اجوره | ۲۲۰۸۰ | ۱۵۰۰۰ | ۷۰۰۰ |
| د خرڅلاوحاصلات | ۱۷۱۲۴۰ | ۵۳۹۶۶ | ۸۹۰۸۰ |

ketabton.com - The Digital Library

## لګښتي حامل پاڼه

| | | هغه لګښتونه، چې په رښتيني توګه ترسره شوي | | د لګښتونو دکمبودۍ او اضافي جبران | د نورمال سنجش لګښتونه | | د لګښت حامل | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | افغانۍ | % | | | | 1تولید | 2تولید | 3تولید |
| | | | | | افغانۍ | % | افغانۍ | افغانۍ | افغانۍ |
| | تکمیلي مواد<br>ګډ لګښتونه | 80000<br>4000 | | +800<br>+2200 | 80000<br>4800 | 6 | 40000<br>2400 | 10000<br>600 | 30000<br>1800 |
| 1 | د تکمیلي اجورو د موادو لګښتونه تکمیلي ګډې اجورې | 84000 | | | 84800 | 125 | 42400 | 10600 | 31800 |
| | | 44080<br>52900 | | | 44080<br>55100 | | 22080<br>27600 | 15000<br>18750 | 7000<br>8750 |
| 2 | تکمیلي لګښتونه | 96980 | | | 99180 | | 49680 | 33750 | 15750 |
| 3 | د« 2+1 » سنجشي دورې تولیدي لګښتونه | 180980 | | +3000 | 183980 | | 92080 | 44350 | 4755 |
| | د نیم کاره تولیداتو د موجودۍ تنقیص<br>دکار تمامو تولیداتو د موجودۍ زیاتوالی | +40000<br>-10000 | | | +40000<br>-10000 | 10<br>5 | +20000<br>-3000 | +5000<br>-1000 | 15000<br>-6000 |
| 4 | د پلورل شوو تولیداتو تولیدي لګښتونه | 210980 | | | 213980 | | 109080 | 48350 | 56550 |
| | اداري ګډ لګښتونه دخرڅلاو ګډ لګښتونه | 14900<br>13400 | | +6500<br>-2700 | 21400<br>10700 | | 10900<br>5450 | 4840<br>2420 | 5660<br>2830 |
| 5 | دپلورل شوو تولیداتو تمام شوي لګښتونه | 239280 | | +6800 | 246080 | | 125430 | 55610 | 65040 |
| 6 | د خرڅلاو خالص حاصل | 314280 | | | 314280 | | 171240 | 53960 | 89080 |
| 7 | | 75000 | | | | | | | |
| 8 | د پلورل شوو تولیداتو پایله « 5-4» | | | | 68200 | | 45810 | -1650 | 24040 |
| 9 | اضافي جبران = د پایله | | | | +6800 | | | | |
| | | | | | 57000 | | | | |

ketabton.com - The Digital Library

**د شپږم څپرکي د مطالبو لنډيز**

هر صنعتي فعاليت ځای بايد يو جوړ شوی او منظم د لګښتونو سنجش او د فعاليت سنجش ولري. ټول لګښتونه او فعاليتونه بايد تثبيت شوي سنجش شي او د ګټې اخيستلو په مقصد له هغو څخه مجموع کړل شي.

د دې مقصد لپاره بايد د لګښتونو محاسبه او سنجش په کلي توګه له يوبل سره سمون ولري. سنجش، د لګښتونو ډولونه «د لګښتونو دقيق تثبيت» د لګښت د موضع سنجش «د فعاليت ځای په بيلابيلو ځانګو کې د لګښتونو موندنه » او د لګښت د حامل سنجش « د توليد پر هر واحد باندې لګښتونو سنجش» ترسره کوي.

د قيمته کلکوليشن لپاره د لګښتونو سنجش«د قيمت سنجش » حتمي او ضروري وي. د دې لپاره چې د توليد د هر واحد تمام شوی قيمت پيدا شي، يوازې هغه لګښتونه، چې د توليد په يوه ټاکلې دوره کې ترسره شوې دي، بايد د دې دورې د لاسته راغلو توليداتو په شمير باندې وويشل شي. له دې امله د لګښتونو دغه ډول مصرفونه د تقسيمي لګښتونو د سنجش« تقسيمي کلکوليشن» په نامه يادېږي.

د ګډو لګښتونو مجموعي زياتوالی يا تزئيد د لويو او منځنيو فعاليت ځايونو لپاره مساعد نه وي. دغه موسسې بايد د لګښتونو د سنجش له دقيقو لارو چارو څخه استفاده وکړي.

په دې ځای کې ټول فعاليت ځايونه پر ځانګو ويشل شوي او ګډ لګښتونه د يوې ټاکلې نښې له مخې پر هغه موضع يا ځای باندې چې په کې رامنځ ته شوي، ويشل کيږي، چې دغه پړاو د لګښت د موضع(ځای)د سنجش په نوم يادېږي. د فعاليت ځای د لګښتونو د سنجش جدول، د۴۱-۴۳۲-۲۴ او ۴۸ حسابونو ګډ لګښتونه له محاسبې څخه اخلي.

يو کوچنی صنعتی فعاليت ځای، نه شي کولی، چې د لګښتونو پر څلورګونو ځايونو باندې اکتفا وکړي..

**A – د موادو د لګښت ځای B- د توليد دلګښت ځای C – د ادارې د لګښت ځای D- د خرڅلاو د لګښت ځای**

لوی صنعتي فعاليت ځايونه د زياتو اړتياوو له مخې بايد د خپل د لګښت مواضع تقسيم بندي کړي. په ځانګړې توګه د توليد موضع بايد پر بيلابيلو فرعي کارځايونو و ويشل شي.

د اصلي لګښت له څلورو مواضعو سره سم ګډ لګښتونه هم ويشل کيږي:

- **A- د موادو ګډ لګښتونه.**
- **B- د توليد ګډ لګښتونه.**
- **C- د ادارې ګډ لګښتونه.**
- **D- د پلورلو ګډ لګښتونه.**

په لويو صنعتي فعاليت ځايونو کې په هره مياشت کې د لګښتونو د سنجش يو جدول

ketabton.com - The Digital Library

جوړېږي. په دې اساس بايد د نورماله تزييدي فيصديو د تثبيت لپاره د تيرو مياشتو تجربې په پام کې ونيول شي.

که څه هم د نورمال تزئيدي نسبتونه لوړ ټاکل کيږي، خو بيا هم د امتعې د قيمتونو او د اجورو په لوړيدو سره امکان لري، چې د حقيقي تزئيداتو په تناسب ټيټ نسبت ښيي، په دې صورت کې د لګښتونو د کمښت له جبران څخه بحث کيږي.

له بله پلوه په هغه صورت کې، چې د نورمالو لګښتونو تزييدات له حقيقي تزئيداتو څخه لوړ ټاکل شوې وي، کيدای شي چې د لګښتونو زيات جبران رامنځ ته شي. دلګښتونو زيات جبران د تزئيداتو لامل او د لګښتونو د کمښت جبران دفعاليت ځای د ګټې د تنقيص لامل کيږي.

سربيره پر دې د لګښت د حامل په سنجش کې د لګښتونو هغه مجموع چې« انفرادي لګښتونه، ګډ لګښتونه» په يو فعاليت ځای کې ترسره شوي، په ياد فعاليت کې سنجول کيږي. په نوموړي سنجش کې بايد د لګښت د حامل د دوو ډولونو د سنجش ترمنځ توپير وشي. د لګښت د حامل دوه ډوله دا دي:

**الف:** د لګښت د حامل مهاله سنجش.

**ب :** د لګښت د حامل د هر واحد سنجش.

د لګښت د حامل پاڼې په مرسته هغه سنجش ترسره کيږي، چې رامنځ ته شوي لګښتونه د کوم فعاليت ځای د فعاليت لپاره دي او د هر توليد اړوند لګښتونه کوم مبلغ ته رسيږي. همدارنګه د لګښت د حامل په پاڼه کې، د سنجش لګښتونه او د خرڅلاو حاصلات د يو بل په وړاندې ايښودل کيږي او پرتله کيږي، په دې توګه د حاصل اندازه او د اندازې د منفي په صورت کې د هر توليد ضرر تثبيتېدای شي.

په هغه صورت کې چې د بازار سياست ايجاب وکړي، د يوې تصدۍ آمريت کولی شي د توليداتي لګښت د حامل د سنجش په اساس، چې لږه ګټه لري، « يا حتی په تاوان کې وي» له هغو توليداتو سره برابر کړي چې زيات حاصل لري.

ketabton.com - The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې:**

۱- تقسیمي کلکولیشن تعریف کړئ؟

۲- د تزئیدي کلکولیشن تعریف کړئ؟

۳- د لګښت د ځای(موضع)سنجش تعریف کړئ؟

۴- یو کوچنی صنعتي فعالیت ځای معمولاً باید د لګښت څو ځایونه ولري، توضیح یې کړئ؟

۵- اداري ګډ لګښتونه څه ډول لګښتونه دي، تشریح یې کړئ؟

۶- د خرڅلاو ګډ لګښتونه تعریف کړئ؟

۷- د لګښت د حامل سنجش په څو ډوله دی، هر ډول یې تشریح کړئ؟

۸- د فعالیت ځای د لګښتونو د سنجش جدول د حسابونو د ګډو لګښتونو د کوم ځای(موضع) له محاسبې څخه اخلي؟

۹- د کومو موجه دلیلونو له مخې د نورمالو تزییداتو فیصدۍ زیاتره له لوړو حقیقي زیاتیدونکو فیصدیو څخه ټاکل کیږي، موضوع په دقیقه توګه تشریح کړئ؟

۱۰- د موادو ګډ لګښتونه څه دي، په دقیقه توګه یې تشریح کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



# د استهلاکونو سنجش

**تولیزه موخه:**

داستهلاک مفهوم، داستهلاک د سنجش میتود، د استهلاک بنې او د استهلاک عمل

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلین به پر دې وتوانیږي چې:

- په دقیقه توګه د استهلاکونو مفهوم وپیژني.
- په بیلانس کې د استهلاکونو د محاسبې د کړنلارې محاسبه وکړي.
- په بیلانس کې د استهلاکونو مستقیم او غیر مستقیم میتود محاسبه کړي.
- په دقیقه توګه د استهلاکونو ډولونه زده کړي.
- په بیلانس کې مشکوک طلبات د طلباتو داستهلاکونو په توګه محاسبه کړي.
- په دقیقه توګه د استهلاکونو بڼې وپیژني.
- په دقیقه توګه د ثابتې شتمنۍ د استهلاک علت درک کړي.

**استهلاکونه:**

استهلاک هغو ټولو ثابتو شتمنیو په اړه چې د زړیدو تر قاعدې لاندې راځي، تطبیقیږي، ثابتې شتمنۍ دا دي: ودانۍ، ماشین آلات، د تصدۍ اثاثیه او تجهیزات، ځمکه هم په ثابته شتمنۍ پورې اړوندیږي، خو په ځمکه کې زیاتوالی نه راځي او یا د استعمال په اثر له منځه نه ځي او استثناً استهلاک هم په محاسبه کې له ځمکې څخه سنجش کیږي.

د هغو ثابتو شتمنیو جمع چې په پورته توګه یې یادونه وشوه، په مستقیمه توګه د تولید په بهیر کې کارول کیږي او د دوامداره استعمال په اثر زړیږي او ورو، ورو له منځه ځي. د ثابتو

ketabton.com - The Digital Library

شتمنیو له منځه تلو او زړیدو ته استهلاک وایي او کیدای شي استهلاک د تخنیکي استعمال له امله رامنځ ته شي او یا د موډ بدلون هم د شتمنیو ارزښت ټیټوي او د ارزښت دغه ټیټوالی په محاسبه کې د استهلاک په جمع کې ثبتیږي.

موږ کولای شو استهلاک په بل ترتیب هم تشریح کړو ؛ په هغه ترتیب سره چې ثابتې شتمنۍ د تولید د بهیر د په کار اچولو په مرسته د زړیدو تر قاعدې لاندې راځي او دغه زړښت مخارج دي؛ موږ د مخارجو اصطلاح په مخکنیو برخو کې مطالعه کړې او څرنګه چې د اجورې او معاش ورکړه او هغه ورکړه چې د مالونو جایزه ګڼل کېږي زموږ د تصدۍ لپاره مخارج دي، د ثابتې شتمنۍ استهلاک هم د مخارجو یو ډول دی. بیلګه:

موږ یو ماشین پر ۱۰۰۰ افغانۍ تهیه کړ، فرض کوو، چې له ماشین څخه پنځه کاله پوره ګټه اخیستلای شو؛ تر پنځه کاله وروسته ماشین باید په بشپړه توګه استهلاک شي.

د ماشین کلنی استهلاک ۲۰۰ افغانۍ « ۱۰۰۰ ÷ ۵ = ۲۰۰ » کیږي او هر کال ۲۰۰ افغانۍ د مخارجو په توګه په محاسبه کې درجېږي. په دې اساس کتل کیږي، یوه ورکړه چې په یو ځایي توګه د ماشین د تیارولو لپاره ترسره شوي، په تدریجي ډول د پنځو کلونو په اوږدو کې د استهلاک په وسیله په مخارجو باندې بدلوو، نو موږ کولای شو همدارنګه ادعا وکړو، چې: د استهلاک موخه دا ده هغه تادیه چې د ثابته شتمنۍ لپاره ترسره شوي د مخارجو په توګه په محاسبه کې معامله کیږي.

استهلاک په مستقیمه بڼه یا غیر مستقیمه بڼه درجېږي.

**الف- د مستقیم استهلاک میتود:** استهلاک په مستقیمه بڼه یا غیر مستقیمه بڼه درجېږي. استهلاک د لاندې بیلګې په اساس په محاسبه کې درجېږي.

**بیلګه:** یو تن د خپل صنعتي فعالیت ځای لپاره یو پایه ماشین د۱۰۰۰۰۰ افغانیو په قیمت له جرمني څخه واخیست، تر کابله د لیږدولو لګښت یې ۱۰۰۰۰ افغانۍ، د ګمرک لګښتونه یې ۴۰۰۰۰ افغانۍ کیږي. یاد ماشین په ۱۵۰۰۰۰ افغانیو دفتري قیمت « دتیارولو قیمت » په ټاکلي ځای ورته نصب شو؛ نو په دفتر کې لاندې حسابي جمله ثبتیږي.

**حسابي جمله:** ماشین ته ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ، له بانک څخه، ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ، له کسې ۵۰۰۰۰ افغانۍ، د تهیې قیمت، د ماشین له اصلي قیمت او هغو لګښتونو څخه عبارت دي، چې تر نصب او منتاژ پورې ترسره شوی وي.

هغه مهال چې ماشین په خپله تصدۍ کې نصبوو، نو ددې سنجش کوو، چې له دغه ماشین څخه تر کومې مودې پورې تولیدي استفاده کیږي.

په پای کې د تجربې او د ماشین د تخنیکي جزئیاتو په اثر دې نتیجې ته رسیږو، چې له دې ماشین څخه پنځه کاله تولیدي استفاده کیږي او د هر کال په پای کې د ماشین د ارزښت پنځمه برخه له محاسبوي پلوه استهلاکیږي او د ماشین د ارزښت تنقیص چې د استعمال له امله رامنځ ته کېږي هر کال په یو ټاکلي مبلغ سره د استهلاک په نوم په محاسبه کې درجوو، چې په دې توګه د

ketabton.com - The Digital Library

استهلاک یوکلن مبلغ یې۳۰۰۰۰ افغانۍ دی او دا چې موږ اټکل کړی و، چې ماشین د پنځم کال په پای کې د محاسبې له پلوه قیمت یې صفر ته رسیږي، امکان لري، چې له ماشین څخه تر پنځو کلونو زیاته ګټه واخیستل شي، خو کلنی مبلغ چې د ماشین د استهلاک له درکه د استهلاک په توګه په محاسبه کې معامله شوی، د پنځو کلونو په پای کې د ماشین د تیارولو له قیمت سره مساوي کیږي. او که ماشین له پنځو کلونو وروسته۲۰۰۰۰ افغانۍ قیمت ولري، نو په محاسبه کې یاد ماشین د محاسبوي ارزښت په نوم د۲۰۰۰۰ افغانیو په مبلغ، د خپلې ثابتې شتمنۍ په حساب کې درجوو او په دې ترتیب سره د کلني استهلاک مبلغ، چې له ۱۵۰۰۰۰ افغانیو څخه سنجش شوی و، اوس ۱۵۰۰۰۰-۲۰۰۰۰ = ۱۳۰۰۰۰ افغانۍ دي چې کلنی استهلاک یې د ۳۰۰۰۰ افغانیو پر ځای ۲۶۰۰۰ افغانۍ کیږي.

د کلني استهلاک د مبلغ جمع د ماشین د تیارولو په لګښت، منفي د هغه محاسبوي ارزښت د استهلاک له دورې وروسته او استهلاک په ټولیزه توګه د کال په پای کې د حسابونو د تړل کیدو پر مهال په داسې بڼه ترسره کېږي.

**د ثابتې شتمنۍ د استهلاک دوره**

| مستقیم استهلاک | غیر مستقیم استهلاک |
|---|---|
| د مستقیم استهلاک په صورت کې حساب‌ي جمله داسې لیکل کیږي:<br>د ماشین له حساب څخه د ثابتو شتمنیو استهلاک. | د غیر مستقیم استهلاک په صورت کې حساب‌ي جمله داسې اداکیږي:<br>د ماشین د سموونکي(مصحح) له حساب څخه د ثابته شتمنیو استهلاک ته. |

| D داستهلاک سموونکی | C | D ماشین | C |
|---|---|---|---|
| | (1) 30000 | 150000 | (1) 30000 |
| | | | |

| D دثابته شتمنۍ استهلاک | C | D دثابته شتمنۍ استهلاک | C |
|---|---|---|---|
| (1) 30000 | | (1) 30000 | |
| | | | |

ketabton.com - The Digital Library

له توليدي فعاليت څخه دماشين ايستل«دماشين خرڅلاو»: د څلورم کال په بهير کې تصدۍ ګوري، چې ماشين زوړ شوی او بايد يو نوی مدرنه ماشين يې ځای ونيسي.

۱- فرض کوو، چې کامیابه تصدۍ خپل زوړ ماشين پر۶۰۰۰۰ افغانۍ نغده پيسو وپلوري .

| مستقيم استهلاک | غير مستقيم استهلاک |
|---|---|
| د مستقيم استهلاک په صورت کې لاندې حسابي جمله لاسته راځي:<br>په کسه کې له ماشين څخه 60000 افغانۍ. په دې صورت کې هم د ماشين حساب تجزيه شوی او د هغه حساب برابر يا متوازن وي. | دغير مستقيم استهلاک په صورت کې حسابي جمله داسې ادا کيږي.<br>دثابتې شتمنۍ سموونکي ته 90000 له ماشين څخه، 90000 کسې ته له ماشين څخه 60000 په دې عمل سره هم دماشين حساب او هم دسموونکي حساب تجزيه شوی او له منځه ځي.<br>دغير مستقيم استهلاک په صورت کې لومړی د ثابتې شتمنۍ د سموونکي حساب متوازن کيږي او ورپسې د خرڅلاو معامله په حساب کې ثبتيږي. |

**تر خرڅلاو وروسته د حساب بڼه**

**مستقيم استهلاک** — **غير مستقيم استهلاک**

| C | ماشين | D | C | ماشين | D |
|---|---|---|---|---|---|
| (1) 60000 | 60000 لومړی موجود | | (1) 90000<br>60000 (2) | | 150000 |
| | | | **150000** | | **150000** |

| C | کسه | D | C | د ثابتې شتمنۍ سموونکی | D |
|---|---|---|---|---|---|
| | (1) 60000 | | 90000 | | 90000 |
| | | | | | |

۲ – فرض کوو چې تصدۍ بريالۍ شوه، خپل ماشين د ۷۰۰۰۰ افغانيو په قيمت په پور باندې خرڅ کړی.

ketabton.com - The Digital Library

| حسابي جمله | حسابي جمله |
|---|---|
| له ماشین څخه طلباتو70000 ، له ماشین څخه 60000 ؛ له فوق العاده حاصل څخه 10000 | د ثابتې شتمنۍ سموونکي ته له ماشين څخه 90000؛ طلباتو ته 70000 ؛ له ماشين څخه 60000؛ له فوق العاده عايد څخه 10000 په دې ځاى کې بيا هم وينو چې لومړى د ثابتې شتمنۍ د سموونکي حساب تجزيه او ورپسې د خرڅلاو عمل په محاسبه کې درجيږي. |

د استهلاک مستقيم او غير مستقيم ميتود په صورت کې، په دواړو صورتونو کې اضافي عايد د فوق العاده عايد په حساب شوى چې د توپير يې د حسابۍ آخرې دورې د ګټې او تاوان حساب ته ليږدول کيږي.

۳ – فرض کوو موږ پر دې بريالي شوو، چې خپل زوړ ماشين پر۴۰۰۰۰ افغانۍ په نغده توګه خرڅ کړو.

په دې صورت کې حسابي جمله داسې ثبتيږي.

| حسابي جمله | حسابي جمله |
|---|---|
| کسې ته40000، فوق العاده مخارجو ته20000 ، له ماشين څخه 60000 | دثابتې شتمنۍ د سموونکي په حساب له حساب څخه 90000 کسه ته40000 فوق العاده خرڅونو(مخارجو) ته20000 له ماشين څخه 60000 افغانۍ |

په دې صورت کې ليدل کيږي، چې د ماشين دپلورلو په صورت کې توپير يې تر محاسبوي ارزښت لړ، د فوق العاده مخارجو په نامه يو حساب ليږدول کيږي، چې توپير يې د کال په پاى کې د ګټې او تاوان حساب ته ليږدول کيږي.

مونږ د يو ماشين د تيارولو له مهاله او د استهلاک بڼه يې او په پاى کې له توليدي فعاليت څخه د ماشين د ايستلو « د ماشين پلورلو» ټولې حسابي عمليې مطالعه کړې اوس په دې برخه کې پر ځينو نورو ټکو رڼا اچوو:

۴ – په دې صورت کې فرض کوو، چې ماشين په څلورم کال کې نه دى پلورل شوى، بلکې ګټه ترې اخيستل کيږي. په دې اساس بايد د څلورم کال په آخر کې۳۰۰۰۰ استهلاک کړو او د پنځم کال په آخر کې کلني استهلاک ۲۹۹۹۹ ته رسيږي او يوه افغانۍ د ماشين دفتري قيمت دى، چې د محاسبې په حساب کې درجيږي.

په دې ځاى کې پوښتنه رامنځ ته کيږي، چې د پنځم کال په آخر کې ولې ماشين د ۳۰۰۰۰ افغانۍ په ارزښت نه استهلاکوو.

که موږ ماشين په پنځم کال کې هم په ۳۰۰۰۰ افغانۍ استهلاک کړى واى، نو دا په دې معنا

ketabton.com - The Digital Library

وه، چې د ماشین حساب متوازن شوی او له محاسبوي پلوه ماشین په تصدۍ کې شتون نه لري، چې البته دغه خبره له واقعیت سره سمون نه لري او ماشین تر اوسه هم په تصدۍ کې پر کار بوخت دی، سربیره پر دې، چې د استهلاک په مرسته د ماشین قیمت بر آورد شوی دی.

په دې صورت کې موږ د ماشین قیمت په خپل محاسبوي حساب کې د یوې افغانۍ په قیمت د یادېدو قیمت په توګه د ماشین په حساب کې درجوو او د یادېدو قیمت په دې معنا دی، چې ماشین شتون لري او دغه قیمت تر هغه وخت پورې د ماشین په حساب کې باقي پاتې کیږي، تر څو ماشین واقعاً له تولیدي فعالیت څخه وایستل شي.

**په محاسبه کې د استهلاک د وضع کېدو بڼې**

د ثابته شتمنۍ استهلاک په لاندې بڼو سره محاسبه او وضع کیږي:

- خطي استهلاک « له ټاکلو مبلغونو سره استهلاک »
- نزولي استهلاک.
- هندسي نزولي استهلاک.
- د ریاضي نزولي استهلاک.
- صعودي استهلاک .
- د یوې ثابتې شتمنۍ د قدرت یا ظرفیت په اساس استهلاک.

**د ثابتو شتمنیو د استهلاک علتونه**

موږ په تیرو بحثونو کې د استهلاک میتودونه مطالعه کړل، له هغه سره مو بلدتیا تر لاسه کړه، چې د دې میتودونو په مرسته د ثابتې شتمنۍ د په کار اچولو اندازه او زړښت ټاکل کېږي.

اوس غواړو پر دې پوه شو، چې د زړښت علت او سبب، چې له امله یې په ثابته شتمنۍ کې له ارزښتي پلوه ټیټوالی رامنځ ته کېږي څه شی دی. بیلابیل لاملونه شتون لري، چې د ثابتې شتمنۍ قیمت ټیټوي چې د هغو له جملې څخه مهم یې دا دي.

- د کارونې له امله زړښت.
- د زمان له پلوه زړښت « طبیعي زړښت» .
- د تخنیکي پرمختګ په اثر زړښت.
- د اقتصادي پرمختګ په اثر زړښت.
- د زمان د تیریدو له امله زړښت.
- د موادو د ایستلو یا استخراج په اثر زړښت.
- د غیر مترقبه حوادثو له امله زړښت.

ketabton.com - The Digital Library

**د طلباتو استهلاکونه**

موږ په مخکني مبحث کې د ثابته شتمنیو د استهلاکونو په اړه بحث وکړ، د استهلاک علتونه او میتودونه مو توضیح کړل. د ثابتې شتمنۍ د استهلاک تر څنګ یو بل ډول استهلاک هم شتون لري، چې موږ ورته د طلباتو استهلاک وایو. د دې ډول استهلاک په مرسته تثبیتوو هغه طلبات چې پر مشتریانو پاتې دي، ټول په هماغه مبلغ تر لاسه کېږي، چې د محاسبې په کتابونو کې درج شوی دی.

سوداګر د کال په پای کې د موجودۍ په مرسته نه یوازې د خپلو مالونو زیرمې د شمارلو، وزن کولو او اندازه کولو په مرسته ټاکې، بلکې د خپلو طلباتو اندازه هم څېړي او د دغه کنټرول په اثر تثبیتوي، چې د طلباتو له مجموع څخه، چې په پلورونکو یې لري، ټول په هماغه مبلغ د حاصلولو وړ نه ده.

**مثلاً:** که د طلباتو مجموع۱۵۰۰۰۰ افغانۍ وي، د دغو پیسو په جمله کې هغه طلبات چې د حاصلیدو وړ نه دي، مشکوک طلبات او د حاصلیدو وړ طلبات ټول شامل دي.

**دهغو طلباتو استهلاک چې د حاصلیدو وړ نه دي:**

له دې ډول بیلابیلو طلباتو سره په محاسبه کې څه ډول معامله ترسره کیږي؟ هغه طلبات چې د حاصلیدو وړ نه دي، په مستقیمه توګه استهلاکیږي.

**مثال:** یو مشتري، چې پرې د ۱۰۰۰۰ افغانیو په مبلغ طلبات لرو، مفلس شوی او خپله پانګه یې له لاسه ورکړې او د تجارتي محکمې له څانګې څخه، چې په کې د افلاسو مسایل تر څېړنې لاندې نیول کیږي، موږ ته اطلاع راکول کیږي، چې له یادو طلباتو څخه کوم څه لاسته نه راځي؛ یعنې طلبات د حاصلیدو وړ نه دي او موږ دغه طلبات په مستقیمه توګه استهلاک ته رسوو.

**حسابي جمله:** له طلباتو د طلباتو استهلاک ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ

په لنډه توګه بیا یادونه کوو، هغه طلبات، چې د حاصلیدو وړ نه دي، استهلاک ته رسیدلي او د استهلاک د حساب توپیر د ګټې او تاوان په حساب کې درجېږي.

موږ د کال په بهیر کې وینو، چې زموږ د طلباتو یو برخه شکمنه شوې ده، د دې لپاره چې شکمنه غوښتنه مو له هغې طلباتو څخه چې د حاصلیدو وړ دي، بیله کړې وي، د خپلو شکمنو طلباتو لپاره یو بیل حساب جوړوو، شکمنه غوښتنه لومړی همدې حساب ته لیږدوو، په دې حساب کې هغه طلبات چې په حاصلیدو کې یې شک او تردید موجود وي، درجېږي. فرضاً زموږ د طلباتو له جملې څخه ۵۰۰۰۰ افغانۍ شکمنې شوي د هغې حسابي جمله په لاندې توګه ده:

شکمنو طلباتو ته د طلباتو له حساب څخه ۵۰۰۰۰ افغانۍ او د شکمنو طلباتو حساب، د بیلانس یو حساب دی.

په ورپسې پړاو کې اټکل کوو، چې له دغه شکمن مبلغ څخه به څومره مونږ ته راکړل شي.

ketabton.com - The Digital Library

فرضاً که مونږ درې ډوله شکمن طلبات ولرو، په لاندې ډول یې د لاسته راوړلو انتظار لرلای شو:

| په اټکلي ډول د حاصلیدو وړ شکمنو طلباتو مبلغ | | هغه مبلغ چې د حاصلیدو وړ نه دي |
|---|---|---|
| ۱- ۲۰۰۰۰ | ۸۰۰۰ | ۱۲۰۰۰ |
| ۲- ۵۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۳۰۰۰ |
| ۳- ۲۵۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۵۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |

لکه څنګه چې له ۵۰۰۰۰ افغانیو طلباتو څخه، ۳۰۰۰۰ افغانۍ یې د حاصلیدو وړ وبولو، نو پاتې ۲۰۰۰۰ افغانۍ یې په غیر مستقیمه توګه په محاسبه کې د استهلاک حساب ته رسوو. د دې موخې لپاره موږ طلباتو یو سموونکی(مصحح) حساب جوړوو.

حسابي جمله یې په لاندې ډول ده.

د طلباتو استهلاک ته د طلباتو له سموونکي یا مصحح څخه۲۰۰۰۰ افغانۍ.

د کال په آخر کې زموږ د طلباتو د حساب بڼه په لاندې ډول سره ښودل کیږي.

| C مشکوک طلبات D | | C طلبات D | |
|---|---|---|---|
| 50000 وروستی بیلانس | (2) 50000 | (1) 10000<br>(2) 50000<br>90000 د وروستي بیلانس توپیر | 150000 |
| **50000** | **50000** | **150000** | **150000** |

| C د طلباتو سموونکی D | | C د طلباتو استهلاک D | |
|---|---|---|---|
| (2) 20000 | 20000 وروستی بیلانس | 30000 ګټه او تاوان | (1) 10000<br>(2) 20000 |
| **20000** | **20000** | **30000** | **30000** |

د شکمنو طلباتو د حسابونو او د طلباتو د سموونکی یا مصحح حسابونو توپیرونه وروستي بیلانس ته لیږدول کیږي او د طلباتو د استهلاک د حساب توپیرونه، ګټې او تاوان ته لیږدول کیږي او د نوي کال په پیل کې د شکمنو د طلباتو او د طلباتو د سموونکي(مصحح) د حساب بڼه داسې را څرګندیږي.

ketabton.com - The Digital Library

| D طلبات C | | D مشکوک طلبات C | |
|---|---|---|---|
| 90000 لومړنی موجود | | 50000 لومړنی موجود | |
| | | | |

| D سموونکی C | |
|---|---|
| | 20000 لومړنی موجود |
| | |

اوس فرض کوو، چې له شکمنو طلباتو څخه چې مخکې مو یادونه وکړه، له لومړیو طلباتو څخه -/8000 افغانۍ حاصلیږي. او له دویم څخه یې -/4000 افغانۍ حاصلیږي او له دریم څخه یې -/15000 افغانۍ حاصلیږي او دغه ټولې پیسې د بانکي لیږدونې په مرسته موږ ته راکړل شوې دي. د دغه حساب حسابې جمله په لاندنۍ بڼې لیکل کیږي.

د طلباتو سموونکي ته -/12000 افغانۍ، بانک ته -/8000، له شکمن څخه -/20000.

۱- د طلباتو سموونکي ته -/3000، له شکمن څخه -/3000، بانک ته 4000 ، له شکمن څخه -/2000 او له فوق العاده عاید څخه -/2000 افغانۍ.

۲- د طلباتو سموونکي ته -/۵۰۰۰، د طلباتو له استهلاک څخه-/۵۰۰۰ او بانک ته -/۱۵۰۰۰ ، له شکمنو طلباتو څخه -/۲۵۰۰۰

په دې ځای کې باید څرګنده شي امکان لري، له هغو طلباتو څخه، چې د حاصلیدو وړ دي، هم ناڅاپه یو برخه یې له سوزیدو سره مخامخ شي، په هغه شیبه کې، چې مونږ د یادو پیسو له نه حاصلیدو څخه ډاډمن کیږو، یاد طلب په مستقیمه توګه استهلاک ته رسوو، له لاندنۍ حسابي جملې سره:

**د طلباتو له حساب څخه د طلباتو استهلاک ته:** خو ددې پرخلاف که د حاصلیدو امکان د طلب په یوه برخه کې موجودو، لومړۍ یې د حسابي جملې په مرسته د شکمنو طلباتو په حساب لیکو.

**د طلباتو له حساب څخه طلباتو ته:** حسابي جمله یې: او وروسته که د طلباتو یوه برخه استهلاک ته رسوو او د دې ډول طلباتو استهلاک، چې د حاصلیدو وړ نه وي، په دې صورت کې په غیرمستقیم ډول ترسره کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

د طلباتو له سموونکي(مصحح)څخه د طلباتو استهلاک ته:

**بیلګه:**

| P | ورروستی بیلانس | A |
|---|---|---|
| 115000 I شخصي پانګه | | I ثابته شتمني |
| II د غیر پانګه | | 60000 ۱- ودانه شوې ځمکه |
| 6900 1 داینین | | 15000 ۲- اثاثیه او تجهیزات |
| | | II ګرځنده شتمني |
| | | 32000 ۱- مالونه |
| | | 9700 ۲- طلبات |
| | | 3300 ۳- بانک |
| | | 1900 4- کسه |
| **121900** | | **121900** |

**معاملې:**

۱- یوه امتعه پلورو چې « ۳۰۰۰ » د خرڅلاو له درک څخه یې نغده ورکول کیږي، ۱۰۰۰ په پور ۲۰۰۰ ۳۰۰۰ د نغدې ورکړې له قیمت څخه ټیټ(تنزیل)، ۲ فیصده

۲- اثاثیه او تجهیزات په -/۱۲۰۰ افغانیو نغده پیسو اخلو.

**له نغد قیمت څخه،۵ فیصده تنزیل**

۳- د شخصي اړتیا لپاره له امتعې څخه اخیستنه (برداشت) ترسره کوو،۲۰۰۰ افغانۍ.

۴- پیرودونکی د امتعې یوه برخه بیرته راګرځوي (مستردوي)؛ ۱۵۰۰افغانۍ.

۵- زموږ له طلباتو څخه ۳۰۰ افغانۍ شکمنې کیږي.

**دکال د پای ته رسیدو په اړه معلومات:استهلاکونه له:**

**الف:** ودانه شوې ځمکه ۲ فیصده له دفتري قیمت څخه غیر مستقیم ۱۲۰۰ افغانۍ.

**ب:** اثاثیه او تجهیزات ۱۰ فیصده له دفتري قیمت څخه غیر مستقیم ۱۶۲۰ افغانۍ.

**ج:** له نورمالو طلباتو څخه ۱۲۰۰ افغانۍ یې د حاصلیدو وړ نه دي، په مستقیمه توګه استهلاکیږي.

**د:** له شکمنو طلباتو څخه ۱۰ ٪ یې د حاصلیدو وړ نه دي؛ په مستقیمه توګه استهلاکیږي.

دانونتور په مرسته وروستی موجود -/۱۴۰۰۰ افغانۍ

ketabton.com - The Digital Library

| D دامتعې خرڅلاو | C | D ودانې شوې ځمکې | C |
|---|---|---|---|
| 1500 مستردي<br>18000 | 3000 (1)<br>2000 (5)<br>دامتعې تاوان 500 .14 | 60000 | 60000 |
| **19500** | **19500** | | |

| D بانک | C | D کسه | C |
|---|---|---|---|
| 3300 | 3300 | 1900 لومړنی موجود<br>980 | 1140 (2)<br>1740 |
| **3300** | **3300** | **2880** | **2880** |

| D شکمن | C | D طلبات | C |
|---|---|---|---|
| 3000 | 3000 وروستی بیلانس | 9700 لومړنی موجود<br>2000 | 1500 (3)<br>3000 (4) |
| **3000** | **3000** | | |

| D د ودانو شوو ځمکو استهلاک | C | D د تنزیل حاصل | C |
|---|---|---|---|
| 1200 | 1200 | 60 | 60 |
| **1200** | **1200** | **60** | **60** |
| | | | |
| D مسترد شوي امتعه | C | D د تنزیل مخارج | C |
| 1500 | 1500 | 20 | 20 |
| **1500** | **1500** | **20** | **20** |

| D داثاثیه او تجهیزاتو سموونکی | C | D داینین | C |
|---|---|---|---|
| 1620 | 1620 | 6900 | 6900 |
| **1620** | **1620** | **6900** | **6900** |

| D اخیستنه | C | D د امتعې پیرودنه | C |
|---|---|---|---|
| 2000 | 2000 | 32000 لومړنی موجود | 14000<br>18000 |
| **2000** | **2000** | **32000** | **32000** |

ketabton.com - The Digital Library

| D د طلباتو سموونکی C | | D اثاثیه او تجهیزات C | |
|---|---|---|---|
| 300 | 300 | 15000<br>1200 | 16200 |
| **300** | **300** | **16200** | **16200** |

| D داثاثیه وو اوتجهیزاتو استهلاک C | | D شخصي پانګه C | |
|---|---|---|---|
| 1620 | 1620 | 2000 اخیستنه<br>18780 تاوان<br>9420 | لومړنی موجود<br>115000 |
| **1620** | **1620** | **115000** | **115000** |

| D د طلباتو استهلاک C | | D د وداني شوې ځمکې د قیمت مصحح C | |
|---|---|---|---|
| 1200 | ګټه او تاوان 1500 | 1200 | 1200 |
| **1200** | **1500** | **1200** | **1200** |

| D ګټه تاوان C | |
|---|---|
| 20–تنزیل<br>1200- د وداني شوې ځمکې استهلاک<br>1620-دتجهیزاتو استهلاک<br>1500 – دطلباتو استهلاک<br>14500- دامتعې خرڅلاو | تنزیل 60<br>دشخصي پانګې تاوان 18780 |
| **18840** | **18840** |

| D وروستی بیلانس C | |
|---|---|
| ثابته شتمني<br>1- ځمکه 60000<br>2- کالي 16200<br>II- ګرځنده پانګه<br>1- دڅیزونوامتعه14000<br>2- طلبات 6000<br>3- شکمن 3000<br>4- بانک 3300<br>5- کسه 1740 | I شخصي پانګه 94220<br>II – د نورو پانګه<br>1- داینین 6900<br>2- دځمکې سموونکی1200<br>3- دتجهیزاتو سموونکی 1620<br>4- د طلباتو سموونکی 300 |
| **104240** | **104240** |

ketabton.com - The Digital Library

**داووم څپرکي د مطالبو لنډيز**

استهلاک د هغو ټولو ثابتو شتمنيو په اړه تطبيقيږي، چې د زړښت تر قاعدې لاندې راځي ثابتې شتمنۍ دا دي: ودانۍ، ماشين آلات، د تصدۍ اثاثيه او تجهيزات، ځمکه هم په ثابته شتمنۍ پورې اړونديږي، خو په ځمکه کې زياتوالی نه راځي او يا د استعمال په اثر له منځه نه ځي او استثناً استهلاک په محاسبه کې هم له ځمکې څخه سنجش کيږي.

استهلاک په مستقيمه بڼه يا غير مستقيمه بڼه ليکل کيږي. د کلني استهلاک د مبلغ جمع د استهلاک تر دورې وروسته د ماشين له محاسبوي ارزښت څخه تهيې د لګښت له منفي سره مساوي ده. او عموماً استهلاک د کال په پای کې د حسابونو د تړل کيدو پر وخت ليکل کيږي.

د ثابتې شتمنۍ استهلاک په لاندې بڼو سره محاسبه او وضع کيږي.

- خطي استهلاک.
- نزولي استهلاک.
- هندسي نزولي استهلاک.
- د رياضي نزولي استهلاک.
- صعودي استهلاک.
- د يوې ثابتې شتمنۍ د قدرت يا ظرفيت په اساس استهلاک.

د ثابتې شتمنۍ د استهلاک تر څنګ يو بل ډول استهلاک هم شتون لري، چې موږ ورته د طلباتو استهلاک وايو. د دې ډول استهلاک په مرسته، تثبيتوو، چې د هغو طلباتو له جملې څخه چې پر مشتريانو يې لري، کوم يو په هماغه مبلغ، چې د محاسبې په کتابونو کې درج شوي تل لاسته نه راځي.

د دې لپاره هغه طلبات چې نه حاصليږي، د شکمنو طلباتو په نوم يادوو او له حاصل شوو طلباتو څخه يې بيل محاسبه کوو، حسابي جمله يې په لاندنۍ طريقې سره جوړيږي.

**حسابي جمله: له طلباتو څخه د طلباتو استهلاک ته:** سر بيره پر دې بايد يادونه وشي، چې د ثابتو شتمنيو د زړښت علت کولای شو په لاندي ډول سره وشميرو:

- د کاروني له امله زړښت.
- د زمان له پلوه زړښت « طبيعي زړښت».
- د تخنيکي پرمختګ په اثر زړښت.
- د اقتصادي پرمختګ په اثر زړښت.
- د زمان د تيريدو په اثر زړښت.

ketabton.com - The Digital Library

- د موادو د ایستلو یا استخراج په اثر زړښت.
- د غیر مترقبه حوادثو په اثر زړښت.

پورتني لاملونه هم د ثابتې شتمنۍ قیمت راټیټوي.

**لاندینۍ معاملې په ژورنال کې ولیکئ:**

۱- مور د /400000 افغانیو په ارزښت مالونه د بانکي لیږدونې په مرسته پلورو او ورسره د مشتري لپاره ۲ فیصده تنزیل وړاندې کوو.

۲- یو مشکوک طلب په نغده ډول ورکول کیږي. 10000 افغانۍ او د یاد طلب په حساب 50 فیصده د سموونکي یا مصحح په حساب ثبت شوې ده.

۳- مور د 200000 افغانیو په ارزښت مالونه په پور اخلو، له دغه درکه لس فیصده تخفیف ترلاسه کوو.

۴- د 20000 افغانیو په مبلغ د پورتنیو مالونو د ترانسپورت او ګمرکي محصول مخارج په نغده توګه ورکوو.

۵- د 50000 افغانیو په مبلغ مور اجوره ورکوو.

۶- زمور یو طلب د بانکي لیږدونې په مرسته ورکول کیږي. 200000 افغانۍ

۷- مور خپل پور د بانک په وسیله ورکوو. 100000 افغانۍ.

۸- د مشکوک طلب پاتې هم نغده ورکول کیږي. 15000 افغانۍ

۹- زمور یو طلب د حاصلیدو وړ نه دی. 20000 افغانۍ

**لاندې افتتاحیه معاملې په ژورنال کې درج کړئ:**

**لومړی**- د مالونو د زیرمو موجودي د انونتور په مرسته 600000 افغانۍ

**دویم**- د ودانیو د تهیې له قیمت څخه 2 فیصده په غیر مستقیمه بڼه استهلاکیږي.

**دریم**- له اثاثیه وو او تجهیزاتو څخه 40 فیصده یې له دفتري قیمت څخه استهلاکیږي او د اثاثیه وو او تجهیزاتو سموونکي یا مصحح 660000 افغانۍ دي.

**څلورم**- له طلباتو څخه 30000 افغانۍ شکمنې شوي او له ټولو شکمنو پیسو څخه یوازې 10000 افغانۍ یې د حاصلیدو وړ دي.

**IV**- د پورتنیو موضوعاتو په پام کې نیولو سره:

۱- د دې بیلانس ژورنال جوړ کړئ.

۲- معاملې د T په حسابونو کې درج او ولیکئ.

۳- د نتیجې بیلانس یې جوړ کړئ.

۴- د ختم بیلانس یې جوړ کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

| D | افتتاحیه بیلانس C |
|---|---|
| 1- ثابته شتمني | I 2000000 شخصي پانګه |
| 100000 1- ځمکه | II سموونکي |
| 200000 2- ودانۍ | 1 400000 .1- دثابتې شتمنۍ سموونکی |
| 100000 3-اثاثیه او تجهیزات | 30000 2- د طلباتو سموونکی |
| II- ګرځنده شتمني | III د نورو پانګه |
| 500000 1- څیزونه | 70000 1- پور |
| 300000 2-طلبات د مالونو د لیږدولو له درکه | 500000 2- داینین |
| 50000 3- شکمن طلبات | 100000 3- بانکي پور |
| 150000 4- کسه | |
| **4100000** | **4100000** |

**صفر کلاس- د ثابتې شتمنۍ د حسابونو آرام حسابونه:**

- اوږد مهاله ثابتې شتمنۍ « ځمکه » د صنعتي فعالیت ځایونو د ماشینونو ودانۍ، ترانسپورټي موټرونه، تجهیزات او داسې نور.
- اوږد مهال طلبات او ګډونونه- اوږد مهال پورونه یا دیون – شخصي پانګه – دفترونه

| موضوع | کلاس | موضوع | کلاس | موضوع | کلاس | موضوع | کلاس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | د طلباتو د استهلاک سموونکی | ۰۸۱ | شاړه ځمکه | ۰۰۰ |
| | | | | د انتقال پاتې ګټه | ۰۷۹ | ودانه شوې ځمکه | ۰۰۱ |
| | | | | په بیلانس کې ثبتیږي | | ماشین او ماشینې تاسیسات | ۰۲۰ |
| | | | | | | بار وړونکی موټر | ۰۳۰ |
| | | | | | | د کار وسایل | ۰۳۱ |
| | | | | | | د کارځای او اداري تجهیزات | ۰۳۷ |
| | | | | | | شخصي پانګه | ۰۷۰ |
| | | | | | | د اکتیفي سنجش تحدید | ۰۹۸ |
| | | | | | | د پسیفي سنجش تحدید | ۰۹۹ |
| | | | | | | د پسیف آزادې زیرمې | ۰۷۳ |
| | | | | | | سپما | ۰۷۳ |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۰۸۵ | شخصي پانګه | | | | | | |
| ۰۷۰ | شخصي پانګه | | | | | | |
| ۰۷۱ | د ثابتې شتمنۍ ماشینونه | | | | | | |
| ۰۱ | د قیمت سموونکی | | | | | | |
| ۰۸۱ | د طلباتو د قیمت سموونکی | | | | | | |
| ۰۸۴ | | | | | | | |
| ۰۵ | ثابته شتمني قیمت لرونکي اسناد | | | | | | |
| تعلق نیسي چې د هغوی هدف اوږد مهال ګټون نورو موسسوته وي د اکتیفي تهیې په قیمت ثبتیږي. | | | | | | | |

**۱ کلاس: مالي حسابونه:**

- تر یو کال د کمې مودې لنډ مهاله پولي او کریدیتي معاملې -کسه، بانک، طلبات، مشتریان، متفرقه طلبات، د مالونو د لیږلو په اساس پورونه، متفرقه پورونه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | کسه | | | |
| ۱۲ | چک | | | |
| ۱۴ | پر مشتریانو طلبات | | | |
| ۱۶ | د لیږونکو پورونه | | | |
| ۱۷ | متفرقه پورونه | | | |
| ۱۹ | شخصي حساب | | | |
| ۱۱۳ | بانک | | | |
| ۱۸ | پسیفي حساب د پور وکسل یا د پور ورکوونکو وکسل | | | |
| ۱۲۵ | په اکتیفي حساب کې د پورورو وکسل | | | |
| ۱۷۵ | د تصفیې وړ کسرات یا د ورکړې وړ مبلغونه | | | |
| ۱۵۰ | متفرقه طلبات | | | |
| ۱۷۰ | متفرقه پورونه | | | |
| ۱۹۷۰ | شخصي حساب | | | |
| ۱۹۷۱ | شخصي حساب | | | |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۷۶ | د ګټې حساب | | | |
| ۷۷ | د ګټې تهیه | | | |
| ۱۴۹ | مشکوک طلبات | | | |
| ۱۴۰۳ | پر پیرودونکو طلبات | | | |
| ۱۳ | اکتیفي شتمني ګرځنده اسناد | | | |
| | بیه لرونکي اسناد | | | |

**۲ کلاس – تحدیدي حسابونه:**

**-** هغه مخارج او حاصلات، چې په فعالیت ځای پورې اړه ونه لري- فوق العاده مخارج، د موادو مخارج، د حاصلاتو مالیات، د ځمکې او کور حاصلات او مخارج – له فعالیت ځای څخه بهر فوق العاده حاصلات ، د ګټې حاصلات، تر جوړونې لاندې لویو تأسیساتو ترمیمات، د قیمتونو توپیر او داسې نور تحدیدي حسابونه.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ | د موادو مخارج او حاصلات | ۲۵۰ | فوق العاده مخارج | | |
| ۲۶ | له فعالیت ځای څخه بهر مخارج او حاصلات | ۲۰۰ | د بیې د لوېدو له امله تاوان | | |
| ۲۰ | له فعالیت ځای څخه بهر مخارج او حاصلات | | د محصول د بیه لرونکو اسهامو نرخ | | |
| ۲۱ | مخارج او حاصلات چې د ځمکې پر بنسټ | | په معنا سره پیر او پلور | | |
| | او ودانی لاسته راځي | | د فعالیت ځای بهر مخارج | | |
| ۲۳ | د بیلانس استهلاک | ۲۰۵ | د مخارجو حاصلات | | |
| ۲۵ | د فعالیت ځای فوق العاده حاصلات او مخارج | ۲۴۰ | د مواد او ګټې مخارج | | |
| ۲۶ | بهر خرڅونه او حاصلات | ۲۴۵ | د ګټې حاصلات | | |
| | د فعالیت ځای حسابي دوره | ۲۸ | د سنجش استهلاک | | |
| ۲۴۲ | شکمن مخارج | ۲۵ | د فعالیت له دورې څخه بهر مخارج | | |
| ۲۴۸ | دسکونت حاصلات | ۲۵۱ | د فعالیت له دورې څخه بهر مخارج | | |
| ۲۴۴ | دسکونت مخارج | | | | |
| ۲۱۵ | د کور مخارج | | | | |
| ۲۴۵ | د ګټې حاصلات | | | | |
| ۲۵ | د فعالیت ځای فوق العاده حاصل | | | | |
| | | | | | |

ketabton.com - The Digital Library

**درېيم کلاس: د مرستيال او محرکه اومه موادو حسابونه**

- مرستيال او محرکه اومه مواد

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰۰ | اومه مواد | | | | |
| ۳۳ | مرستيال مواد | | | | |
| ۳۴ | محرکه مواد | | | | |
| ۳۰۱ | د پيرودل شوو مالونو کرايه | | | | |
| ۳۰۲ | د بار وړونکي لپاره کرايه | | | | |
| ۳۰۳ | د ترانسپورت بيمه | | | | |
| ۳۰۴ | د شتمنۍ د گمرک محصول | | | | |
| ۳۳۰ | مرستيال مواد | | | | |
| ۳۴۰ | محرکه مواد | | | | |
| ۳۰ | اومه مواد | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

**څلورم کلاس ۴ – د لګښتونو د ډولونو حسابونه:**

هم اړين دی او هم ستونزمن ، تثبيت يې لازم غور او احتياط ته اړتيا لري، خاص حسابي ګروپونه، تکميلي اجورې، مرستيالې اجورې، معاشونه، ټولنيز مخارج، مرستيال او محرکه مواد، بريښنا، ګاز، اوبه، استهلاک، ترميمات، ماليات، محصول- د بيمې د ګډون حق، انفرادي ځانګړي لګښتونه.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۰ | د تکميلي موادو لګښتونه | ۴۹۴ | د توليد انفرادي ځانګړي لګښتونه | |
| ۴۱ | د مرستيالو موادو لګښتونه | ۴۹۵ | د څرڅلاو انفرادي ځانګړي لګښتونه | |
| ۴۲ | دانرژۍ اوبو او محرقه موادو لګښتونه | ۴۷۹ | دپولي معاملو لګښتونه | |
| ۴۳۱ | تکميلي اجورې | ۴۶۹۲ | د لارۍ موټر بيمه | |
| ۴۳۲ | مرستيالې اجورې | ۴۶۴ | د حقوقو لګښتونه | |
| ۴۳۳ | معاشونه | ۴۸۰ | د سنجش استهلاک | |
| ۴۴ | ټولنيز مخارج، ټولنيز لګښتونه | ۴۸۱ | د طلباتو استهلاک | |
| ۴۷ | کرايه | ۴۲۵ | بريښنا ګاز او اوبه | |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۸ | استهلاکونه | ۴۶ | مالیات | |
| ۴۳ | «داجورو او معاشونولګښتونه» ګروپونه | ۴۷ | بیلابیل لګښتونه | |
| ۴۳۹ | یوازې د معاشونو لګښتونه | ۴۶ | د دعوا لګښتونه | |
| ۴۳۹۰ | د اداري مستخدمینو معاشونه | | | |
| ۴۳۹۱ | د تخنیکي مستخدمینو معاشونه | | | |
| | | | | |

**۵ کلاس- د سنجش حسابونه«د فعالیت ځای د سنجش پاڼه »**

**-** د سنجش حسابونه لکه: دانفرادي سنجش لګښتونه، د تکمیلي اجورو د سنجش لګښتونه، د تکمیلي ګډ سنجش لګښتونه، د موادو د ګډ سنجش لګښتونه، د اداري ګډ سنجش لګښتونه او د خرڅلاو د ګډ سنجش لګښتونه.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

ketabton.com - The Digital Library

**۶ کلاس: د لګښت موضع « ۵. ۶ »**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

**۷ کلاس: د نیم کاره او کار تمامو تولیداتو حسابونه**

- **سربیره:** په دې ځای کې دستګاوې او د کار هغه وسایل، چې په خپله په موسسه کې تولید شوي، د موسسې د تولیداتو برخې ـ د اخیستنو ترمیمات ، چې د ارزښت د لوړوالي لامل ګرځي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷۸ | تولیدات نیم کاره | | | | |
| ۷۹ | تولیدات کار تمام | | | | |
| ۷۸ | تولیدات نیم کاره | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

**۸ کلاس: د خرځلاو حسابونه:**

- پلورل شوي کارتمامه تولیدات، د بیکاره او بیرته گرځول شوو موادو پلورل، د تجارتي امتعې پلورل ـ د خرځلاو تنقیصات.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸۳ | د خرڅلاو حاصلات | | | | |
| ۸۵ | د تجارتي امتعې د خرڅلاو حاصلات | | | | |
| ۸۱ | د موجودۍ ودانۍ | | | | |
| ۸۹ | د تولیداتو د موجودۍ بدلونونه | | | | |
| ۸۶ | گټه او تاوان له درکه | | | | |
| . | لوړیدل یا د دغو اسنادو نرخ | | | | |
| . | همدارنگه د دې اسهامو د گټې تهیه | | | | |
| . | د فرعي معاملو حاصلات | | | | |
| ۸۶ | د فرعي معاملو حاصلات | | | | |
| ۸۷ | شخصي فعالیتونه | | | | |
| ۸۸ | دحاصلاتو تصحیح | | | | |
| ۸۸۰ | اضافي حاصلات | | | | |
| ۸۸۳ | د حاصلاتو تخفیف | | | | |
| | | | | | |

ketabton.com - The Digital Library

**سرچينې او مأخذونه:**

۱- يعقوب نماينده. داوود محمدي ، كال۱۳۸۲ مقدماتي صنعتي حسابداري « تخصصي »دايران چاپ
۲- عقوب نماينده، كال ۱۳۸۳تكميلي عمومي حسابداري  دايران چاپ
۳- يعقوب نماينده، د محمد رضا محمدي، ۱۳۸۳ پرمختللې عمومي حسابداري، دايران چاپ
۴- داكتر نيكو اقبال على اكبر كال ۱۳۸۷د سازمان او مديريت غوره كړل شوې نظريې د ايران چاپ
۵- دكتور هربرت (هيوشي ) ژباړونكی پوهنيار غلام ربانی ظهور – محاسبه
۶- پوهاند دكتور نذير احمد شهيدی – د محاسبې د څانګې لكچر نوټونه، اقتصاد پوهنځی، د كابل پوهنتون

ketabton.com - The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*